# د لنډیو پر ټټر باندې

# د کډوالۍ انځور

(د لنډیو ټولګه)

راټولونه، مقدمه او شننه:

آصف بهاند

د ۲۰۲۴ ام کال جنوري

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د لنډیو پرتېتر باندې د کډوالۍ انځور (د لنډیو ټولګه)

راټولونه، مقدمه او شننه: آصف بهاند

د خپریدو نېټه: د ۲۰۲۴ ام عیسوي کال جنوري میاشت،

د خپریدو ځای: افغان جرمن انلاین پورتال.

# د مطالبو فهرست:

١ ــ لومړنۍ خبرې، ۴ ام مخ

٢ ــ له افغان کډوالو سره د پاکستاني او ايراني
مسلح افرادو ظالمانه چلن: لوټ ـ تالان، سپکاوی
او په لنديو کې يې د انعکاس څرنګوالی ٩ ام مخ

٣ ــ د لنډيو پر تېر باندې د کډوالۍ انځور
د لنډيو متن ٨۵ ام مخ

۴ ــ د ليکوال پېژندنه. ١٩١ ام مخ

## لومړنۍ خبرې:

زموږ دوه ګاونډیان (ایران ـ پاکستان) د تاریخ په اوږدو کې افغانانو او افغانستان ته داسې څه نه دي کړي چې په ښو سره یاد شي؛ تل یې د افغانانو لهپاره ستونزې زېږولې دي، وسلهوال او فرهنګي تېري یې وربانډې کړې دي او تل یې یوازې د خپلو موخو د ترلاسه کولو له پاره هغه څه کړي دي چې د مثبت کار او فکر پته یې څوک نهشي موندلای.

په تېرو پنځوسو کلنو کې چې زموږ پرهېواد باندې سره، شنه، سپین، تور بادونه راولګېدل او په ټولنه کې مو ګنشمېر بدلونه او ورسره ګنې ستونزې رامنځته شوې، د یادو ګاونډیو هېوادونو استخباراتي کړیو او د دوی نظامیانو له موقع نه په استفادې سره د ژوندانه په ټولو برخو کې هغه جفاګانې زموږ د وطن او خلکو په حق کې ترسره کړې دي چې بیخي د هېرېدو نه دي او زموږ وطن او خلک یې له هره اړخه ځپلي دي.

زموږ د وطن بدلونونو، زموږ بېوزلي هېوادوال هجرت ته اړ کړل او د دې هجرتونو په لړ کې په میلیونونه افغانان ایران او پاکستان ته هم ورغلل؛ کوربه هېوادونو ته دا موضوع لنګه غوا شوه او له افغان مهاجرو نه یې رنګارنګ استفادې پیل کړې، ان تر دې چې پاکستان په کې د اتومي وسلې خاوند هم شو.

په دې ورستیو څه باندې دووکلونو کې د ننه په افغانستان کې د نظامي ـ سیاسي بدلونونو په پایله کې یوځل بیا خلکو مهاجرت ته مخه کړه، دا ځل د افغانانو ورتګ چنداني د کوربنو په ګټه نه و، نو ځکه همدې دوو یادو ظالمو ګاونډیانو د افغانانو دلهایز شړل پیل کړل او هره ورځ یې په

زرګونو بېنوا او لاچاره افغانان اول لوټل او بيا يې د برید ترکرښې د افغانستان لوري ته وراړول.

د پاسنيو يادو شوو دلايلو له مخې ډېره سلنه افغانان د يادو هېوادونو د رنګارنګ ظلمونو او اوس له هره اړخه غیر قانوني راشړلو او لوټلو په دليل د خلکو په زړونو کې د دې هېوادونو په مقابل کې حساسیت او بدبيني رامنځته شوې ده.

پاکستاني لوړپوړي مقامات په ښکاره ناري وهي چې افغانان زموږ دوښمنان دي، نو څنګه به د افغان په زړه کې د دوی په مقابل کې بدبيني نه پيدا کېږي. د پاکستان د پوځ لوی‌درستیر عاصم منیر د دوه‌زره‌څلېریشتم میلادي کال د جنورۍ په څلېریشتمه (۲۰۲۴/۰۱/۲۴) د زده‌کونکو يوې غونډې ته داسې څه ترخولې رااېستلي دي چې له هېڅ‌ډول ډيپلوماتيک عرف سره اړخ نه لګوي. ده په رسمي ډول افغانستان د پاکستان دوښمن بللی دی. دا د هغه د خولې خبره ده:

**«کله چې د یوه پاکستاني وګړي د خوندیتوب او امنیت خبره کېږي، نو ټول افغانستان پرې رټل کېدای شي.»**

نو ځکه افغانان هرچېرې او هرکله د سیاسي بحثونو او عادي خبرو په ترڅ کې خپله بدبيني څرګندوي، خو په هنري بڼه چې تلپاتې کېږي هغه د فلکلور د لنډيو برخه ده چې د دواړو هېوادونو (ايران ـ پاکستان) د جفاګانو، ظلمونو، ناروا او... په باب خلک خپله بدبيني څرګنده‌کړې ده او دې موضوع هلته زورواخيست چې پاکستاني او ايراني مقاماتو د نړالو قوانینو خلاف د افغانانو ډله‌ايزه شړل پيل کړل او دا ناروا ترنن پورې دوام لري.

د افغانانو د ډلهایزې شړنې له پیل نه تر نن (۲۰۲۴/۰۱/۲۳) پورې کابو یو میلیون افغانان راشړل شوي دي.

په پښتو لنډیو کې له کډوالۍ نه نلېدل او خپل ویر او احساسات د لنډیو په بڼکلي او تنګ قالب کې په هنري بڼه انځورول او له نورو سره شریکول، ډېر پخوانۍ مخینه لري چې په دې لنډبحث کې خبرې نه پرې کېږي. د دې بحث ډېره سلنه معاصره کډوالي او په تېره له پاکستان او ایران څخه د افغان کډوالو راشړل او ورسره اوړندې ستونزې رانغاړي.

د دې ټولګې لنډۍ د یوه منفي ذهنیت په پایله کې تخلیق شوې دي او دا منفي ذهنیت افغانانو ته همدې دوو کوربه هېوادونه ورکړی دی. هرڅومره بدبیني او منفي ذهنیت چې په دې لنډیو کې رامنځته شوی دی، د کوربه هېواد د چارواکوو د ظالمانه چلند په پایله کې زېږېدلی او خلکو د ورسره شوو ناخوالو د انځورولو له پاره د لنډیو له قالب نه په استفادې سره د خپل زړه خبره په هنري بڼه ټولنې ته وړاندې کړې ده.

له ګاونډیو هېوادونو (ایران ـ پاکستان) څخه د راشړنې او د یادو هېوادونو د مسلحو افرادو له چلن څخه د رازېږېدلو ستونزو او موضوعاتو پورې اړوندې لنډۍ له هماغه پیل نه که له چا اورېدلې یا مې په میډیا کې لیدلې، نو راخوندي کولې به مې. په پیل کې مې د شلو لنډیو په اندازه له یوې شننې او تبصرې سره مل په میډیا کې خپرولې، کله چې زما د راټولو کړو لنډیو شمېر ترزرو لنډیو واوښت، نو مې هوډ وکړ چې دا لنډۍ به **«د لنډیو پرتېتر باندې د کډوالۍ انځور»** ترسرلیک لاندې د یوې جلا ټولګې په توګه خپروم. هغه تبصرې او شننې چې ما هره ورځ د همدې لنډیو د مقدمې توګه لیکلې او له لنډیو سره به مې خپرولې، ټولې د دې ټولګې په پیل کې رااخلم او بیا به د یادو لنډیو متن درنو لوستوکوته وړاندې کوم.

د لنډيو په دې ټولگه (د لنددیو پرتېر باندې د کډوالی انځور) کې، څه د پاسه زر (۱۰۰۰) لنډۍ راخوندي شوې دي.

د لنډيو په دې ټولگه کې ما داسې لنډۍ راخوندي کړې دي چې په هغو کې له وطن سره مينه، د هجرت ناخوالې، د غربت ـ کډوالۍ ستونزې او په پردي وطن او پردي چاپېرياِل کې د يوه وطنوړکي انسان ورکه شوې مينه، غوښتنې او له دې وطنوړکو سره، د مارډوله گاونډيانو (ايران ـ پاکستان) ظالمانه او غيرانساني چلندونه انځور شوي دي.

د دې ټولگې لنډۍ په يوه بڼه نه په يوه بڼه له جلاوطنۍ، پرديسۍ، مهاجرت، کډوالۍ او له يادو شيانو سره اړوندو ستونزو او په ځانگړې ډول د وطن له مينې سره تړاو لري او په تېره د دوو گاونډيو هېوادونو (ايران ـ پاکستان) د هغو ظلمونو د انعکاس هنداره ده چې يادو وطنو ته د افغانانو د مهاجرت په موده له دوی سره رنگارنگ ظلمونه او جفاوې شوې دي؛ په تېره د افغان کډوالو د راشړلو په موده کې له دوی سره شوي او همدا اوس رواني دي.

د دې ټولگې هره لنډۍ د کډوالو د ستونزو او ورسره شويو ظلمونو کيسې کوي او په هره لنډۍ کې د مهاجرت د لارو گودرونو کيسې او افسانې، ناخوالې او ستونزې کوکې وهي، دا يې څو بېلگې دي:

**نورې د هيچا کډې نه ځي**
**دا يو افغان دی کډې ښکته پورته وړينه**

**بدن مې تور شو، سوی سکور شو**
**پاکستاني پوليس مې هرپل زوروينه**

**د بېوطن حال رامالوم دی**
**که اسناد وي که نه وي ډار ورسره وينه**

**پردی وطن، پردی قانون دی**
**خواره نیستي ده، ټول وجود مې سوځوينه**

**د بل پر مټ ژوندون ښه نه وي**
**راځه چې لاړ شو خپل وطن خپل مو واکونه**

**ښه ده چې بیا وطن ته راغلم**
**د ایراني له «اشغال» خدای بېغمه کړمه**

**مورې د پښتو په مخه راغلو**
**تا پنجابي کړه، له وطن دې ويستمه**

**اوښکې دې مه بهوه یاره**
**هجرت دې ختم کړه، خندا خپله راځينه**

**وطن ته تګ لوی امتحان دی**
**خدای دې اسان کړي دغه سخت امتحانونه**

**ناپوه بدمرغه یم جانانه**
**اورې زما ده ټوپک نور پرې باروينه**

نورې کيسې او لنډۍ د کتاب په متن کې لوستلای شئ.

آصف بهاند
د ۲۰۲۴ ام کال جنوري ۲۳مه
هېدرسليف
ډنمارک

## له افغان کډوالو سره د پاکستاني او ايراني مسلح افرادو ظالمانه چلن: لوټ ـ تالان، سپکاوی او په لنډيو کې يې

## د انعکاس څرنګوالی

مهاجرت کومه نوې خبره نه ده، انسانان کله د طبيعت له جبر نه، کله د وحشي ځارويو له ويرې، کله د جګړې له اوره د تېښتې، کله د ښه ژوند د شرايط په لټه پسې او کله د نورو دلايلو له مخې له خپل کلي، کور، خپلوانو او عزيزانو څخه لرې شوي او رنګارنګ بدلونونه يې په ژوند او فکر کې رامنځته شوي دي.

په افغانستان کې د ورستيو پنځوسو کلنو په موده کې چې کوم سره، شنه، سپين او تور بادونه ـ توفانونه رااوتي دي، د هغو په بوربوښکيو کې په ميليونونه افغانان له خپلو مينو، نغريو، کلي، کور او وطن څخه بېځايه شوي دي او د نړۍ په هره خنډه کې خواره شوي دي. د افغانانو دغه حالت يو شاعر په شعر کې داسې انځور کړی دی:

افغانان کومه بيړۍ کې سپاره شوي
سم چې وخوځي، نازل شي بيا طوفان

نه يې کور، شته نه يې کلی، وطن وران دی
کچالو غونډي خواره په ټول جهان

نه يې کور شته نه يې لوری نه آدرس شته

## ســــــرګـــــردان د ورکـــــو لارو لارویــــــان

له رنګارنګ ظلمونو، د جګړې له سوځنده اوره د خلاصون په پار، د افغانانو لنډه منډه تر دوو ګاونډیو هېوادونو (ایران ـ پاکستان) پورې وه چې د مهاجرت په کلونو کې یادو هېوادونو د خپل وطن او اقتصادي حالت د رغولو په غرض اعظمي استفادې ورنه کړې دي؛ خو اوس داسې حالت راغلی چې همدا دوه په اصطلاح مسلمان ګاونډیان پر افغانانو باندې سور اور بل کړی دی او بېرته یې خپل وطن ته د تګ امر ورته کړی دی.

د پښتو فولکولوریک شعر لنډۍ، د کډوالۍ له کړاوونو او د کوربنو د رنګارنګ جفاګانو نه رامنځته شوي کړاوونه او فریادونه له هر هنر نه مخکې انځور کړي دي.

د لنډیو مقالو (لنډۍ، د ثبتولو ستونزه) په ځینو برخو کې د لنډیو د محتوا په باب د بحثونو په برخه کې یادونه شوې وه چې:

لنډۍ د پښتني فلکلور داسې یو قالب دی چې په ټولنه کې هر ډول ښه بد څه چې رامنځته کېږي، لنډۍ یې په خپله لمن کې رانغاړي، په خپل هنري رنګ یې رنګوي او بېرته یې لوستونکو ته وړاندې کوي.

په افغانستان کې د ۲۰۲۱ ام کال د نظامي سیاسي بدلونه په پایله کې زموږ مسلمان نما ، خو په عمل کافر ګاونډیانو (ایران ـ پاکستان) په ګډه سره په یوه خوله وویل چې افغان مهاجر دې بېرته خپل وطن ته ستانه شي او بده یې لا دا چې دا په زور ایستل او راشړل له ټولو نړیوالو قوانینو سره په مغایرت کې او له سپکاوي، زورنې او لوټ تالان سره مل پیل شول چې زموږ د مظلومو هېوادوالو د رواني او فزیکي زوروني سبب شول.

د همدغه ناوړه حالت په پایله کې زموږ ځینو وطنوالو خپل دردونه، رنځونه، زورونې، تاوانونه او... د لنډیو په قالب کې راڅرګند کړي دي. دې موضوع ته له هماغه پیل نه زما ورپام و او د یادو ستونزو په باب به مې تخلیق شوې لنډۍ راټولولې. دلته به یې څو بېلګې تاسو درنو لوستونکو سره شریکې کړم.

*****

د دې خبرې یادول اړین ګڼم چې په پښتو لنډیو کې پخوا تر دې هم داسې لنډۍ تخلیق شوې دي چې د پردیسۍ، مهاجرت، کډوالۍ او لرې وطنونو ته د مسافرت په باب دي. دا یې څو مثالونه دي:

پردی وطن دی، زړه مې تنګ دی
ما ته رخصت راکړه چې خپل وطن ته ځمه

پردی وطن پر هرچا غم وي
ما باندې شپې سبا کوي نه مې پرېږدینه

پر زړه به لویه تیږه کېږدم
له کلي کوره به یې ورو ـ ورو راصبرومه

ایران له افغان کډوالو سره څه کړي دي؟

په دې ورستیو کې د ایران او افغانستان چارواکو په تهران کې سره لیدلي دي او د نورو موضوعاتو ترڅنګ یې په فرعي ډول د مهاجرینو پر موضوع هم خبرې کړې دي. «د دغو لیدنو پر مهال طالب لوري له ایران څخه د افغان کډوالو د هغه چلند له امله، چې دوی غوره بللی، مننه کړې ده»؟

د دې رسمي خبرونو ترڅنګ، له افغان کډوالو سره د ایراني امنیتي کسانو د چلن په باب د میډیا دې سرلیکونو ته یوازې د نمونې په ډول پام وکړئ:

تاند:

«په ۶ میاشتو کې افغانستان ته له ایرانه د ۵۰۰ کډوالو د جنازو لېږد»،

تاند:

«ایران تېره اوونۍ ۲۰ زره افغان کډوال له خپلې خاورې شړلي»،

بيبيسي پښتو:

«ایران کې د سوځېدلي افغان فریاد؛ "لږې اوبه راوړه، سوځېدلی یم"»،

بيبيسي فارسي:

«"آوارگان افغان"، از بیدفاعترین اقشار اجتماعی در ایران»

تاند:

«ایراني ځواکونه افغان کډوال لوټي»

له دې ډلې په یوازې د هغه رپوټ یوه برخه راواخلم چې ایراني امنیتي ځواکونو د بېوسه افغانانو د سورلۍ پر موټر ډزې کړې، د څو تنو کډوالو د تېې کېدو تر څنګ یو کډوال سوځېدلی دی او په چیغو، چیغو سره یې ویلي چې: «کمی_آب_بیار_که_سوختم یا لږې اوبه راوړه، وسوځېدم.»

دا هم د یاد رپوټ ځینې برخې:

«په ايران كې د افغانستان سفير عبدالغفور لېوال چې په يزد ولايت كې د افغان كډوالو يوه ګاډي سوځېدو پېښې ځېړنې لپاره دغې سيمې ته تللى و ، په يوه ويډيويي پيغام كې وايي، ايراني چارواكو منلې چې د كډوالو پر دغه ګاډي يې ډزې كړې...

كابل مېشتې د بشري حقونو فعالې فرحناز فروتن د ځينو نورو ټوېټر كاروونكو هغه ټوېټ بدرګه كړى چې د ايران د بهرنيو چارو وزير جواد ظريف پكې مخاطب شوى او ورته ليكلي يې دي چې، 'په دغه سوځېدوونكي ګاډي كې جارج فلوېډ ليدل شوى دى. ته څه پكې وايې؟'

دغه ټوېټ ظاهراً د جواد ظريف د هغه ټويټري پوسټ په ځواب كې كنايه ښكاري چې په امريكا كې د وروستيو لاريونونو په هكله يې ليكلي وو، "ځينې فكر كوي، د تورپوستو ژوند ارزښت نه لري. چا ته چې ارزښت لري، ټوله نړۍ لا ډېر وخت لري چې د توكمپالنې پر ضد ودرېږي.'

په برتانيا كې افغان فعالې پېمانې اسد هم د جواد ظريف هماغه ټوېټ بېرته خپور كړى او ورته ليكلي يې دي چې نورو ته د توكمپالنې يا رېسېزم په اړه د درس وركولو پر ځاى ځان په دې "هوښيار" كړه چې ايران كې څنګه لږكي وژل كېږي...

خو ځينو بيا د "افغان وژنې" په اړه د غږ اوچتولو خبره كړې او د AfghanLivesMatter# يا د افغان ژوند ارزښت لري، هش ټېګ كارولو سره يې په ايران كې له افغانانو سره كېدوونكى چلند غندلى دى. دا هش ټېګ هم اوس په امريكا كې د روانو لاريونونو له BlackLivesMatter# يا د تورپوستو ژوند ارزښت لري، سره يو ځاى كارول شوى.

دا يوازېنۍ پېښه نه ده چې د افغانانو غصه يې پارولې، د شاوخوا يوې مياشتې په اوږدو کې دا دوېمه بوږنوونکې پېښه ده چې په ايران کې يې افغان کډوال ښکار کېږي. خو پر خواله رسنيو يې غبرګون توپير سره لري.»

دغه راز د پاکستان هغه پاليسي چې افغان کډوال بايد په زور له پاکستان نه وايستل شي، د افغانانو او نړيوالو له انتقادونو سره ـ سره، په شدت د تطبيق په حال کې ده، چې ټول نړيوال يې ننداره کوي.

د دغو دوو مسلمان‌نما ګاونډياو د ظلمونو په وجه ښايي په زرګونو لنډۍ تخلق شوې وي او په هغو کې پر کډوالو باندې د شويو ظلمونو څرنګوالی په کې په هنري ډول انځور شوی وي، لږې لنډۍ به ميډيايي شوې وي او نورې به لا د تخلق‌کوونکو د زړونو پر سرونو باندې لکه د درد پولۍ ولاړې وي. په دې لړ کې هغه لنډۍ چې ما اورېدلي دي او يا مې په ميډيا کې له نظره تېرې شوې وي، را ټولې کړې مې دي چې ورو ورو به يې درنو لوستونکو ته وړاندې کوم.

*****

مهاجرت، بېځايه کېدل،، لېږد او له خپل کلي کور نه په نورو ډولونو بلې خوا ته تلل، يوه پخوانۍ ستونزه ده چې انسانانو له ډېرو پخوا زمانو څخه ورسره مخ شوي دي. په دې لړ کې افغانانو هم د بېلابېلو دلايلو له مخې د جلاوطنۍ تريخ جام څکلی دی او د پرديو وطنونو د مجبوريتونو په جال کې لوېدلي دي.

ښاغلي ډاکتر محب زغم په همدې ځو نږدې تېرو ورځو کې د «ولې خلک له هېواده تښتي؟» ترسرلیک لاندې یوه لنډه مقاله خپره کړه چې زه یې د موضوع د مهموالي په پار دلته رانقلوم:

«افغانان په مختلفو دلیلونو وطن پرېږدي او نورو ملکونو ته پناه وړي. په دې کې ځیني خلک واقعاً دلته ستونزه لري او د سر غم اخیستي وي خو ځیني نور بیا په نورو دلیلونو مهاجرت ته زړه ښه کوي.

د واقعي دلیلونو په سر کې ناامني ده. ځيني خلک د ناامنۍ له عامې ښې ځورېږي چې د ټولو افغانانو په زړونو کې یې اندېښنه اچولې ده. ځانمرګي بریدونه، چاودنې، راکټ او نورې پدیدې د هر افغان ژوند ګواښي نو په دې حساب هر څوک د وطن پرېښودو ته یو نسبتاً موجه دلیل لري او په دې حساب څوک نه شو ګرمولای. هر سهار چې اولادونه ښوونځي، پوهنځي، کار یا بل ځای ته ځي، د هر مور و پلار زړه تر هغې ناکراره وي چې اولاد یې بېرته صحیح سلامت کور ته ستانه شي. ټول وېرېږي چې که خدای مه کړه چېرته ځانمرګی برید وشي، د دوی اولادونه ورنه وانه خلي.

ځینو ته بیا په خاصه توګه د سر خطر وي. هغه کسان چې له بهرنیانو سره یې دندې ترسره کړې دي، د دولت په امنیتي ځواکونو کې پاتې شوي دي، په لوړو دولتي پوستونو کې یې کار کړی دی او یا یې په رسنیو کې د طالبانو خلاف ویناوې او لیکني خپرې کړې دي، په دې وېره کې وي چې که د طالبانو لاس ته ورشي نو مرګ به یې حتمي وي. دوی اکثراً له لویو ښارونو نه وځي او کلیو بانډو ته سفر نه شي کولای. د کندوز د ښار سقوط، د ډېرو خلکو په زړونو کې دا وېره اچولې ده چې ګوندې د دوی ښار به هم یو وخت د طالبانو لاس ته ولوېږي.

ځينې خلک چې يو څه شتمن او د نوم خاوندان دي، بيا د مافيايي ډلو له خوا ګواښ احساسوي. نن سبا د وطن ډېر تاجران او پانګه وال ترکيې، دوبی، هندوستان او نورو هېوادونو ته کډې وړې دي چې د اختطافچيانو له شره په امن کې وي. سره له دې چې دولت د اختطافچيانو ځينې مهمې ډلې له منځه وړې دي خو بيا هم د انسان تښتونې پېښې ډېرې دي. بده خو لا دا چې ان د لوړ پوړو دولتي چارواکو خپل خپلوان يا پخپله دوی هم د پيسو په بدل راخوشي کېږي او مافيايي ډلو ته يو ډول باج ورکول کېږي. دا څو شپې مخکې سږي تښتوونکو د کابل يو مشهور ډاکتر له اوږدې مودې وروسته راخوشی کړ چې د خلکو په وينا درې لکه ډالر يې له کورنۍ څخه اخيستي دي. د زلمکي اباسين تښتوونې او وژنې خو عام خلک هم ډارولي دي ځکه هغه نه د کوم چارواکي زوی و، نه کوم تاجر يا پانګه وال يانې دا خطر هر چا ته متوجه دی.

د هغو کسانو شمېر هم کم نه دی چې له عمومي ناامنۍ ورهاخوا بل هېڅ خطر ورته نشته خو دوی بيا د ښه اقتصاد، ښه ژوند او عيشونو په خاطر غواړي اروپا ته لاړ شي. په دې ډله کې ځينې داسې بې استعداده کسان شته چې نه يې سم تعليم کړی دی، نه يې کوم کسب زده کړی او نه يې د خپل ژوند د ښه کولو لپاره څه کړي دي. يقيني خبره ده چې دوی به په اروپا کې هم د نېکمرغۍ څرک ونه ويني او ټوله ورځ به شاقه او ټيټ کارونه کوي.

ځينې کسان بيا د خپلو خلکو له ټيټو اخلاقو ځورېږي او غواړي داسې ځای ته لاړ شي چې څوک په چا کار نه لري او د هر انسان انساني کرامت خوندي وي. زموږ د ټولنې اخلاق ډېر راپرځېدلي دي. دلته بې نزاکتي، بې ادبي، بدمعاشي او د نورو پر شخصي حريم د تجاوز چارې عامې دي. ځينې خلک دا شيان نه شي زغملای او د غواړي په متمدنو ټولنو کې ژوند وکړي خو په دې به نه وي خبر چې په نورو ټولنو کې به د هويت له

بحرانه ځورېږي او کله چې نور ورته د مهاجر په سترګه ګوري، پر ده به څه تېرېږي.

سیالي هم د ځینو لپاره یو دلیل دی چې باید غربي ملکونو ته لاړ شي. که د چا تربور یا بل رقیب په اروپا کې وي، دی هم هڅه کوي چې ځان وباسي او له تربوره وروسته پاتې نه شي.

نهیلي او نامعلوم راتلونکی یو بل مهم دلیل دی چې خلک د وطن پرېښودو ته اړ باسي. اکثره ځوانان خپل راتلونکی دلته ښه نه ویني. دوی مطمین نه دي چې جنګ به کله ختمېږي او سوله به کله راځي؟ دوی په دې نه پوهېږي چې د وطن اقتصاد به کله سم شي؟ ډېر خلک اوس پر نړی والو بې باوره شوي دي ځکه چې د ترهګرو په ځپلو کې صادقانه هڅې نه کوي، په پاکستان کې د طالبانو او نورو ډلو مرکزونه له منځه نه وړي، له افغان امنیتي ځواکونو سره پوره مرسته نه کوي ... نو دوی ته د وطن سبا تته او بې خونده ښکاري. له بلې خوا په کور دننه سیاسي ناندرۍ، د واک پر سر د رهبرانو اختلافونه، د کړیو ژمنو نه پوره کول، کله نا کله د جهادي ډلو ډاروونکې خبرې چې ګوندې بیا به وسله اخلي

دا ټول هغه څه دي چې د خلکو په ذهنونو کې د تظیم واکۍ او طالب شاهۍ وختونه تداعي کوي. ښکاره خبره ده چې هېڅوک نه غواړي هغه ترخې تجربې بیا ووینې.»

ځومره چې افغانان نو د هجرت په چاپېریال کې د جلاوطنۍ لړمانو چیچلي دي او زجرونه یې لیدلي دي، د دغو دردونو د انعکاس تر ټولو ښه هنداره یې لنډۍ ګڼلې ده او د همدې لنډۍ په قالب کې درد رسېدلو خلکو د خپلو زړونو بړاس ایستلی دی.

*****

د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو خیریه مؤسسو له غوښتنو سره ـ سره پاکستاني او ایراني مقاماتو د افغان مهاجرو د په جبر ایستلو لړۍ نه یوازې دا چې ونه دروله، بلکې نوره یې هم کړندۍ کړه. همدې ظالمانه لړۍ پورې اړوند د میډیا څو سرلیکونو ته پاملرنه وکړئ:

بيبيسي پښتو:

«له پاکستانه د ټولو افغانانو د ایستلو مهالوېش اعلانیږي»

تاند:

«د پاکستان ولسمشر: افغان کډوالو پاکستان کې د کلاشینکوف کولتور عام کړ»

بيبيسي پښتو:

«د ماشومانو د خوندیتوب نړیواله اداره: له پاکستانه ستانه شوي کډوال د ناروغیو د لوړې کچې له ګواښ سره مخ دي»

تاند:

«ایران وایي، په ۳ میاشتو کې یې څلور نیم لکه افغان کډوال ایستلي»

د همدې رپوټونو په لړ کې د پاکستني مقماتو د کړنو په باب داسې څه راوړل شوي دي چې له هېڅ ډول نړیوالو قوانینو سره اړخ نه لګوي. دا هم د یادو رپوټونو یو لنډه برخه:

«پاکستان وايي په شپږو اوونیو کې به له خپلې خاورې د ټولو افغان کډوالو د ایستلو مهالوېش اعلانوي. په کوټه کې د بلوچستان د اطلاعاتو وزیر جان محمد اڅکزي یوې خبري ناستې کې وویل چې تر جنوري

پورې به ټول بې اسنادو افغانان افغانستان ته استوي او له هغه وروسته به د نورو د وتلو وخت په ډاګه کېږي.
پاکستان تر دې دمه د ټولو افغان کډوالو د ایستلو په تړاو دومره ښکاره خبرې نه وې کړې.
اوس وايي، د جنوري په میاشت کې به يې د ایستلو لپاره مهالوېش اعلانوي او دلیل يې دا بولي چې په افغانستان کې کورنۍ جګړه ختمه شوې ده.
په کوټه کې د جمعې په ورځ (د نومبر ۱۷ مه) خبري ناستې ته د خبرو پر وخت د بلوچستان د اطلاعاتو وزیر جان محمد اڅکزي د افغان کډوالو د ایستلو په تړاو خبرو کې په بیا بیا د هغو وسله والو خبره هم کوله چې ده پاکستاني ترهګر بلل او ویل يې د افغانستان له خاورې پر دوی بریدونه کوي...»

پاکستاني مقامات د دې غیردیپلوماتیکو او غیر انساني څرګندونو په شېبه دا نه وايي چې دوی څوکاله، څومره ترهګر د افغانستان د خلکو د وژلو لپاره او د افغانستان د ورانولو لپاره لېږلي دي؟
د مهاجرت په دې ستونزمنو حالاتو کې ګڼې لنډۍ تخلق شوې دي چې د افغانانو د رنځونو ښه نقاشي يې ګڼلی شو.

*****

د سیاسي، نظامي بدلونونو په پایله کې لومړنی متضررين عام بيوزله خلک دي او حتی د موسم د بدلون په وخت کې هم عام بېوزله خلک نه شي کولای په سمه توګه د خپلو کورنیو اړتیاوې په اوسني حالت کې سمې تنظیم کړي.

له یوې خوا سخت ژمی راروان دی او له بلې خوا زموږ د ظالمو ګاونډیانو د ډېر تېنګار په اثر؛ زموږ ډېر شمېر هېوادوال بېرته وطن ته راستانه شوي دي او دا لړۍ اوس هم روانه ده؛ په دغسې يو تنګسه کې چې سرپناه نه وي، کار نه وي، بل کوم

عايد هم نه وي، نو خود به د افغانستان ټولنه يوبل بشري ناورين ته سترګې پرلاره وي.

اوس تازه ملګرو ملتونو اندېښنه څرګنده کړې ده چې «د ژمي په درشل کې د کډوالو ستنول به افغانستان کې روان بشري کړکېچ لا پراخ کړي»

د بي‌بي‌سي په يوه تازه رپوټ کې د پاسنۍ يادې ستونزې په باب داسې راغلي دي:

«د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو لويې کمشنرۍ (يو اېن اېچ سي ار) اندېښنه ښودلې چې د ژمي په رانژدې کېدو د لوی شمېر کډوالو ناڅاپي ستنېدل به افغانستان کې بشري کړکېچ چې له وړاندې د نړۍ په کچه له لويو بشري کړکېچونو بلل کېږي، لا پراخ او ژور کړي.

يو اېن اېچ سي ار ويلي د پاکستان له اعلانه را پدېخوا څه باندې درې نيم لکه افغان کډوال افغانستان ته ستانه شوي. او د اټکل له مخې شاوخوا يو نيم ميليونه نور افغان کډوال چې د اوسېدو سند نه لري پاکستان کې پاتې دي. پاکستان ويلي تر راتلونکې جنوري مياشتې به ټول ناقانونه کډوال ايستل کېږي.

خو د ملګرو ملتونو د کډوالو لويه کمنشرۍ وايي د دې شمېر کډوالو ستنېدل به افغانستان کې د استوګنې، عامه خدمتونو او دندو برخو کې پر شته لږو امکاناتو فشار ډېر کړي.

د ملګرو ملتونو د دې ادارې له نظره بله ستونزه د مرستندويه نړيوالو بنسټونو د امکاناتو بېخي کموالی دی، افغانستان کې له مېشتو بېوزلو او هرات کې زلزلو ځپلو سره د مرستې بار لا هم د دوی پر اوږو پروت دی.

افغانستان کې د کډوالو ادارې استازي ليونارډو زولو له قوله په دې بيان کې ويل شوي د دومره لوی شمېر کډوالو ستنولو لپاره دا تر ټولو بد وخت دی. ده ويلي افغانستان کې شته بشري مرستو ته په کتو راتلونکی ژمی به ډېر سخت او دوی به له ډېر کړاو سره مخامخ شي.

يو اېن اېچ سي آر ويلي د طالبانو اداره او نوروافغان خيريه بنسټونه کډوالو سره يو څه مرسته کوي خو راتلونکې لويې ننګونې په مخ کې پرتې دي.

پاکستان تر اوسه د نړیوالو خبرداري او اندېښنې له پام غورځولي او ټینګار يې کړی چې ناقانونه کډوال به خامخا په زوره ستنوي.

خو په کور دننه د پاکستان لندمهالي حکومت دا پرېکړه چې شنونکي وايي اصلي محرک يې د "پاکستان پوځ" دی، تر نيوکو لاندې ده...»

په دومره لوی شمېر سره افغانستان ته د کډوالو بېرته شړل که د نړیوالي ټولنې له خوا په سمه توګه مديريت نه شي، ښايي داسې نورې ستونزې وزېږوي چې د نړۍ هرې څنډې ته به يې منفي تاثيرات ورسېږي. د همدغو ستونزو نقاشي په پښتو لنډيو کې هره ورځ روانه ده، خلک خپل دردونه او رنځونه د لنډيو په قالب کې په هنرمندانه ډول انځوروي او بېرته يې ټولنې ته وړاندې کوي.

*****

د پاکستان له سياسيونو او نظاميانو نه چې د خپلو تېروتنو په اړوندو کې لار ورکه شي، بيا نو لکه تل خپل کرايي مذهبيون ـ ملايان راټولوي او د خپلو ترسره کړو تېروتنو باوجود د هغوی د تائيد مهر هم غواړي. د ۲۰۲۳ ام کال د نومبر پر اتلسمه د پاکستان يو نظامي مقام دا کرايي ملايان راټول کړي وو او هغوی هم په يوه خوله د افغان مهاجرو د په زور شړلو کومه پرېکړه چې پاکستاني مقاماتو کړې او د عملي کېدو په حال کې ده، تائيد کړه. په دې باب د تاند په يوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«تاند(شنبه، د عقرب ۲۷مه) د پاکستان سلګونه ملايانو د دغه هېواد د پوځ مشر عاصم منير سره د ليدنې پر مهال د افغانانو خلاف د خپل حکومت د کړنو ملاتړ کړی.

د پاکستان د پوځ په يوه اعلاميه کې راغلي، چې د دغې ليدنې پر مهال پاکستاني ملايانو د افغان کډوالو د ايستلو، په پاسپورټ د تګ راتګ او

هغو ناقانونه کړنو خلاف چې افغان کډوال پرې تورن شوي،د حکومت د کړنو ملاتړ کړی.

په کابل کې د طالبانو واکمن رژیم، چې د پاکستان ملایانو ته خاص عقیدت لري، په دې اړه څه نه دي ویلي.

د پاکستان ملایان تورن دي چې قاطع اکثریت یې د دغه هېواد د بدنامې استخباراتي شبکې اجیران دي او تل یې په افغانستان کې د دغې شبکې د سیاستونو د تطبیق لپاره له اسلامي احکامو ناسم تفسیر او استفاده کړې ده.

دا په داسې حال کې ده، چې د طالبانو ګڼ لوړپوړي چارواکي د دغو ملایانو د مدرسو شاګردان پاتې شوي او لا هم مهمې مشورې او اړیکې ورسره پالي.

یو شمېر افغانانو د طالبانو رژیم ننګولی، چې که ریښتیا خپلواک او د پاکستان تابع نه وي، له دغه هېواده دې خپلې کورنۍ وطن ته انتقال او پاکستاني مدرسو سره اړیکې پرې کړي.»

د همدغو ملایانو تېرنسل په افغانستان کې د جهاد فتوی هم صادره کړې وه او په پیل کې د همدې ټوپکي ډلو د مشرانو په غونډه کې داسې شعارونه لیکلی وو چې ټول د افغانستان په ضرر وو.

او اوس د هماغو ملایانو بل نسل فتوی صادروي چې په داسې کړکیچن حالت کې دې دا خوار او مظلوم مهاجر وشړل شي. دا د پاکستان د اسلامي ورورولۍ او اسلامي ګاونډیتوب ډېره ښه بېلګه کېدای شي، نو وطنوالو د پاکستاني سیاسیونو، نظامیانو او ملایانو د پرېکړو او فتواوو

په باب باید خپله ځان پوه کړئ او نور لږ ځان راپه سد کړئ. ډېر ځلې همدا حالت په لنډيو کې ډېر ښه ښودل شوی دی.

*****

په تېرو وختونو کې کې چې په ګاونډیو هېودوادنو کې د افغان کډوالو شتهوالی د کوربه ګاونډیانو لهپاره د لنګې غوا ښه درلوده، په خورا مینه، چالاکۍ او مکر سره یې له هغو نه هراړخیزه استفاده کوله. له یوې خوا یې له نړیوالې ټولنې په میلیونونه ډالر ترلاسه کول، له بلې خوای یې همدا مهاجر د دوی د ناپوهۍ په وجه د نیابتي جنګیالیو په ډول کارول؛ خو اوس چې په یادو هېوادونو کې افغان کډوال د دوی پخوانۍ غوښتنې نه شي پرځای کولای او نړیواله ټولنه هم څه نه ورکوي، نو د رنګارنګ پلمو له مخې یې بېرته له خپلو هېوادونو څخه د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف افغانستان ته ورشړي.

د ګاونډیانو (پاکستان ـ ایران) بله جفا او ستر خیانت دا دی چې دوی د یادو شړل کېدونکو کډوالو په ډله کې لکه تل خپل جاسوسان د افغانانو په نامه زموږ هېواد ته رالېږي او د خپلو راتلونکو پلانونو د تطبیق په پار یې زموږ په هېواد کې ځای پرځای کوی. دا یو اوږد شوم پلان دی چې کلونه ـ کلونه به یې ضرر زموږ د هېواد ځو نسلونه او ملي ګټې تهدیدوي.

*****

پر افغانانو باندې د بېرته شړلو کومه طریقه چې زموږ دوو لړم ډوله ګاونډیانو (ایران ـ پاکستان) راپیل کړې ده، د بشریت په تاریخ کې به ساری ونلري. دا طریقه دومره ظالمانه ده چې هم یې وهي، هم یې کور وروړانوي، هم په سپکاوي چلن ورسره کوي او هم یې داسې لوټي چې لا جبخرڅ هم نه ورپرېږدي.

داسې ویل کېږي چې په ایران او پاکستان کې له افغانانو سره د ظلم کولو دا لړۍ ترهغو پورې غځیږي، چې ټول اسناد لرونکي او بې اسناده راوشړي. د پاکستان د بلوچستان د اطلاعاتو وزیر ویلي دي چې تر دوو میاشتو به یو میلیون بهرنیان له پاکستانه و ایستل شي. بيبيسي پښتو په یوه تازه رپوټ کې د دې موضوع په باب داسې لیکلي دي:

«پاکستان کې د بلوچستان اطلاعاتو ایالتي وزیر جان محمد اڅکزی وايي، د غیر قانوني بهرنیانو ایستلو عملیاتو دویم پړاو پیل شوی دی.

ښاغلي اڅکزي په مرکزي ښار کوټه کې یوې خبري غونډې ته وویل: "په دویم پړاو کې تر اوسه پورې نژدې دوه زره غیر قانوني کډوال نیول شوي او له هېواده ایستل شوي دي."

د بلوچستان اطلاعاتو سرپرست وزیر زیاته کړه: "هېڅ یو غیر قانوني کډوال به نه پرېښوول کېږي، د درولو او تالاشۍ پر پالیسي هم کار روان دی، د دې له مخې امنیتي ځواکونو کسان د هر چا د پېژندګلوۍ اسناد کتلای شي."

نوموړي وویل، د جنورۍ میاشتې تر پایه پورې به تر یو میلیون پورې هغه بهرنیان له پاکستانه وشړل شي، چې په وینا یې په غیر قانوني توګه په دې هېواد کې مېشت دي.

جان محمد اڅکزی وايي، تر اوسه پورې د کوټې له لارې له پاکستانه د وتلیو کډوالو شمېر ۱۲۰ زره کسانو ته رسېږي.

نوموړي دغه راز وویل، دوی ته معلومه شوې، چې نژدې دوه سوه زره بهرنیانو جعلي شناختي کارتونه (پاکستاني تابعیت کارتونه) جوړ کړي دي او دوی په دې هکله تحقیقات پیل کړي دي.

د بلوچستان اطلاعاتو وزیر وايي، د دوی معلومات ښيي، چې په بلوچستان ایالت کې داسې یو میلیون بهرنیان مېشت دي، چې پاکستان کې د اوسېدو قانوني اسناد نه لري.

د بلوچستان د اطلاعاتو وزیر جان محمد اڅکزي له دې مخکې (نومبر ۱۷مه) ویلي و، چې تر جنوري پورې به ټول بې اسنادو افغانان افغانستان ته استوي او له هغه وروسته به د نورو د وتلو وخت په ډاګه کېږي.

جان محمد اڅکزي په کوټه کې یوې خبري غونډې ته ویلي و: "موږ د ټولو بهرنیو ناقانونه کسانو د ایستلو تابیا کړې ده، له هغه وروسته به د ټولو افغانانو د ستنېدو خبره وي."...»

بل مار ته ورته ګاونډي ایران تر دې بد حالت پر مهاجرو افغانانو باندې راوستی دی، خو هغوی دومره چلول نه کار اخلي چې ډېری خبرې نه میډیايي کوي. له ایران او پاکستان نه په دې وخت کې په دومره شمېر د افغانانو راشړل دا مانا رسوي چې دوی افغانان ترخوږ ګوتې رانیولي دي او دومره یې زوروي چې کوکې یې تر اسمانونو پورې رسي، خو غږ یې هېڅوک نه اوري.

*****

د افغانستان و مهاجرو په باب د ګاونډیانو د نویو تصمیمونو له مخې لیدل کېږي چې حالت ورځ تر بلې مخ په خرابېدو دی او دوی د ټولو نړیوالو منل شوو نورمونو پرخلاف یو خوا مهاجر افغانان پرته له خوښې بېرته خپل هېواد ته شړلي او له بلې خوا د کوربه هېوادونو پولیس، مسلح افراد، ملیشه، سپاه‌پاسدران او حتی د دوی استخبارات له

مهاجرو سره ناوړه چلن کوي داسې چې له انساني کرامت نه لرې پېښې هم پهکې لیدل شوې دي.

له دې سربېره څوځلې د خبرداري په ډول ویل شوي دي چې: له پاکستان او ایران څخه شړل کېدونکي مهاجر په خپل وطن کې د اوسېدو لهپاره کورونه او نور امکانات نه لري، خو ایراني او پاکستاني مقامات هېڅ ډول خبرو ته غوږ نهږدي او له یو بل سره په همغږۍ کې یې د افغانانو د بېرته ستنولو مسابقه پیل کړې ده.

د بيبيسي په يوه تازه انلاين کړي رپوټ کې دې موضوع ته داسې اشاره شوې ده:

«د ملګرو ملتونو سازمان خبرداری ورکړی، چې هغه ډېری افغانان چې په دا وروستیو کې له پاکستانه ایستل شوي، مېشت ځایونه نه لري او د ژمي په اوږدو کې به د خوړو موندلو لپاره له ستونزو سره مخامخ شي.

هسياو وي لي چې د خوړو نړيوال پروګرام کې د خوراک څانګې مشر دی او دا وروستیو کې یې ډېورنډ کرښې ته نژدې سفر کړی وايي، هلته ستړې او وږې کورنۍ رسېدلې دي. دی وايي، دا خلک اړ شوي په داسې وخت کې افغانستان ته سفر وکړي، چې د کال تر ټولو ناوړه موسم بلل کیږي.

په ورته مهال د پاکستان د کورنيو چارو وزير سرفراز بګټي وايي، تر راتلونکې یوې میاشتې به ټول هغه افغان کډوال له پاکستانه وایستل شي چې دغه هېواد کې د اوسېدو قانوني اسناد نه لري.

په داسې حال کې چې د کډوالو اړوندو او نورو نړیوالو بنسټونو له پاکستانه غوښتي چې د افغان کډوالو په زوره ستنولو پرېکړې په اړه له سره غور وکړي، د دغه هېواد د کورنیو چارو وزارت چارسمبالي سرفراز بګټي د ټولو ناقانونه افغان کډوالو د ایستلو په اړه د یوې پوښتنې ځواب کې وویل د ناقانونه کډوالو د ایستلو لړۍ به د یوې میاشتې په موده کې بشپړه شي.

پاکستان وایي د ناقانونه کډوالو بهیر بشپړېدو وروسته به هغه کډوال هم ستنېږي چې دغه هېواد کې د کډوالو په توګه راجسټر شوي دي. په همدې اړه د انډيپنډنټ اردو څانګې د یوې پوښتنې په ځواب کې د کورنیو چارو وزارت چارسمبالي سرفراز بګټي وویل افغانستان کې امن دی او ټول افغان کډوال باید بېرته ستانه شي.

نوموړي وویل، "هغه کسان چې د نا امنۍ له امله د بشري اړتیاوو له مخې دلته راغلي - په دې اړه موږ د ملګرو ملتونو له کډوالو ادراې سره یو تړون هم لرو،- دوی دې بېرته ولاړ شي ځکه هلته اوس امن دی. پاکستان د پاکستانیانو لپاره دی. "...»

پاکستاني او ایراني مقامات وایي چې د دوی هېوادونه د دوی د اطباعو لهپاره دي، نه د افغانانو لهپاره. دوی اوس پر دې خبره پوه شول چې افغانان تر ډېرو قربانیو وروسته په دې په شوي چې د نورو لهپاره نیابتي جګړه نه کوي او خپله وینه نه تویوي، د همدې دلیل له مخې یې نور افغان مهاجر نه دي په کار.

دا چې ګاونډیان زموږ له مجبورو هېوادوالو سره څه کوي، دا هرڅه د تاریخ په پاڼو کې ثبتېږي، دا ستونزې به هم زموږ هېودوال وزغمي. زه فکر کوم چې په ایران او پاکستان کې ټول میشت کډوال که بېرته وطن

ته راستانه شي ښه به وي چې موږ د دوارو هېوادونو له دایمي بار او پېغور نه راخلاص شو او د افغانستان ترتيبږي لاندې لاس به راازاد کړای شي.

*****

دا د یوې امریکایي ډیپلوماتې «وندی شرمن» خبره ده چې غولول او تېرايستنه، د ایرانیانو د ډي‌ان‌ای یوه برخه ده. یادې ډیپلوماتې داسې ویلي وو:

"فریب و نیرنگ قسمتی از دی اِن اِی (DNA) ایرانیان است."

د همدې واقعیت له مخې د ایرانیان هرڅه له دروغو او تقلب سره مل وي. له افغان کډوالو سره د چلن، د افغان کډوالو وهل ـ ټکول ـ لوټل او وژلو کې هم دوی ډېره سلنه خبرې پټوي. پخوا لا لیدل شوي دي چې افغان کډوال اول وژني او بیا يې مړی د کورنۍ پرغاړو باندې خرڅوي.

له پاکستان او ایران څخه د افغانانو د شړلو پروسه ورځ تربلې کړندۍ او ظالمانه بڼه غوره کوي. په تازه رپوټونو کې ویل شوي دي چې یوازې د ایران د دوغارون بندر له لارې د پنځو ورځو په اوږدو کې شپاړس‌زره افغانان، افغانستان ته راشړل شوي، داسې چې د ناوړه چلن ترځنګ لوټل شوي او بیا راشړل شوي دي. د تاند په یو لنډ رپوټ کې داسې راغلي دي:

«تاند (سې شنبه، د قوس ۱۴ مه) ایراني چارواکو ویلي چې یوازې د دوغارون پولې له لارې يې تېرو ۵ ورځو کې تر ۱۶ زرو پورې افغان کډوال له خپلې خاورې شړلي.

د ایران یوه چاروا‌کي سردار مجید شجاع، د دغه هېواد تسنیم خبري اژانس ته ویلي چې دغه شړل شوي کډوال په ناقانونه توګه د ایران خاورې ته ننوتي وو.

هغه ادعا کړې چې ګڼ نور ناقانونه افغان کډوال هم له ایرانه اېستل شوي او دا لړۍ به دوام ولري.
دا په داسې حال کې ده چې ایراني چارواکو د دغه هېواد ۱۶ ولایتونو ته د افغان کډوالو پر ورتلو بندیز لګولی.

سربېره پر دې، له ایرانه خپل هېواد ته ستانه شوي افغانان د ایراني ځواکونو له ناوړه چلنده شکایت لري او وایي د وهلو ټکولو تر څنګ یې د دوی جیبونه لوټ کړي.

د طالبانو د کډوالو او بیرته راستنیدونکو وزیر خلیل الرحمان حقاني هم څه موده مخکې د افغانستان لویدیز ته چې ایران سره پوله لري، د سفر پر مهال د افغان کډوالو لخوا د داسې شکایتونو اورېدل تایید کړل...»

په دې ډول ایرانیان خپل ګاونډیتوب، هممذهبتوب او همژبتوب له موږ سره پالي. د متضررینو غږ څوک نه‌اوري، متضررین او کورنۍ یې کله، کله د لنډیو په قالب کې د زړه‌خبرې او شکایتونه تلپاتې کوي.

*****

له ګاونډیو هېوادونو نه د افغان کډوالو د شړلو په مسأله کې ډېرې داسې خبرې شته چې تراوسه زموږ د دوو ظالمو ګاونډیاو (ایران ـ پاکستان) له خوا ناښکاره پاتې شوې دی. کېدای شي پاکستان او ایران په همغږۍ سره د افغان کډوالو د شړلو پالیسي پیل کړې وي، په میډیا کې لیدل کېږي چې له افغان کډوالو سره د پاکستاني امنیتي کسانو چلن یوڅه

مېډيايي کېږي، سره له دې چې له ايران څخه هم د افغام مهاجرو د غيرقانوني او ظالمانه شړلو پروسه روانه ده، خو د ايراني امنيتي کسانو ناوړه چلن باندې ميډيا اغماض کوي. کله ـ کله يې رپوټونه ورکول کېږی چې ايراني امنيتي کسان ترپاکستاني امنيتي کسانو لا ناوړه چلن کوي. دا لاندې د تاند يو تازه رپوټ دی چې له افغان کډوالو سره د ايراني امنيتي کسانو د چلن په باب خبرې پهکې شوې دي:

«تاند(سې شنبه، د قوس۷ مه) په داسې حال کې چې د رسنيو او خلکو ډېر پام په پاکستان کې افغان کډوالو سره ناوړه چلند ته دی، په بل ګاونډي هېواد ايران کې هم له افغان کډوالو سره تاوتريخوالی او ناوړه چلند دوام لري.

هرات ته له دغه هېواد څخه تازه ابېتل شوي يو شمېر افغان کډوال وايي چې ايراني ځواکونو په اړوندو کمپونو کې وږي ساتلي، وهلي او ډبولي او له تېپي وجودونو سره افغانستان ته شړلي.
يو شمېر دغو کډوالو ځايي رسنيو ته دا هم ويلي چې ايراني ځواکونو د را شړلو پر وخت لوټ کړي او ټولې پيسې او شتمنۍ يې ورڅخه ابساري کړې دي.

په هرات کې د طالبانو د کډوالو اداري رئيس مفتي آدم خان سعيد تاييد کړې چې ايران افغان کډوالو سره ناوړه چلند کړی.

هغه د دغه چلند دليل، ايران ته په ناقانونه ډول د افغان کډوالو ورتګ ګڼلی.

افغان کډوالو نيوکه لري چې طالب چارواکي يې ستونزو ته پام نه کوي او برعکس ايران سره د خپلو سياسي اړيکو لپاره د افغان کډوالو پر وړاندې د ياد شوي هېواد چلند ستايي.

د طالبانو د رئيس الوزرا اقتصادي مرستيال ملا برادر اخوند تېره مياشت ايران ته د سفر پر مهال له افغان کډوالو سره د دغه هېواد چلند ستايلی و.

د طالبانو د کډوالو او بيرته راستنيدونکو چارو وزير خليل الرحمان حقاني بيا لويديزو ولايتونو ته د يوه سفر پر مهال ويلي وو چې له ايرانه ايستل شوي کډوال د ايراني ځواکونو د ناوړه چلند او ان د دوی د لوټ کيدو شکايتونه ورته کړي.

طالب چارواکو ايران سره او ان پاکستان سره د افغان کډوالو د ناوړه چلند په تړاو د خبرو يا بل کوم ممکن عکس العمل په تړاو څه نه دي ويلي.»

زموږ دا ياد ګاونډيان هرڅه چې کوي، د خپلو کړو ژمنو پرخلاف يې کوي، د نړيوالو قوانينو نه په سرغړونې يې کوي او دوی دې په ياد ولري چې د خلکو او تاريخ سترګو ته خاورې نه شي ورشيندلای.

*****

پاکستان او ايران دواړو پښې په خپلو موزو کې تخته کړې دي چې موږ له خپلو هېوادونو کډوال باسو، نه د نړيوالو قوانينو پروا ساتي، نه د ګاونډيتوب او اسلامي ورورولۍ فکر ورسره دی او نه يې په زړه کې رحم.

اوس چې په افغانستان کې کې ورځ ترېلې ساړه په ډېرېدو دي، دواړه هېوادونه غواړي چې د خپلو ناسمو او شومو موخو د ترلاسه کولو له پاره په افغانستان کې پرحاکمو طالبانو فشار راوړي.

ایران وايي چې باید ټولګډونه حکومت جوړ شي او اصلي موخه يې دا ده چې بیا د خپلو لاسپوڅو له پاره د افغانستان په اداري او سیاسي تشکیل کې ځای پیدا کړي او د شیعه‌مذهب د رسمیت زمینه مساعده کړي.

دغه راز پاکستان بیا ځانته غوښتنې لري چې هغه باید ترسره شي؛ خو عام افغانان له هره اړخه کړېږي. لوږه، بېکاري او په ځانګړي ډول د ساړه ژمي ستونزه او د سرپناه نشتوالی. دغې ستونزې ته په میډیا کې [داسې](#) اشاره شوې ده:

«تاند (دوشنبه، د قوس ۲۰مه) د ملګروملتو د کډوالو لویه کمیشنري وايي، هغه افغان کډوال چې له پاکستان څخه افغانستان ته استول کېږي، که د سرپناه مناسبه چاره يې ونه شي، ممکن د سخت ژمي په سړه هوا کې له ژوندې بې برخې شي.

د دې ادارې پر اساس، د اکتوبر له میاشتې را په دې خوا تراوسه نژدې ۵ لکه افغان کډوال له پاکستان څخه ایستل شوي.

د ملګروملتو د کډوالو د لویې کمیشنرۍ په وینا، له پاکستانه په زور د افغان کډوالو ایستلو پر افغانستان او په دغه هیواد کې پر مرستندویو موسسو فشار زیات کړی دی.

د دې ادارې د راپور له مخې، افغانستان ته په زوره د استول شویو کډوالو اکثریت زیانګالي ښځې اوماشومان دي چې د سرپناه د نشتوالي له کبله ممکن په ژمي مړه شي.

اکثره کسان چې د افغانستان خاورې ته رسیږي، سخت ستومانه وي او فوري مرستو ته اړتیا لري.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د موقت حکومت د کورنيو چارو وزير ادعا کوې چې تر ۹۰ سلنه څخه زيات افغان کډوال په خپله خوښه افغانستان ته تللي او هېڅ ډول زور زياتی ورسره نه دی شوی.

سرفراز بګټي وايي چې تر دې دمه شاوخوا ۴ لکه ۸۲ زره و ۸۴۵ د ده په خبره غيرقانوني کډوال د پاکستان له بېلابېلو پولو څخه بېرته افغانستان ته لېږدول شوي دي.»

د اوس لهپاره دواړه هېوادونه (ايران او پاکستان) د افغانستان د هراخيزو ګټو پرضد ولاړ دي، حاکم طالبان هم د اسلامي ورورولۍ او ښه ګاونډيتوب په نامه څه نه ورته وايي، د عامو خلکو له لاسه څه نه کېږي، يوازې د خپل زړه بړاس د ښېراوو او فولکوريکو لنډيو له لارې ترخولې وباسي.

*****

د پاکستان په ديرهٔاسماعيلخان سيمه کې د وروستي بريد په تړاو د پاکستاني مقاماتو غوښتني متن دا ښيي چې هغوی افغانستان او افغانانو ته د يوې خپلې مقبوطه سيمې په سترګه ګوري او داسې حکمونه کوي چې هلته يې لاس لاندې کاتبان ناست دي او له حکم سره سم به سمدستي اجرأت وشي.

د ډېرهٔاسماعيلخان درابن سيمه کې د پاکستان پر امنيتي ځواکونو د 'ترهګريز' بريد په اړه، تر بريد وروسته پاکستاني مقاماتو دا حکمونه د افغان مسؤلينو په ادرس صادر کړي دي:

«"د نني بريد پلټنه وکړي او د عاملانو پر وړاندې يې ټينګ ګام واخلي او دا بريد په لوړه کچه وغندي. د ټولو ترهګرو ډلو او د هغوی د مشرانو پرضد تاييد شوي ګامونه واخلي، د بريد عاملان او افغانستان کې

د ټي ټي پي موجود مشران دې پاکستان ته وسپاري او د پاکستان خلاف له افغان خاورې د ترهګرۍ لپاره د ګټې اخيستنې مخه ونيسي".»

په ميډيا کې افغانستان ته د راشړل شوو کډوالو له خولې د پاکستاني پوليسو د بد چلن راپورونه خپرېږي. بيبيسي پښتو کې دا رپوټ خپور شوی دی:

«... په ورته وخت افغانستان ته دېرى راستانه شوي کډوال د پاکستاني چارواکو په ځانګړې توګه پوليسو له بد چلنده سرټکوي. د کندز ولايت اوسيدونکی نېک محمد له همدې ډلې دی:

"په سخت ظلم او زور يې راوشړلم، ډېر کسان يې ونيول او زندان ته يې واچول، کارډونه ترې ايسته کړل او مات يې کړل. ښځې يې هم زندانيانې کړې".

د طالبانو حکومت کې د کډوالو او بېرته ستنېدونکو چارو مرستيال وزير عبدالرحمان رشيد د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو ادارې يو اين ايچ سي ار له مشرانو سره په ناسته کې له پاکستانه د افغان کډوالو په زور ايستل له نړيوال قانون سرغړونه او د ښه ګاونډيتوب پر خلاف بللي او د پاکستان پر حکومت يې غږ وکړ چې د افغانانو له ځورولو لاس واخلي.

دغه راز په پاکستان کې د يو اين ايچ سي ار مشرې چې افغانستان ته له ستنو شويو کډوالو سره د لېدنې په موخه تللې وه ويلي چې څو وارې يې له پاکستاني چارواکو سره غونډو کې ترې غوښتنه کړې چې د افغان کډوالو له شړلو او د هغوی د شتمنيو او نورو شته وو له ظبتولو نه لاس په سر شي.

که څه هم یو این ایچ سي ار د افغان کډوالو د ستونزو د هوارې په موخه د درې اړخیزو او څلور اړخیزو غونډو چې د افغانستان، ایران، پاکستان او یو این ایچ سي ار استازې په کې ګډون کوي د ترسره کېدو خبره کړې خو دا یې نه ده په ډاګه کړې چې دا ناستې به کله او چېرته ترسره شي. ملګرو ملتونو خبرداری ورکړی که له پاکستانه په زوره ایستل شوو افغان کډوالو ته سرپنا برابره نه شي، نو په ژمي کې به د یخنۍ له امله له ګڼو ستونزو سره مخامخ شي.»

کومه لوبه چې اوس په پاکستان کې پیل شوې ده، دا د دوی د سیاسیونو او نظامیانو د ترسره کړو تېروتنو په بدل کې ترسره کېږي. دوی زموږ په وطن کې شاوخوا پنځوس کاله پخوا دا چاودنې پیل کړې وې، اوس یې خپل خلک مبارزې ته راپاڅېدلي دي او په پاکستان کې هغه شرعي نظام غواړي چې دوی به یې زموږ د وطن لپاره نسخې لیکلې، اوس دې ورته ټینګ شي.

*****

د افغانستان ګاونډیانو (ایران ـ پاکستان) چې اوس، اوس تاجکستان هم کله ـ کله سرورسره خوځوي، په ډېرې سپینسترګۍ سره زموږ د هېواد او خلکو پرضد عملونه کړي دي او تل یې هڅه کړې چې په افغانستان کې د روانو حالاتو مخه ونیسي او د خپلو ګوډاګیانو په وسیله یې په خپله ګټه وڅرخوي؛ دا چې په دې لړ کې څومره مالی او انساني تاوان افغانانو او افغانستان ته رسوي، دوی ته دا هېڅ مطرح نه ده، دوی یوازې د خپلو ګټو په باب فکر کوي او بس. همدې واقعیتونو ته زموږ یو آګاه
قلموال داسې اشاره کړې ده:

پاکستان از یکطرف با ظالمانه ترین شیوه های مغایر نورم های حقوق بشری بوسیلۀ نیرو های پولیس و احتمالاً به همکاری نیرو های اردوی خویش به منازل و کمپ های مهاجرین افغان در آنکشور یورش برده، اموال و دارایی های مهاجرین افغان را ضبط و خود شان را دستگیر کرده اند. از آنجاییکه ادارات سرحدی بنادر تورخم و سپین بولدک ظرفیت بسیار محدود بررسی اسناد شناسایی و کنترول امنیتی اموال مهاجرین را دارند، بناً صد ها هزار مهاجر افغان و موتر های حامل این مهاجرین در نوارسرحد بین پاکستان و افغانستان در انتظار قرار دارند. این امر باعث گردیده تا پولیس پاکستان با مهاجران منتظر نوار مرز و مسیر راه های چمن و تورخم نیز با شیوه های غیر انسانی بد رفتاری کرده، اموال و دارایی های نقدی این مهاجران را ضبط و در حق خود شان اهانت بسیار روا میدارند.

و از طرف دیگر در همچو شرایط بحرانی بازگشت و ورود سیل میلیونی مهاجرین افغان به کشور مشکلی دیگر بر مشکلات کشور ما افزوده وسازمان ملل متحد و موسسات مرتبط نظاره گر این بحران بشری بوده و هیچ کار و اقدام عملی در زمینه انجام نمیدهند. و از طرف دیگر هزاران لاری امتعه تجارتی تجار افغانی را در بندرکراچی معطل گردانیده و بنادر خویش را بروی اموال صاداراتی افغانستان خاصتاً میوه های فصلی صادراتی به هندوستان کاملاً بسته است...

دولتمداران ایرانی منجمله وزیر خارجۀ ایران عبداللهیان با پُررویی زایدالوصف دور از آداب دیپلوماتیک هم در مسایل آب و هم در باب نوع حاکمیت در افغانستان با کلمات غیر دیپلوماتیک به آدرس حاکمیت بر سر اقتدار در افغانستان نشخوار میکند، آنها به نحوی برعلاوه ترکیب ملی و زبانی ترکیب مذهبی را نیز قلقله دارند...

در تاجکستان هم چهره های منفور ضد ملی را جمع کرده زیر نام مجلس امنیتی هرات تحت شعار کذایی «بازخوانی افغانستان، راهکارهای متفاوت» بازهم زیر دیکتات دولت تاجکستان برای افغانستان نسخه حکومت سازی میدهند...»

پاسني يادګاوندیان داسې فکرکوي چې تنور تود دی، راځه خپله‌ډوډۍ پخوه، هرڅه دې چې وويل او دې کړل، د پوښتنې څوک نه شته؛ د همدې پالیسۍ په چوکاټ کې پاکستاني مؤقتو واکدارانو په غیردیپلوماتیکه ژبه د افغانستان د بمباردکولو وړاندیز هم کړی دی، خو په دې نه پوهېږي چې په اور کې لاس‌وهل به څه پایلې ولري.

د همدې ستونزو انعکاس د خلکو د ذهن له هنداريې څخه د لنډيو په قالب کې راوتلی دی.

*****

زموږ د دوو ګاونډیانو له خاورې نه د افغانانو په زوره شړل ساده خبره باید ونه‌انګېرل شي، دا به په راتلونکو کې ګڼې خطرناکې پایلې ولري چې يوه پایله سمدستي  د دې دواړو هېوادونو پرضد د ټولو افغانانو په زړونو کې د کرکې پیدا کېدل دي.

په دې لړ کې د پاکستاني مقاماتو یوبل د کرکې وړ سیاست دا دی چې له پاکستان څخه د افغانانو د شړلو عملي پروسه یې داسې چا ته سپارلې چې له بده شامته هغه هم پښتانه دي لکه: د پاکستان مؤقت صدراعظم کاکړ. د انور کاکړ له خولې نه د پاکستاني سياسيونو او نظاميانو هغه خبرې راوزي او عملي کېږي چې هغه د پښتون قوم پرضد کرکه پاروي او په دې ډول پاکستاني مقامات هم پښتانه بدنامه کوي او هم خپل شوم پروګرامونه عملي کوي.

په همدې موضوع پورې اړوند تاند په يوه بل رپوټ کې د هيومن رايټس واچ په حواله ليکي چې پاکستاني پوليس له افغان ګډوالو سره زورزياتی کړی دی. دا هم د تاند لنډکی رپوټ:

«تاند (چهارشنبه، د قوس ۸ مه) د بشري حقونو د څار نړيوال سازمان يا هيومن رايټس واچ وايي، پاکستاني پوليسو د افغان کډوالو د جبري ايستلو په اړه کې له هغوی سره پراخ زورزياتی کړی دی.
دې سازمان په يوه تازه راپور کې، چې پر خپله ويبپاڼه يې خپور کړی دی، ويلي، د پاکستان امنيتي ځواکونو د دې لپاره چې له خپلې خاورې د افغان کډوالو د ايستلو بهير چټک کړي د افغانانو خلاف په زور زياتي کې له هيڅ راز فشاره ډډه نه ده کړې.

په راپور کې پر افغان نجونو د جنسي تيري يادونه هم شوې ده.

د بشري حقونو د څار سازمان وايي، پاکستاني پوليسو افغان کډوال نيولي، ځورولي، بنديان کړي او حتي له ښځو يې د هغوی ګاڼې اخيستي دي.

دې سازمان ټينګار کړی چې له پاکستان څخه د افغان کډوالو په زوره ايستل او له هغوی سره زور زياتی، د پاکستان د نړيوالو ژمنو خلاف او د نړيوالو بشري حقونو څرګند سرغړاوی دی.»

د پاکستاني نظام ټول عمر په چل او غولونه تېرشوی دی او اوس هم دهماغې پاليسۍ لارويان دی، خو د دوی حاکمان به پر دې باندې نه پوهېږي چې دوی د خپلو راتلونکو نسلونو لهپاره د کرکې تخم کري.
همدااوس د دوی د ناوړه اعمالو پربنا د عامو افغانانو په نظر د دوی تصوير داسې دی لکه په د همدې کتاب لنډيو کې چې انځور شوی دی.

*****

په ايران کې د افغانانو وهلټکول، سپکول، لوټل، په بېلابېلو نومونو زنداني کول، په نشئهتوکو عمداً روږدي کول، وژل او بيا د مړي پرکورنۍ باندې د مړي خرڅول او که څوک له يادو ازموينو ژوندي ووتل، بيا په جبر اوزور د افغانستان خاورې ته راپورېوهل، ډېره پخوانۍ کيسه ده او ايراني واکدارانو دغه چلن له کلونو راپه دېخوا زموږ له هېوادوالو سره کړی دی. د همدې کړاوونو تر زغملو وروسته، زموږ د کوم رنځېدلي هېوادوال له خولې يو شعر راوتلی دی چې دا يې يوه برخه ده:

«ورک دې شي ايران له غملړلو تومنو سره
ژوند مې په کې تېرکو دم د يو جوړه جامو سره

ورک دې شي ايران، په ايران کې مې زړه تنګ دی
هرشرکت ته لاړشم په نصيب کې کې مې کُلنګ دی
پوی په ګناه نه يم، د مهندس راسره جنګ دی
مياشت مې پوره نه وي، بيا روان يم بسترو سره...»

په ايران کې د بېدفاع اواره افغانانو د وضعيت د څرنګوالي په باب يا هېڅچا څه ليکلي نه دي، که ليکلی شوي سم ترنورو پورې رسېدلي نه دي که رسېدلي هم دي، ډېر لږ چې دومره د پاملرنې وړ نه دي او نه څوک پسې ګرځېدلي دي.

يووخت مې په بيبيسي فارسي کې د «عکس فوری از زندگی پناهجويان افغان در ايران» ترسرليک لاندې يودردونکی رپوټ له نظره تېر شو، د هغه رپوټ په يوه برخه کې په ايران کې د افغان مهاجرينو په باب داسې ليکل شوي وو:

«پناهجویان و مهاجران افغان، یکی از محروم‌ترین و بی‌دفاع‌ترین اقشار اجتماعی در ایران هستند که هیچ یک از دولت‌های وقت حقوق مدنی آنان را به رسمیت نشناخته است. مسئولان اغلب در سال‌های آغازین حضور اتباع افغانستان در این کشور، از عبارات "آوارگان افغان" و "اتباع بیگانه" استفاده می‌کردند. از این رو در مدارک اقامتی این گروه، از واژه‌گانی که بر پناهنده یا مهاجر بودن آنان دلالت کند، نشانی نیست. بیش از نیمی از این "آوارگان" فاقد مدارک اقامت قانونی هستند که به "بی‌هویتی رسمی" آنان می‌انجامد و بر مشکلات و دشواری‌های تامین معاش، سر و سامان دادن به زندگی فردی و اجتماعی آنان می‌افزاید.

اغلب قربانیان این بی‌عدالتی‌های قانونی را کودکان تشکیل می‌دهند که به‌عنوان نیروی کار ارزان مورد سوءاستفاده‌های اقتصادی و اجتماعی قرار می‌گیرند. پژوهش‌های میدانی نشان می‌دهند که ۸۶ درصد از کودکان کار خیابانی ایران را اتباع خارجی تشکیل می‌دهند...»

پرافغان کډوالو باندې د ایرانیانو د ظلمونو دا لړۍ نه یوازې ونه‌درېده، بلکې د وخت او سیاست په بدلون سره نوره هم مرګونې شوه. په زرګونه افغانان یې په بېلابېلو نومونو نیابتي جګړو ته ولېږل چې ښه او برالا بېلګه یې د فاطمیون ډله ده.

دا چې ایران او پاکستان د کوم پټ تړون له مخې په یوه وخت کې د افغان کډوالو ازارولو او شړلو ته نور هم شدت ورکړ، دا موضوع لا میډیا ته نه ده راوتلې، خو د خلکو له خولو او ذهن نه د ادبیاتو او فولکلور په قالب کې د ګاونډیانو د ظلمونو رنګارنګ انځورونه راوتلي او نور به هم راوزي.

*****

ځينې خرڅ شوي افغانان د ايرانيانو د ستمونو باوجود، کله داسې هم ليکي:

«ايران سرای من که چه جان من است!..»

دا جمله له هېڅشي نهشرمېدونکي «لطيف پدرام» کله چېرې ليکلې وه او يوه افغان (فيروزالدين شاه فلاح) د ده په ځواب کې هغه څه ورته ليکلي دي، چې بايد ليکل شوي وای. له لاندې کرښو نه د ايرانيانو د هغو ناروا عملونو خوسا بوی پوزې ازاروي، چې ايرانيانو په کلونو ـ کلونو د بېوزله افغان کډوالو په حق کې کړي دي، خو خپل وطن او خلکو ته خاينين بيا هم وايي او ليکي چې:

«ايران سرای من که چه جان من است!..»

دا هم د ځواب متن:

«جناب آقای پدرام...!
نمی خواستم حتی نامت را بر زبان بياورم چون نزد ما هيچ عددی نيستی! اما جمله ای جالبی بود عنوان مطلب فيسبوکی ات!
هم اسفبار و هم خنده آور.!
اسفبارش اينکه اصلاً هنوز درد آن پدر و مادر که اولادش را در سرای تو آتش زدند، و فرياد ميزد کمی آب بياور که سوختم، را حس نکردی، هنوز به معنی آن شعری که شاعر سرای تو سروده است، پی نبردی:

**بنی آدم اعضايی يک ديگر اند**
**که در آفرينش ز يک جوهر اند**

هنوز داد و فغان آنانیکه در دریای هری رود هم تباران تو انداخته اند به گوش ات نرسیده است، شاید هنوز آن دختر افغانی که در شهر یزد ایران با حضور داشت پولیس ایران لت و کوب شد، از داخل بس های شهری پایین انداخته شد، حتی در میان شهر سنگ باران شد، برایت نگفته باشد، ما چه حال داریم در سرای تو، شاید هنوز حتی واژه ای بنام اردوگا را نخوانده باشی! چون غلامان نه واژه ای بنام اردوگا می شناسند، نه هم آن جای ها را می بینند، تمام عمر شان به چاپلوسی و درباری بودن شان می گذرد.

من برایت نام می برم،

روزی اگر از غلامی دست کشیدی که این کار برایت آسان نیست سر بزن به اردوگا ورامین تهران ببین سرای داران تو به حق افغان های مهاجر چه می کنند،

اگر وقت داشتی، سر بزن به اردوگا فلکه دانشگاه اصفهان ببین چه واژه های سرای داران تو به

افغان های مهاجر استفاده می کنند:

افغانی مادر جند ه، افغانی مادر غعبه، افغانی فلان کش، و غیره و غیره.

اگر وقت داشتی سر بزن به اردوگا تله سیاه قلعه زنگی یزد ببین افغان ها را با تبرزین می کشند و گوشت افغان را خوراک حیوانات شان می کنند، در آنجا که سرای توست،

اگر گاهی وقت داشتی دوغارون به مرز اسلام قلعه ولایت هرات نزدیک است سر بزن به اردوگا سفید سنگ ببین افغان ها را چه بیرحمانه به کوره ها می اندازند و خاکستر شان می کنند،

ایران سرای توست، حتی جان توست،

خنده آورش این است که من هر چه دیدم در اردوگاها همین هم تباران جناب عالی خوابیده بودند، در سرای خود، توهین و تحقیر میشدند.

در آخر!
ایران سرای افغان ها نیست، بلکه جهنم است برای افغان ها.

**سیم خار دار میکشم از عشق دور میهنم**
**من به دیدار خدا با نام افغان میروم»**

د کډوالۍ د ژوند په ترخ کې او د ځینو کوربه هېوادونو د رنګارنګ ظلمونو په پایله کې، د لنډیو په قالب کې، د وطن د مینې تر څنګ د هغوی له ظلمونو هم سرټکول شوی دی.

*****

له ایران او پاکستان نه د افغان کډوالو د راشړلو په دې اړودوړ کې طالبان باید دا هوښیاري وکړي چې د راستانه شوو هېوادوالو په ډله کې هغه خلک چې له کاري مهارتونو سره راستانه شوي دي، هغو ته په پاملرنې سره، له هغو نه داسې استفاده وکړي چې هغه په کار واچوي او د تولیدي کارونو لپاره استفاده ځینې وکړي.

له ایران او پاکستان نه د راشړل شوو کډوالو د لاسنوي لپاره بنايي په میلیاردونو ډالره مرستې ته اړتیا وي، خو تر اوسه چا په ښکاره ډول څه مرسته نه ده کړې، یوازې د اروپاي ټولنې د مرستې غږ جګ شوی دی. د تاند یو ریپوټ کې داسې راغلي دي:

«تاند (چارشنبه، د قوس ۱۵ مه) اروپايي ټولنې هېواد ته د تازه ستنیدونکو افغانانو پر ملاتړ ټینګار وکړ.

د افغانستان لپاره د دغې ټولنې د پلاوي شارژدافیره رفایله یودیس چې د یوه پلاوي په مشرۍ تورخم ته تللې او له پاکستانه د شړل شویو افغان

کډوالو له کمپ څخه لیدنه کړې، ټینګار کړی چې اروپايي ټولنه د دغو افغان راستنېدونکو د ملاتړ لپاره چمتو ده.

هغې په دې برخه کې د مشخصو مرستو کومه یادونه نه ده کړې، خو ویلي چې له افغانانو سره د دوی مرستې دوام ولري.

له څه مودې راهیسې پاکستان تر ۴ سوو زرو زیات افغانان له دغه هېواده ووېستل چې په هېواد کې يې د سخت وضعيت خبرونه ورکول کیږي.

افغانستان چې لا له وړاندې بشري او اقتصادي وضعیت يې خراب و او د طالبانو له واک ته رسېدو سره دا وضعیت نور هم پیچلی شوی، د کډوالو په زوره ستنول ورته له دې اړخه د لا زیاتې اندېښنې وړ بلل شوی.

که څه هم یو شمېر هېوادونو له تازه ستنیدونکو افغانانو سره د مرستو اعلان کړی، خو طالب چارواکي او تازه ستانه شوي افغانان دا مرستې اساسي نه بولي او د زیاتیدو غوښتنه يې لري.»

هیله ده چې په دې کړکېچن حالت کې زموږ د راشړل شوو هېوادوالو د لاسنیوي له پاره نور هېوادونه او اړوندې مؤسسې هم د مرستې لاس راوِغځوي، څو د یوه نوي بشري ناورین د رامنځته کېدو په مخنیوي کې مرسته وکړي.

*****

له ګاونډیو هېوادونو (ایران ــ پاکستان) څخه د افغانکډوالو په زوره شړلو لړۍ ورځ تربلې ګړندۍ کېږي. افغانستان ته له دواړو هېوادونو څخه راشړل شوي ګډوال د یادو هېوادونو د امنیتي مقاماتو د ناوړه او

غیرانساني چلن ترڅنګ، یو شمېر نور شکایتونه هم کوي، د تاند په یوه رپوټ کې دې ناخوالو ته داسې اشاره شوې ده:

«تاند (پنجشنبه، د قوس ۹ مه) له پاکستانه د سلګونه زره افغان کډوالو د اېستو له روان بهیر سره هم مهاله، ایران هم د افغان کډوالو د اېستو نښې نښانې ښودلي.

د دغه هېواد د کورنیو چارو وزیر احمد وحیدي په خپلو تازه څرګندونو کې له طالب چارواکو غوښتي چې خپل هېواد ته د افغان کډوالو د ستنولو شرایط برابر کړي.

نوموړي له زیاتو جزییاتو پرته ویلي چې ایران د شاوخوا ۵ میلیونه افغان کډوالو کوربه دی.

د ده په وینا، په دغو کډوالو کې یوه برخه یې په قانوني او بله یې په غیر قانوني ډول ایران کې مېشت دي.
نوموړي د غیر قانوني کډوالو پر ستنولو ټینګار کړی خو دقیق شمېر یې نه دی ښودلی.

مخکې د دغو غیر قانوني کډوالو شمېر هم تر دوه میلیونو زیات اټکل شوی و.

ایران سره له دې چې اوس هم هره ورځ زرګونه افغان کډوال په زوره باسي او ځواکونه یې دغو کډوالو سره د وهلو او لوټ تالان تر حده په ناوړه چلند تورنیږي، خو بیا هم په ناقانونه ډول د افغان کډوالو د ورتلو لښکر ور مات دی.

طالب چارواکو د ایران د غوښتنې په اړه څه نه دي ویلي...

له اقتصادي او بشري ناورين سره مخامخ افغانستان، په وروستيو کې له پاکستانه د کډوالو د اېستو له بهير سره نور هم فقير او ځپل شوی.

اندېښنه ده چې که ايران هم ورته ګام واخلي، د افغانستان اقتصادي او ټولنيز شرايط به نور هم ورسره ترينګلي شي.»

نورو هېوادوالو هم د ګاونډيو مسلمانو؟ هېوادونو (ايران او پاکستان) د ظلمونو نقاشياني په خپلو ذهنونو کې د نورو شعري قالبونو ترڅنګ، د لنډيو په قالب کې هم نقاشي کړېدي.

*****

پاکستاني او ايراني سياسيونو او امنيتي مقاماتو افغانان ترخورړ ګوتې نيولي دي او هرهورځ همدا وايي چې افغانان دې زمونږ له خاورې وزي. ډېر ځلې داسې هم شوي دي چې د اسناد نه لرونکو په څنګ کې يې اسناد لرونکي خلک هم افغانستان د تګ لهپاره اړکړي دي.

د ميديا په ځينو رپوټونو کې راغلي دي چې د پاکستان د بلوچستان مقاماتو امر کړی دی چې هره ورځ بايد ترلسو زرو افغانان له پاکستان څخه ويستل شي. دا هم په دې باب د دوچولې د يو رپوټ يوه برخه:

«د پاکستان د بلوچستان ايالت چارواکو ويلي دي چې پلان لري هره ورځ لس زره هغه افغان کډوال چې په پاکستان کې د اوسېدو اسناد نه لري، ونيسي او خپل هېواد ته يې اخراج کړي.

د بلوچستان د حکومت وياند جان اڅکزي، وويل: «پوليسو ته امر شوی دی چې په پاکستان کې په غير قانوني توګه مېشت افغان کډوال دې ونيسي.»

نومورې وویل چې چارواکو ته لاربنوونه شوې ده چې په ورځ کې لس زره افغانان اخراج کړي. اخګزي دا څرګندونې په داسې حال کې کړې دي چې چارواکو پرون، چهار شنبه پر تورخم او چمن دواړو سرحدي لارو کې د بیرته ستنېدونکو په شمیر کې د ناڅاپي کمښت خبره کړې وه.

د اټکلونو پر اساس د اکتوبر میاشتې په وروستیو کې د پاکستان د حکومت له خوا د عملیاتو د پیلولو د اعلان پر وخت ۱،۷ میلیونه افغانان چې د اوسېدو اسناد یې نه درلودل، میشت ول. پاکستان ویلي ول چې د نوامبر میاشتې له لومړۍ نیټې څخه به هغه ټول افغان کډوال چې په دغه هېواد کې د اوسېدو اسناد نه لري، نیول کیږي او بیرته به خپل هېواد ته استول کیږي.

له هغه وخت راهیسې تر اوسه ۴۰۰ زره افغانان بیرته خپل هېواد ته تللي دي. د پاکستان حکومت وایي چې د افغانانو په ګډون ټول هغه بهرني اتباع اخراجوي چې په دغه هېواد کې په غیر قانوني توګه میشت دي. زیاته شوې چې راجستر شوي افغان کډوال چې شمیر یې ۱،۴ میلیونه اټکل شوی دی، هدف نه دي او باید هیڅ اندیښنه ونه لري. اوس په پاکستان کې پولیس کور په کور ګرځي او د کډوالو اسناد ارزوي.

د دغو عملیاتو په ترڅ کې پاکستان هغه ځانګړي جوازونه هم لغوه کړي دي چې له مخې یې د بلوچستان د سرحدي ښار اوسیدونکو د پولې دواړو غاړو ته تګ راتګ کولی شوای...»

په دې لړ کې افغانان له فزیکي، رواني او اقتصادي پلوه داسې متضرره کیږي چې کلونه ـ کلونه به یې پایلې محسوسې وي.

*****

د افغانستان په ګاونډيانو کې پاکستان او ايران هغه دوه شيطاني مهرې دي چې تل يې زموږ په هېواد کې د جګړې اور ته لمن وهلې او هغو منفي کارونو ته يې باد ورکړی چې زموږ خلکو او ټولنې ته د تباهي د څونامي حيثيت لري.

په دې وروستيو کې د دواړو هېوادونو له خوا د افغان مجبورو کډوالو بېرته راشړل زموږ په هېواد کې د لوړې څونامي ته لمن وهلې، ان تر دې چې د بشري ناورين تر پولو يې رسولې ده او پرته له وقفې او دمې نه د افغان کډوالو په زوره ايستلو او شړلو ته اوس هم دوام ورکوي.

په افغانستان کې د دې سړه ژمي په رارسېدو سره د دومره شمېر تشلاسو افغانانو بېرته راستنېدل زموږ په هېواد کې له يوې خوا د لوړې څونامي د مرګونيتوب پولې ته رسوي او له بلې خوا د ژوند ټولې برخې داسې سره ګډوډوي چې هرڅه د تباهۍ کندې ته ورپورې وهي.

د کډوالو په بېرته راستنېدو سره د بشري ناورين خطرناک وضعيت رامنځته کېدونکی دی. د دې وضعيت په باب د بيبيسي پښتو په يو نوي ريپوټ کې داسې راغلي دي:

«له پاکستان څخه د سلګونه زره افغان کډوالو د ايستلو چټکه لړۍ داسې مهال روانه ده چې له وړاندې افغانستان کې لويه برخه خلک لاسنيوي ته اړتيا لري او را روان ژمي په دې اړه اندېښنې نورې هم زياتې کړې دي.

که څه هم پاکستان له وړاندې له نړيوال ادارو غوښتي چې په دوی دې نور فشار نه راوړي خو تازه ملګرو ملتونو ويلي، د کډوالو ايستلو دا چاره به افغانستان کې بشري ناورين نور هم سخت کړي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو همغږۍ کوونکی ډنیل اندرېس په خپلو تازه څرګندونو کې وايي هره ورځ زرګونه کسان له پاکستانه را ستنېږي چې دوی يې په لوړه کچه له فشار سره مخ کړي.

نوموړی وايي، "تر ټولو لويه ننګونه پرته له شکه دا ده چې څنګه سلګونه کلي چې دا خلک ورځي هغوی ته په کې د اوسېدو ځای او نور مشکلات حل شي، په دې ژمي کې دوی له ډېر سخت حالت سره مخ کېدونکي دي، روان بهير دلته د بشري ناورين ترټولو نازک وضعيت رامنځته کړی دی. "

ښاغلی اندرېس وايي، "موږ په دې کچه لويه ستنېدنه بل ځای نه ده لېدلې او دا کار په همدې لويه کچه غبرګون ته اړتيا لري."

نوموړي له مرستندويه هېوادونو او بنسټونو غوښتي چې د راستنو شويو افغانانو لاسنيوي لپاره خپل ملاتړ او مرستې ډېرې کړي.
ملګري ملتونه داسې مهال د ډېرو مرستو غوښتنه کوي چې تازه اروپايي ټولنې له افغانانو سره د نژدې ۱۴۳ میلیون یورو نورې بشري مرستې اعلان کړې دي.

د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې استازې رافايلا يوديچه په يوه ويډيويي پيغام کې وايي چې دغه ټولنه به د افغان نارينه وو، ښځو او ماشومان ملاتړ روان ساتي.

ملګري ملتونه وايي تر اوسه له ۳۸۰ زره ډېر کډوال ستانه شوي او پاکستان پرېږدي چې د ستنوونکو کډوالو شمېر به يو اعشاريه ۷ ميليونو ته ورسوي.»

لیدل کېږي چې په داسې یو کړکېچن وضعیت کې د پاکستان او ایران رول ځومره منفي دی او زموږ د ټولنې حالات په منفي لوري داسې بیایي چې د تباهۍ تربرید پورې به یې ورسوي. له دې سره ـ سره دوی ځانته مسلمان او د اسلام مدافعین هم وايي. دغه کړکېچن حالت او ضررونه یې په پښتو لنډیو ښه منعکس شوي دي.

*****

زه چې په خپل وطن کې د ناپوهۍ، بېتعلیمۍ، بېسوادۍ او پر بېځایه غرور باندې ټینګار ته ګورم، حال مو تردې هم خرابېدونکی دی. د همدې پردیو په اشاره او لمسون مو خپل ښونځي سوځوولي او په بمونو یې الوزولي دي، خپل ښوونکي مو د ثواب په نامه حلال کړي او وژلي دي، د نوي نسل د تعلیم مخنیوی مو کړی او کوو یې... خو بیا مو له ډنډوه ـ ډنډه برېتو سره د یو عادي ناروغتیا په پار خپل مریض بار کړی وي او ګاونډي هېواد ته منډې وهو، هم پیسې ورکوو او هم عذرونه ورته کوو:

حال مې په خپله خراب کړی
چې یو تابلیت پسې هم بلوطن ته ځمه

د میډیا په یوه نوي ریپوټ کې راغلي چې اسلامي پاکستان د افغان ناروغانو پرمخ خپلې دروازې تړلې دي:

«د طالبانو حکومت کې د افغانستان ختیځ ننګرهار ولایت ځايي چارواکي وايي، پاکستاني لوري په یوه ناڅاپي ګام کې له تېرې جمعې ورځې راهیسې له افغانستانه د ورتلونکو هغو افغان ناروغانو پر مخ د تورخم دروازه تړلې ده چې پاسپورټ او ویزه نه لري.

مخکې د يوې هوکړې له مخې پاکستاني چارواکو تورخم دروازه کې افغان ناروغانو ته اجازه ورکوله چې له وېزې پرته دغه هېواد ته د درملنې لپاره ولاړ شي.

د ننګرهار ځايي چارواکو له ټولو ناروغ لرونکو کورنيو غوښتي چې له پاسپورټ او وېزې پرته د تورخم له لارې پاکستان ته د تللو هڅه ونه کړي.

د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور امر قريشي بدلون په دې اړه بي بي سي ته وويل:

"پاکستاني لوري په ناڅاپي ډول پاکستان ته د درملنې په موخه د تلونکو ناروغانو پر مخ د تورخم دروازه تړلې او هېڅ يو ناروغ ته اجازه نه ورکوي چې پښتونخوا يا د پاکستان نورو ايالتونو ته ولاړ شي."...»

دا لاندې څو کرښې د پاکستان په باب د يو صاحب نظر افغان قلموال له ذهن نه راڅڅېدلې دي چې تازه يې په خپله فيسبوکپاڼه کې خپرې کړې دی:

«نه زه مهاجر وم او نه زما ورور انصار وو
نه زه مجاهد وم نه زما ورور کاپير وو
نه زه دارالاسلام وم نه زما دکور هغه بله څنډه دارالکفر
نه ما د کرښو پروا ساتله نه زما ورور د پرخو
موږ خدای يو قوم تخليق کړي يو
موږ ته رب د افغان هويت راکړی دی
موږ ته د اموسين او اباسين پولې فطرت او طبعيت را په ګوته کړي دي

پرموږ د پکستان په نامه جعلي غضب د دیني محبت پرځای دیني نفرت تحمیل کړی دی او موږ ته د مهاجر او انصار کلیمي هم د جهاد افغانستان او دفاع پاکستان جنجال راپیرزو کړي دي
موږ افغانان یو او افغاني هویت د ایشیا په دغه برخه کې نه محوه کیږي که محوه شو
نو اماده واوسئ محشر راروان دی.»

زموږ د وطن په همدې څو ورځو وړاندې تاریخ کې داسې خلک هم د واک ترګدۍ پورې ورسېدل چې د دې وطن نوم یې لاټهمانه او د رنګارنګ شعارونو په شورماشور کې یې د تجزیې جیغې وهلې؛ اوس هغه خلک له واک او ځواک نه لرې کړای شول؛ وطن او خلک ورنه بېغمه شول.

یادو ستونزو ته په کتو سره خلک د لنډیو په قالب کې حقایق انځوروي، د لنډیو د تخلیق دا لړۍ اوس هم روانه ده.

*****

تازه په ایران کې پر افغانانو باندې نوي بندیزونه لګېدلي دي. راپورونه وايي چې د ایران د امنیت شورا مقامانو ځانګړو اړوندو ادارو ته حکم کړی دی چې: د ایران په ۱۶ ولایتونو کې د افغانانو اوسېدل او کار منع اعلان شوی دی. مانا دا چې په ایران کې شته افغانان یې په یوه تنګ قوتي کې زنداني کړل.

په ایران کې پر افغانانو باندې د دې نویو بندیزونو په باب د بيبيسي په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«د ایران د کرمانشاه ایالت د بهرنیو وګړو د کنترول عمومي مسول ویلي، "د ملي امنیت شورا لخوا نوې داسې تګلاره ورکړل شوې چې له مخې یې د دغه ولایت په ګډون د ایران په ۱۶ ولایتونو کې د افغانانو هستوګنه او کار روزګار منع اعلان شوی دی."

د بهرنیو وګړو اړوند چارو دغه مسول حمزه سلیماني د ایران ایسنا خبري اژانس ته ویلي "په دې هکله د سږ کال له پیله د بهرنیو وګړو د کنترول او څار اړوند اته بېلابېلې اجرایوي کړنلارې عملي شوي دي."

د ایران شرق نومې ورځپاڼې د هغو ولایتونو نومونه هم خپاره کړې چې پکې د افغانانو تګ راتګ او هستوګنه بنده شوې ده.

د یادې ورځپاڼې په حواله، د ایران په شرقي آذربایجان،غربي آذربایجان، اردبیل، زنجان، کردستان، کرمانشاه، ایلام، لرستان، چهارمحال وبختیاري، کهګیلویه وبویراحمد، ګیلان، مازندران، سیستان‌وبلوچستان، هرمزګان او همدان هغه سیمې دي چې پکې د افغانانو هستوګنه او ګرځېدل منع شوې دي.

له دې وړاندې د ایران ملي شورا د کورني امنیت کمیسیون یوه غړي چې د ایران کورنۍ چارې هم څاري، ویلي "که د بهرنیو وګړو اړوند تګلاره اعلان شي، دا به ایرانیانو ته هم نوي مسوولیتونه ورکړي."

دغه کس ویلي، د دې طرحې له مخې به هغه ایرانیان هم د مجازات وړ وي چې بهرنیو وګړو له ډلې یې افغانانو ته کورونه یا کار ورکړی وي.

په دې وروستیو کې په پرلپسې ډول ایران او پاکستان کې پر افغان کډوالو محدودیتونه ډېر شوي او تر څنګ یې په زور خپل هېواد ته د ستنولو لړۍ هم چټکه شوې...»

دي ته باید د یویشتمې پېړۍ ترټولو ظالمانه دیکتاتوري وویل شي چې له هیڅ ډول نړیوالو قوانینو سره اړخ نه لګوي. د لنډیو په قالب کې د مجبورو کډوالو د ژوند ځینې اړخونه انځور کړاي شوي دي.

*****

پاکستاني او ایراني مقامات هره ورځ په ټینګار سره بیا ـ بیا اعلانوي چې افغانان دې خپل هېواد ته ستانه شي؛ خو هغوی د دې خیال نه ساتي چې په دې موسم کې چې ساړه او سخت ژمی راروان دی، په دومره لوی شمېر خلک به څنګه د هراړخیزو ستونزو په لرلو سره ځای پر ځای کېږي او د خوراکي توکو د شدید کمبود په صورت کې به دا خلک څه کوي؟ ایا هلته به یو بل بشري ناورین نه رامنځته کېږي؟ په داسې حال کې چې تر دې مخکې هم کوردننه لا د بېلابېلو ستونزو په وجه، په میلیونو خلک بېځایه شوي دي او دا نوي ورروان خلک چې د دې وړو له لښکر سره یو ځای شي؛ یوه بله ځونامي به رامنځته نه کړي؟

همدا دوې ورځې مخکې ایراني چارواکو وویل چې په تېره یوه میاشت کې یې تر شپېتوزرو (۶۰زره) ډېر افغان کډوال له ایرانه ایستلي دي. په دې باب د بيبيسي په یوه رپوټ کې داسې راغلي دي:

«ایراني چارواکي وايي، تېره یوه میاشت موده کې د خراسان رضوي سیمې د پولې له لارې "له ۶۰ زره ډېر" افغان کډوال بېرته افغانستان ته استول شوي دي.

د ایرنا خبري اژانس په رپوټ کې د ایراني پوله ساتونکو ځواکونو د یوه افسر مجید شجاع له قوله ویل شوي، چې تېره یوه میاشت کې ۶۰ زره ۳۸۰ داسې افغانان چې ایران ته د تګ "رسمي اجازه" یې نه درلوده، د دوغارون-اسلام قلعه له لارې بېرته افغانستان ته استول شوي دي.

له دې مخکې د ایراني پوله ساتونکو ځواکونو قوماندان احمد علي ګودرزي پر سې شنبه ویلي و، چې نژدې "یو میلیون بهرني اتباع" د ایران له خاورې شړل شوي دي.

دغه راز تېره اونۍ په افغانستان کې د طالبانو حکومت وياند ذبیح الله مجاهد وویل، چې له نومبر میاشتې راهیسې له ایران، پاکستان او ترکیې څخه "تر ۸۰۰ زره ډېر" کډوال یا شړل شوي دي او یا په خپله خوښه ستانه شوي دي، چې په وینا یې ډېره برخه په کې له پاکستانه د راستنو شویو کډوالو ده...»

سره له دې چې اړوندو نړیوالو مؤسسو په وار ـ وار د راشړل کېدونکو کوربه هېوادونو ته ویلي چې یا دې د مهاجرو په راشړلو کې پر خپلو پالیسو کې بدلون راولي او یا دې په دومره چټکۍ او لوۍشمېر نه راشړي، خو کوربه هېوادونه (ایران ـ پاکستان) لکه کاڼه او ړانده چې وي، نه څه اوري او نه څه ویني، هره ورځ د مهاجرو بېشمېره ډلې د برید تر کرښې دې خوا را شړي.

د خوراکي توکو د نشت یا نهخوندیتوب له پاره نړیوالو خیریه مؤسسو خپل غږونه جګ کړي دی، خو د اورېدو څوک نه شته، د بيبيسي په یو ریپوټ کې دې ستونزو ته داسې اشاره شوې ده:

«د ملګرو ملتونو اړوند د خوړو نړویوال پروګرام وایي، افغانستان کې له وړاندې شپږ میلیونه خلک په کور دننه بې ځایه شوي دي چې له پاکستان څخه د زیات شمېر کډوال د راستنېدو امله دا ستونزه نوره هم زیاته شي.

دغه نړیواله مرستندویه اداره یو ځل بیا خبرداری ورکوي چې له پاکستان څخه په لویه کچه د بېرته ستنېدونکي له یوه نامعلوم برخلیک سره مخ کېدونکي دي.

ډبلیو ایف پي وړاندې هم ویلي و چې د پاکستان له خوا په زور ایستل شوي خلک "نه پوهېږي چې له را روان ژمي به څنګه ژوندي ووځي."

پاکستان له نړیوال فشارونو سره سره په خپله دې پرېکړه جدي عمل کوي چې له هغه هېواد به د دوی په ټکو یو اعشاریه اووه میلیونه " غیرقانوني" کډوال وباسي.

د نړیوال مرستندویه ادارو د شمېرو له مخې د پاکستان څخه له وړاندې نږدې څلور سوه زره افغانان په زور ایستل شوي دي.

د نړیوالو ادارو او طالبانو حکومت لویه اندیښنه له ګڼ دغو شمېر کډوالو سره د مرستو او لاسنوي په برخه کې ده.

دواړه له هېوادونو غواړي چې په برخه کې ډېرې مرستې وکړي، ترڅو سلګونه زره خلکو د کډوالۍ او بې ځایه کېدنه روان کړکېچ پرې کابو کړي...»

اوس لیدل کېږي چې د لوړې څونامي او د ګاونډیو هېوادونو (ایران ـ پاکستان) لهخوا د راشړل شوو مهاجرو ستونزو لاس سره یوکړی دی او په افغانستان کې یې د یوه نوي بشري ناورین د رامنځته کېدو زمینه برابره کړې ده.

نه د نړیوالو خیریه مؤسسو غږ څوک اوري او نه د افغانستان د خلکو، عام خلک یا ستونزې له ځان سره زمزمه کوي او یا یې د شعرونو او لنډیو په څېو کې تلپاتې کوي.

*****

له پاکستان نه د افغان مهاجرو د راشړلو د پروسې له پیل نه پاکستاني مقامات د خپلو غیرعادلانه او غیرقانوني فیصلو د توجه کولو په غرض هلته دلته ځرګندوني کوي او حتی د دې ادعا هم کوي چې ګنې د پاکستان امنیت او اقتصاد د کډوالو له لاسه خراب دی او بیا ـ بیا پر دې باندې ټینګار کوي چې افغان کډوال دې خپل وطن ته ستانه شي.

نړیوالې اړونده مؤسسو بیا، بیا د دومره کډوالو په یو وار شړلو په وجه اندېښنې ځرګندې کړې دي او د منفي پالو په باب یې ګوتځنډنې هم کړې دي. د بيبيسي په یوه رپوټ کې په دې ساړه موسم کې د دومره کډوالو شړلو منفي پایلو ته داسې اشاره شوې ده:

«... د بښنې نړیوال سازمان د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، د پاکستان حکومت له زرګونو افغان کډوالو څخه د "سیاسي الې" په توګه کار اخلي چې په وینا یې د طالبانو تر واکمنې لاندې افغانستان ته چې د بشري حقونو له سخت فشار او بشري ناورین سره مخ دی، د افغان کډوالو ژوند له ګواښ سره مخ کېدای شي.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو لویې کمشنرۍ (یو این ایچ سي ار) هم په دې اړه اندېښنه ښوولې وه او ویلي یې و، د ژمي په رانژدې کېدو د لوی شمېر کډوالو ناڅاپي ستنېدل به افغانستان کې بشري کړکېچ چې له وړاندې د نړۍ په کچه له لویو بشري کړکېچونو بلل کېږي، لا پراخ او ژور کړي.

یو این ایچ سي ار ویلي و، د پاکستان له اعلانه را پدېخوا لکونه افغان کډوال افغانستان ته ستانه شوي. پاکستان ویلي تر راتلونکې جنورې میاشتې به ټول ناقانونه کډوال ایستل کېږي.

د طالبانو حکومت چارواکو پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو پر وړاندې له تاوتریخوالی ډک چلن غندلی او د مخنیوي غوښتنه یې کړې.

د طالبانو حکومت د دفاع وزارت سرپرست وزیر ملا محمد یعقوب مجاهد د پاکستان دا ډول پرېکړې "غیر عادلانه" او "بې انصافي" بللې وې او ویلي یې و، چې دا ډول کړنې د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې "ترینګلي" کوي. خو د پاکستان د لوی درستیز ورو ستیو څرګندونو په اړه یې څه نه دي ویلي.»

خو پاکستاني مقامات بیا، بیا ټینګار کوي چې کډوال دې د دوی له وطن څخه ووزی. د خلکو شکایتونه څوک نه‌اوري، دوی یې په خپله ژبه له ځان سره زمزمه کوي.

*****

له ایران او پاکستان څخه د افغانانو د راشړلو کیسه د تاریخ په اوږدو کې ساری نه‌لري او په داسې ظالمانه ډول له یادو هېوادونو ایستل کېږي چې راشړل کېدونکي هک‌حیران وي چې داسې تش‌لاس څه وکړي او په کومه لاړ شي. داسې هم شوي دي چې د کډوال هرڅه یا لوټ شوي یا ورنه پاتې دي او دی تش‌لاس له پولې خپل هېواد ته راړول شوی دی. د خوړو نړیوال سازمان په یوه لنډ ریپوټ کې د یوه همداسې راشړل شوي افغان کیسه راوړل شوې ده:

«د خوړو نړیوال پروګرام یا ‘ډبلیو ایف پي’ وایي، له پاکستانه راستنېدونکو کسانو کې زرګونه هغه یې تش لاس هېواد ته را شړل شوي دي.

دغه سازمان پرون ورځ پر خپله ایکسپانه په دې اړه د هغه افغان ویډیویي خبرې خپرې کړي، چې پاکستان کې د کډوالۍ له ۱۴ کاله تېرولو وروسته اخراج شوی دی.

د دغه را شړل شوي کس نوم نه دی یاد شوی، خو په وینا یې توانېدلی چې یوازې دوه کمپلې له پاکستانه راوړي او اوس حیران دی چې څه وکړي.

په ورته وخت کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ وایي، چې دا مهال شاوخوا ۸ میلیونه افغانان د کډوالۍ او په کور دننه د بې ځایه کېدنې شپې ورځې تېروي.

د یادونې ده، چې د خوړو نړیوال پروګرام په ګډون بېلابېل بشري بنسټونه او افغان حکومت له پاکستانه راستنېدونکو کډوالو ته مرستې رسوي، خو د کډوالو اړتیا ډېره او شوې مرستې ورته بسنه نه کوي.»

په دغسې یو حال کې به دا راشړل شوي افغانان چاته، څنګه او چېرې خپل عرض او شکایت وکړي، طبعاً چې داسې پته نهشي موندلای او مجبوراً د خپل دردېدلي ژوند رنځونه د لنډیو په قالب کې وړاندې کوي.

*****

زموږ کوم ګاونډي هېوادونه چې افغان کډوال ډېرربړوي؛ دوی خپله کوردننه او په نړیواله کچه ګڼې ستونزې لري. پیاوړی قلموال څېړنوال ډوکتورعبدالغفور لېوال د پاکستان د اصلي ماهیت او له رامنځته کېدو سره ورسپارل شوې دندو په باب داسې حقایق بربنډ کړي دي:«

**پاکیستان**

## څه وايي؟ څه کوي؟ او څه غواړي؟

په سيمه کې د پاکيستان او په لوی سر کې د انګريزي ښکېلاک سياست هم خورا پېچلی دی، هم ډېر سرسري او ساده.

فقط بايد په دې پوه شو، چې دغه مصنوعي پوځي واکمني ولې په دې سيمه کې جوړه شوه او د سړې جګړې پرمهال څه ونډه ورسپارل شوې وه، تر سړې جګړې راوروسته د زبرځواکونو له ګټو سره سم پاکيستاني سياست او د پوځي چاونې لپاره جوړ شوي دغه هېواد برخليک څنګه بدل شو؟

په پاکيستان کې روان پوځي ناورين او په افغانستان کې يې له نوې واکمنۍ سره زرګري خرپ و ترپ او هاى و بګير دا ټول مديريت شوي دي. لاتراوسه هيڅه د دغه هېواد د پوځي استخباراتو له کنترول څخه بهر نهدي.

په دې منځ کې د پاکيستان اقتصادي کړکېچ ريښتيا دی. دا هېواد پر پيسومينځلو د ځار نړيوال بنسټ (FATF) له دې کبله په خړ ليست کې اچولی و، چې ګواکې ترهګر روزي. د پاکستان په اړه د ترهګرپالنې کليشه دومره مشهوره شوې، چې دغه هېواد يې له هره اړخه ځنډې ته کړی دی، له همدې کبله اوس غواړي د ترهګري بوينه مرداره د افغانستان خاورې ته راوغورځوي. پاکيستان يوه مصنوعي جګړه جوړه کړې، په ځپل غاصبانه قلمرو کې هغه انسانان (پښتانه او بلوڅ) وژني، چې پاکيستاني پوځ ته يې تر ژوند مرګ غوره ښکاري او دربيمه درجه اتباع بلل کيږي. پاکيستان پښتانه افراطيون وسلهوال کړي او پښتانه پرې وژني، په پنجاب و سند کې کراره کراري ده، پښتون و بلوچ وژل کيږي او پاکيستان شپه و ورځ چيغې وهي، چې د ترهګرۍ قرباني دی او

ترهګر له افغانستانه ورځي. دا هغه اپوټه شوې چيغې دي ، چې افغانستان په تېرو شلو کلونو کې د پاکيستان په وړاندې وهلې، خو دا دی، په دوو کلونو کې دا کيسه سرچپه شوه. د پښتنو په وژلو دغه هېواد خپل نړيوال دريځ له ترهګرپالنې د ترهګرۍ قربانۍ ته وربدل کړ.

پاکيستان ته بله ورپېښه ربړه دا ده، چې نور نو د تېرې نيمې پېړۍ په شان پريومهال د چين و امريکا دواړو يارانه پاللی نه‌شي. امريکا ورته کرښه راکاږلې، چې يا زه يا زما سيال. امريکا په تېره نيمه پېړۍ کې له چين سره د پاکيستان تر شاتو خوږه او تر سمندر ژوره (!) يارانه ځکه زغمله، چې يو خو يې د شوروي او بيا په ظاهره د ترهګرۍ په ضد جګړو کې پاکيستان ته اړتيا ډېره وه او بله دا، چې تر ۲۰۰۰ کال مخکې چين لا له اقتصادي پلوه دومره نه و پرسېدلی، چې د امريکا ګټې دې تر دې بريده وګواښلای شي. اوس امريکا په زغرده اعلان وکړ، چې روسيه يې دوښمن او چين يې تر ټولو لوی اقتصادي رقيب دی او پرې به نه‌ږدي، چې ژېړښامار تر دې لا غوټ او خونړی شي.

د پاکيستان لويه تمه سي پيک (يوه لار، يو کمربند) ته وه. دا د چين څو ميلياردي پروژه وه، چې پاکيستان يې د لنګې غوا په شان لوشلو ته باديه ډنګوله، خو اوس لکه چې امريکا دغه باديه له خاورو ورډکه کړه. بلوڅ پاڅون د چين ګټې ګواښي. بلوڅان جدي دي. بلوڅان د پښتنو په شان د پنجابي مدرسو په ايډيولوژيک منتر کې ښکېل نه دي، نه د پاکيستان پروا لري او نه د پاکيستاني استخباراتي ملايانو او نه د هغوی د تکفير.

پرپاکيستان دواړه لنګې غواګانې وچيږي. امريکا لغتې اچوي، چې له چينه لاس وانه‌خلې ټکی شيدې به درپرې نه ږدم او چين ورته وايي: لاره راکړه او زما د څوميليارد ډالري پروژې امنيت ټينګ کړه، چې غولانځه درپرېږدم او که نه زهر دې شه.

پاکیستاني پوځ چې د سرې جګړې پر مهال له نړیوالې سیالۍ پریمانه پیسې ګټلې د انګریز و امریکا د لنګو غواګانو په وچېدو چین ته داړې جنیګې کړې، خو له ژېړ ښامار څخه ویښته شکول له اور سره لوبه ده.

پاکیستاني پوځ د خپل تاریخ په اوږدو کې لومړی ځل دی په خپلمنځي ویش و تربګنۍ اخته شوی، دا شی د پاکیستان ملا ماتولای شي. د پوځ دننه پټې و ښکاره شخړې او نادودې اقتصادي لاملونه لري. پوځ د پاکیستان خاوند و، د ټولې پاکیستاني ګټې سرشیر و پیروی یې خوړ. جنرالانو یې په نړۍ کې رومانتیک ټاپوګان په پیسو اخیستل او د نړۍ ښکلې ماڼۍ او نجونې د دوی وې. ساده پوهاوی یې دا دی، چې د دغه پړسول شوي پوځ خېټه غټه، اشتها ډېره خو مخه یې سپېره ده.

اوسنی پاکستان دغه پوځ په ګېډه مړولای نه شي، ځکه نور نو نه د سړې جګړې نازولی دی او نه د ترهګرۍ د جګړې اسانچاری، بلکې پر داسې دوه‌لارې ولاړ دی، چې یا باید چین ته مخه کړي، یا امریکا ته.

په پاکیستان کې روانه جګړه د چین او امریکې د ګټوشخړه ده او پاکیستان یې له دواړو څخه د څه بودولو په تمه مدیریت کوي، لاتراوسه یې قربانیان یوازې ساده پښتانه او مظلوم بلوڅان دي. پاکیستان په روستیو شپېو کې چین ته وایي: پیسې رادېرې کړه، چې د سی- پیک امنیت خوندي کړم او امریکا ته وایي: شکرانه راډېره کړه، چې له خپل ګاونډي ملګري ښامار سره د دوستۍ پرېښودلو په قیمت خو وارزي.

امریکا ته د پاکیستاني پوځي واکمن روستی سفرد همداسې یوې غوښتنې لپاره و، خو له ورایه داسې ښکاري، چې امریکا چندان دانه نه‌ده ورته اچولې.

پاکیستان په بشپړه بېرحمۍ افغان کډوال راشړي، ځکه نور نو دوی ته د سرې جګړې او د امریکايي پروژو د چلولو د زمانې په شان وړیا سرتیري نه ښکاري، خو اصلي کیسه دا ده، چې په دې شورماشور او لچرۍ کې نړۍ ته ښيي: چې ګواکې هم پخوا افغان کډوال ترهګر وو او هم اوس.

پاکیستان له پښتنو ملتپالو پخوانۍ [ دهیند د ویش له زمانې] ویره لري، د دې لپاره انګریزانو درې لارې ورښوولې وې:

**لومړۍ:** پښتانه په دین مېین خلک دي، نو په عقیدوي لومه کې راښکېلولای شي. پرېمانه استخباراتي مدرسې، جوماتونه او خانقاوې ورته جوړې کړه او سرکاري ملایان، شېخان او پیران ورته وټاکه. دا په خولو کې ورکړه چې پاکستان قلعه اسلام، دارالاسلام او یوازینی هېواد دی، چې د اسلام په شعار جوړ شوی دی. بس په همدې دې پښتانه وړیا اربکیان دي.

**دویم:** ملتپال یې په خپلو کې ښکېل کړه، د واک او امتیازاتو په تمه یې سره دوښمن کړه، قبیلوي شخړې ورجوړوه، په سني و شیعه یې وویشه، تربورګلوي په کې چاغه کړه، له ښوونځیو او پوهنځیو یې لرې ساته، شعوري یووالي او ویښتیا ته یې مه پرېږده. ترهرڅه وړاندې یې ملتپال وروځپه.

**دریېم:** په واک او پوځ کې یې انفرادي شامل کړه، پرېږده چې تر لوړو څوکیو ورسیږي، خو د افرادو په توګه. هیڅکله یې د ملتپالو جوړښتونو په چوکاټ کې سیاست ته مه راوله. د ملتپالو پرځای یې بنسټپال او استخباراتي دینچاري پیاوړي کړه، مدرسې ورکړه او مریدان ورته ونیسه.

له دې سره به پاکيستان‌ميشتي پښتانه هم ستا شي او ساده کليوال افغانستان‌ميشتي پښتانه به هم تر خپل افيوني اغېز لاندې خپل وړيا سرتيري کړې.

بلوڅ ملتپال مبارزين په دوو دلايلو تر پښتنو ملتپالو بريالي او ګواښمن دي، لومړی دا چې د استخباراتي مدرسو په جال کې ښکېل نه شول. او دويم ملتپال مبارزين يې د پاکستاني استبلېشمېنت په جال کې ونه‌نښتل. د څوکيو نيولو په ليونتوب کې يو له بل سره دوښمني ته د پاکيستان‌پلوۍ سيالي پيل نه کړې.

په افغانستان کې له پاکيستان څخه کرکه په يوه قاطع عامه ذهنيت بدله شوې ده، دا کرکه دومره عمومي او ساري ده، چې که هرڅوک غواړي په افغانستان کې واک ولري، ښايي لږ ترلږه خپله پاکيستان‌پالنه پټه کړي. کېدلای شي د واکمنې وسلوالې ډلې ځينې عام او په قاعده کې بې صلاحيته غړي به د ملي ولولو تر اغېز لاندې ريښتيا هم د پاکيستان مخالف وي، يا به يې په منځ کې ځينې فرکسيونونه له دې هېواده کرکه لري، خو مبهمه تصميم‌نيونکې هسته لاهم تر بشپړ استخباراتي کنترول لاندې ده.

پاکيستان پر افغانستان واکمنې ډلې باندې د فشار راوړلو او دوی په خپل مديريت و کنترول کې ساتلو لپاره خورا ډېر ريزرفونه په لاس کې لري. ملا فضل‌الرحمان له خپلې هيندوستاني ژېړې پګړۍ سره لاهم ايډيولوژيک راج چلولای شي. د اکوړه خټک حقانيه مدرسه او زرګونه نورې هډې لا هم د کنترول د رېموټونو کار ورکوي. پر افغانستان د واکمنو د کورنيو، شتمنيو او کاروبارونو د يرغملتيا مهمه برخه خو لا هم د پاکيستانيو په واک کې ده.

د پاکيستاني طالبانو د خرپ و ترپ چاودنې و وژنې پاکيستاني استخباراتو ته څو ګټې لري:

**لومړی:** ټولې نړۍ ته ورښيي، چې پاکيستان د ترهګرو روزونکی او پالونکی نه، بلکې ګواکې د ترهګرۍ قرباني دی او دا په حقيقت کې افغانان دي، چې هم خپل وطن او هم پاکستان او د نړۍ نور هېوادونه ګواښي.

**دويم:** په دې ګډوډۍ کې ريښتيني پښتني ملتپال ځواکونه او غورځنګونه په اسانه ځپل کېدلای شي.

**دريېم:** ظاهراً په پاکيساني تاليبانو پسې راوتلی پاکيستاني پوځ ټوله پښتني سيمه لاندې کوي، خپل هر ډول مخالفين ځپلی شي او ملتپال غورځنګونه له پښنو غورځولای شي. په دويم ګام کې ځان خپل سراتيژيک عمق ته هم رسولای شي او هغه په افغانستان کې دننه پوځي – استخباراتي جال غوړول دي.

**څلورم:** پوځ خپل بشپړ واک ساتي او په ټوليزه توګه ديموکراتيکو جوړښتونه ته د مخالفت او ځان خوځولو وخت نه پاتيږي.
پينځم: امريکا ته ويلای شي، چې موږ لا هم د نيابتي جګړو د غځولو توان لرو او هرځای دا چاره ترسره کولای شو.

**شپږم:** ټولې خونړۍ پيښې د پښتنو او بلوڅو په سيمو کې متمرکزې او منحصرې دي، دلته خو يو پښتانه تباه کيږي او د «رياست!» دوښمني ته زړه بنه کولای نه شي، بله خبره دا ده، چې د ځپل شويو سيمو ټول اقتصادي امکانات او سرچينې (اوبه، کانونه، بشري ظرفيت، کرنيز محصولات او نور) به وړيا پنجاب ته وررسيږي.

پاکیستان لکه لړمه د خپلو بچو په غوښنو پایي، خو ستراتیژیک اهداف یې ډېر پاخه ټاکلي. چې غواړي په هره بیه او خورا خونړیو لارو هم ځان وروروسوي.

له دې لړمې د ژغورنې ایکې یوه لاره ده؛ د ټولو افغانانو او تر ډېورند کرغېړنې کرښې پورې غاړه پښتنو ویښتیا او روښانتیا، یووالی او لوړ سیاسي شعور.

د انګریز او پاکیستان له زړو چلونو او دسیسو یې خبرول او د دوی د شعوري ارادې په رڼا کې له روان ناورین څخه د ټولې افغاني جغرافیې ژغورل.

**«بلـه هېـڅ لیدلي نه شي پـه دا منځ کې**
**یا مغول له مینځه ورک یا پښتون خوار»**

سمه ده چې افغانستان به وروسته له پنځوس کلنو کړکېچونو څخه ستونزې لري؛ خو که مو ګاونډیان ارام پرېږدي، افغانان کولای شي د نوي ژوند د جوړولو له پاره له خپلې لارې څخه هرڅه لرې کړي.

ګاونډیان تل افغانان ترخوړ ګوتې نیسي چې اوس یې کډوال په ډلهایز ډول راشړي او نوې ستونزې ورته زېږوي.

*****

میډیا په دوامدار ډول له ایران او پاکستان څخه د افغانانو د شړلو راپورونه خپروي. دوچولي په یوه رپوټ کې ویلي دي چې داسې هم شوي دي چې د بېاسناده افغانانو د ایستلو په ترڅ کې، اسناد لرونکي افغانان هم شړل شوي دي. دا هم د دوچولې د رپوټ یوه برخه:

«رویترز خبري آژانس د سه شنبې په ورځ د دوو سرچینو له قوله خبر ورکړی دی چې له پاکستانه د افغانانو د اخراج په لړ کې د هغو افغانانو له ډلې هم ځینې کسان اخراج شوي دي چې امریکا متحده ایالاتو ته د تلو له پاره په دغه هېواد کې انتظار باسي.

افغان ایوک، د هغو ټیمونو اصلي ائتلاف دی کوم چې امریکا ته تلونکو افغانانو سره مرسته کوي. د دغه ائتلاف مشر، شاون وندایور، وایي لږ تر لږه ۱۳۰ افغانان چې په امریکا کې د مېشتیدا له پاره بې د امریکا د مهاجرت ځانګړې ویزې پروسس شوي، اخراج شوي دي.

هغه دغه ارقام د ائتلاف د غړو او په اسلام آباد کې د امریکا سفارت له خوا د چمتو شوو معلوماتو پر اساس چې هغه لیدلي، ورکړي دي.

وندایور وویل چې د پاکستان پولیسو ۲۳۰ دغه ډول افغانان نیولي، چې تر اوسه بې شاوخوا ۸۰ کسان بېرته خوشي کړي دي.

یوه لوړ پوړي حکومتي چارواکي د نوم نه ښودلو په شرط وویل چې امریکا متحده ایالات «داسې کوم رسمي طرزالعمل نه لري تر څو دا ډول کیسونه تعقیب کړي.»

هغه دا هم وویل چې امریکا ته د تلو په انتظار افغانانو له ډلې «ډېر کم» شمېر بې اخراج شوي دي.

اسلام آباد په اکتوبر میاشت کې ټولو هغو افغانانو ته چې په دغه هیواد کې د اوسېدو قانوني اسناد نه لري، یوه میاشت یا د نومبر تر لومړۍ وخت ورکړ چې په خپله خوښه له دغه هېواد ووځي.

له دغه اعلان سره سم، د امریکا سفارت د ایمیل له لارې شاوخوا ۲۵۰۰۰ افغانانو ته د حفاظت اسنادونه واستول تر څو بې پاکستاني

چارواکو ته ثابته کړي وي چې په امریکا کې د دوی د مېشتیدا کارونه پروسس شوي دي.

د امریکا متحده ایالاتو خارجه وزارت ویاند هم وایي چې «په اکتوبر کې د بې اسناده مهاجرو د اخراج پلان وروسته» واشنګټن پاکستان ته د هغو افغانانو نوملړ وسپاره چې په امریکا متحده ایالاتو کې هستوګن کیږي.

شاون وندایور، د دوو غربي دیپلوماتانو له قوله چې نه یې غوښتل نومونه یې واخیستل شي، وویل چې پاکستاني چارواکي په اکثرو مواردو کې د حفاظت پر دغو پانو سترګي پټوي. هغه وایي دغه لیکونه یوازې په ځینو مواردو کې مهم ګڼل کیږي، اما ټول ځایي چارواکي یې اطاعت نه کوي.

رویترز وایي امریکا ته د پاکستان د کورنیو او بهرنیو چارو وزارت په دې هکله د دوی پوښتنو ته ځواب نه دی ورکړی.

د پاکستان د کورنیو چارو وزارت د نومبر میاشتي په نیمایي کې وویل هغه افغانان چې په پاکستان کې امریکا ته د تګ له پاره انتظار دي، نه نیسي.

هغه وخت د فرانسي خبري آژانس ویلي ول چې په دې هکله د پاکستان د کورنیو چارو وزارت په لیک کې راغلي: «د امریکا د اعلان له مخې ۱۱۵۰ افغان وګړي چې په امریکا کې د ځای پر ځای کېدو اسناد لري باید تر راتلونکې خبرتیا پورې اخراج نه شي.»

دغه راز د بيبيسي په يوه رپوټ کې هم دې ته ورته يوه کيسه راوړل شوې ده. دا هم د بيبيسي هغه رپوټ چې بهر ته تلونکي افغانان هم له پاکستان نه شړل شوي دي:

«رپوټونه وايي پاکستاني پوليسو لسګونه هغه افغانان نيولي او بېرته يې افغانستان ته شړي چې په اسلام اباد کې د امريکا ويزو ته په انتظار وو.

د اکتوبر په مياشت کې امريکايي چارواکو له پاکستانه غوښتنه کړې وه چې د امريکا ويزو ته انتظار افغانانو دې نه نيسي او بېرته دې افغانستان ته نه استوي.

خو ځينو هغو چې بېرته په اجباري ډول استول شوي له رويترز خبري اژانس سره خبرې کړې او ويلي دي چې پاکستاني پوليسو د امريکا د سفارت لخوا دوی ته ورکړو اسنادو ته هم پام ونه کړ.
ويل شوي چې دا کسان د پاکستان د ويزو د نه لرلو له امله افغانستان ته استول شوي دي.

د افغان ايواک يا هغه بنسټ چې له افغانانو سره امريکا ته په تګ کې مرسته کوي مشر رويترز خبري اژانس ته ويلي چې لږ ترلږه ۱۳۰ تنه هغه افغانان چې په امريکا کې يې د ايس ای وي کيسونه لرل او امريکا ته يې د تګ چارې په جريان کې وې د پاکستاني پوليسو لخوا نيول شوي او په اجباري ډول بېرته افغانستان ته استول شوي دي.

له دې ډلې دوو کورنيو له رويټرز سره خبرې کړې او ويلي يې دي چې د امريکا د سفارت لخوا يې ترلاسه کړې اسناد پاکستاني پوليسو ته وښودل، خو هغوی ورته پام ونه کړ...»

په همدې ستونزو پورې اړوند بېشمېره لنډۍ تخلق شوې دي چې ډېره برخه يې راخونې شوې ده.

*****

ځوورځې مخکې د طالب مقاماتو په حواله د ميډيا په رپوټونو کې راغلي وو چې د پاکستان په زندانونو کې ۶ زره افغان کډوال بنديان دي. په همدې باب د تاند په يوه رپوټ کې داسې راغلي وو:

«تاند (سې شنبه، د جدي ۱۲ مه) د طالبانو د کډوالو او بيرته راستنيدونکو چارو وزارت مرستيال عبدالرحمن راشد وايي چې د پاکستان په زندانونو کې تر ۶ زرو پورې افغان کډوال بنديان دي.

د هغه په وينا، د دغو کډوالو د خوشې کولو لپاره پاکستاني چارواکو سره خبرې روانې دي.

د راشد په خبره، له يو شمېر پاکستاني زندانونو څخه د دوی په هڅو تر ۶۰۰ پورې افغان بنديان خوشې شوي هم دي.

پاکستاني چارواکو په دې اړه څه نه دي ويلي.

د پاکستاني ځواکونو د ناوړه چلند له امله وخت په وخت افغان کډوالو شکايت کړی.

ګڼو نړيوالو بنسټونو هم تاييد کړې چې پاکستان پر افغان کډوالو ظلم کوي، خو عملاً يې د دغه چلند په کمولو او مخنيوي کې کومه لاسته راوړنه نه ده ليدل شوې.»

دغه راز په ایران کې هم ګڼشمېر افغانان په زندانونو کې پراته دي او بدې ورځې تېروي. په ایران کې د افغان بندیانو په باب د تاند په یوه بل لنډکي راپور کې داسې راغلي دي:

«تاند (چارشنبه، د جدې ۱۳ مه) د طالبانو د کډوالو او بېرته راستنېدونکو مرستیال وزیر عبدالرحمن راشد د ایران په زندانونو کې د شاوخوا ۷ زرو افغان کډوالو د موجودیت خبر ورکړی.

نوموړي په یوه مرکه کې د دوی د خوشې کولو د هڅو یادونه هم کړې او ویلي چې په دې لړ کې شاوخوا ۴۰۰ بندیان را خوشې شوي هم دي.

د طالبانو له بیا واکمنېدو راهیسې د پاکستان تر څنګ لسګونه زره افغانان ایران ته هم کډوال شوي چې یوه لویه برخه یې بېرته په زوره ایستل شوي.

را ایستل شوي کډوال د ایراني ځواکونو له ناوړه چلند څخه شکایت لري او وایي نه یوازې له شکنجه کولو وروسته یې وباسي؛ بلکې شتمنۍ یې هم لوټي او تش لاس یې افغانستان ته ستنوي.

د طالبانو د کډوالو وزیر خلیل الرحمان حقاني هم یو ځل منلې وه چې ایران نه ستانه شوي کډوال له همداسې چلنده شکایت کوي.

یو شمېر خلک بیا پر طالب چارواکو نیوکه لري، چې په بهرنیو هېوادونو کې د افغان کډوالو وضعیت ته سمه پاملرنه نه کوي.»

د ګاونډیو هېوادونو (ایران ـ پاکستان) په زندانونو کې د افغان بندیانو جُرم څه دی؟ او په زندانونو کې یې حالت څه ډول دي؟ په دې باب څوک سم معلومات نه وړاندې کوي.

له ګاونډیو هېوادونو (ایران ـ پاکستان) څخه د افغان کډواولو د راشړلو کیسه اوس په یوه عادی خبر باندې بدل شوی دی او ښایي نړیوالو ته یوه عادي موضوع ښکاره شي؛ خو د افغانستان د خلکو لهپاره دا د یوه داسې ستر اوښتونه بڼه لري چې چې په اوسمهال او راتلونکو کې د دوی پر ژوند باندی ښایي ناوړه اغیز ولري. پر افغانستان باندې حاکم خلک که څه وایي که یې نه وایي. خو خلک یا ژر یا ورو خپل عکس‌العمل ښیي او خپل غږ باسي.

*****

پاکستان د رامنځته کېدو له ورځې، بیا ترنن پورې زموږ د هېواد او خلکو له پاره د یو لوی «سردرد» په په ډول د افغانستان تن او بچیان زورولي دي. دا چې انګلیس د څه موخې لهپاره دا هېواد رامنځته کړ، پر دې باندې د نړی ډېری خلک پوهېږي او لا ترنن پورې یې د خپلو ستراتېژیکو موخو لهپاره په ماهرانه ډول کاروي.

پاکستان د خپل تاریخ په اوږدو کې ډېرځلې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کړې ده، اوه ځلې یې په برالا ډول په افغانستان کې مداخله کړې ده. د کابل پوهنتون پخوانی استاد افغان اقتصاد پوه، څېړونکی او د نظرخاوند، استاد مسعود عملاً په میډیا کې فعال دی او د خپلې مسلکي پوهې پر بنسټ جالب لکچرونه وړاندې کوي.

استاد مسعود د افغانستان په چارو کې د پاکستان د لاسوهنې او عملي مداخلاتو په باب، ویلي دي چې پاکستان «**په اوو دورو کې، د اوو پلمو له مخې، اوه‌ځلي مداخله**» کړېده. ده په یوه ځانګړي لکچر کې په افغانستان کې د پاکستان د مداخلاتو په باب توزیحات وړاندې کړې دي چې دلته یې زه لنډیز وړاندې کوم:

«پاکستان له پیل نه ترنن پورې، په اوو دورو کې د اوو پلمو له مخې ـ اوه‌ځلې په افغانستان کې مداخله کړې ده.

ــ په ۱۹۵۳ ام میلادي کال کې پاکستان افغانستان بمبارد کړ،

کله چې په ۱۹۵۶ کال کې د افغانستان مشرانو جرګې دولت (د داود خان د صدارت دوره) ته وویل چې له روسیې څخه وسله وپیري، افغانستان سرې جګړې دایرې ته ننوزي،

ــ په ۱۳۵۲ ام کال کې د داود ترکودتا وروسته د دولت له‌پاره د سرخوږي رامنځته کولو په موخه پاکستان د تبیلیغاتو په بنه مداخله وکړه، خلک یې د دولت پرضد وپارول او بله موخه یې دا وه چې داود خان له شوروي لرې شي،

ــ په افغانستان کې د ثور تربدلون وروسته عملاً یې د مداخې کار پیل کړ، د بدلون او نوي دولت ضدکسانو ته یې داسې پناه ورکړه چې روزل یې، په وسلو او پیسو یې سمبالول او بېرته یې افغانستان ته د جګړې او وراني له‌پاره لېږل. پر افغانستان باندې د روسانو له تیري سره سم یې دا مداخله نوره هم ګړندۍ شوه او د پاکستان عاید هم څوچنده زیات شو،

ــ په ۱۹۹۱ ام میلادي کال کې د تنظیمي حکومت په رامنځته کېدو سره د پاکستان بله مداخله داسې پیل شوه چې پاکستان د تنظیمونو له اتحاد او یوالي نه ډارېده، نو یې د دوی له ناپوهۍ نه په استفادې سره تنظیمونه داسې سره وجنګول چې افغانستان په تېره کابل یې لوټه ـ لوټه کړ او د برهان‌الدین رباني په مرسته یې د افغانستان مسلح قوتونه منحل، وسلې یې ټولې پاکستان ته ولېږدولې، او د افغانستان ټول اقتصادي بنسټونه یې خاورې ایرې کړل،

ـ د طالبانو لومړۍ دوره: کله چې طالبان قدرت ته راغلل، ورو ـ ورو پسې ملي کېدل او د ملي ګټو فکر ورته پيدا شو، پاکستان د ايران ـ سعودي او امريکا په مرسته مداخله وکړه او د طالبانو لومړۍ دوره يې ورختمه کړه او د بي ۵۲ په زور يې اسلامي جمهوريت رامنځته کړ،

ـ په افغانستان کې د اسلامي جمهوريت په رامنځته کېدو سره پاکستان غوښتل چې هرڅه په خپله ګټه وڅرخوي، خو داسې حرکتونه رامنځته شول چې د پاکستان د غوښتنو پر ضد درېدل احساس شول،
له جمهوريت سره ناتو او امريکا هم راغلل، تر ۲۰۰۷ ام کال پورې ښه کار وشو او اقتصادي پرمختګونه رامنځته شول، خو کار د کار اهل ته ونهسپارل شو، فساد ورځ تربلې وده وکړه او هرچا د خپل ځواک ټينګولو او جيب ډکولو لهپاره کار کاوه،

بيا د پاکستان پلانونه او غوښتنې ترسره نه شول، له امريکا سره يې د طالبانو د خبرو زمينه برابره کړه، د دوحې تړون لاسليک شو د جمهوري اسلامي تغر يې ورټول او د طالباني امارت ګلم يې وغوړاوه او له هماغې دروازې نه چې جمهوريت راوستل شوی و بيا يې طالبان راوستل او پر افغانستان باندې يې حاکم کړل،

ـ د طالبانو دويمه دوره: دا دوره چې همدا اوس د افغانستان پر ستيژ باندې روانه دوره ده؛ بياهم هرڅه د پاکستاني سناريو پرضد روان دي او پاکستان هڅه کوي چې د طالبانو ګلم بيا ورټول کړي او بيا چې څه ابادي او اقتصادي کارونه شوي دي، هغه هم خاورې ايرې کړي.»

د زياتو معلوماتو له پاره درانه لوستونکي کولای شي لاندې لينک ته مراجعه وکړي:

https://www.youtube.com/watch?v=wyXxTNVd7Zs&ab_channel=UstadMasoud

د پاکستان د یادو اوو مداخلاتو په لړکې انساني تلفات هم د افغانانو په برخه شول، اقتصادي تاوتونه هم افغانانو ته داسې ورواوښتل چې دا دی اوس د پولۍپړق ته ناست دي او د افغانستان تر نوي سلنې ډېر نفوس د فقر ترکربښې لاندې ژوند کوي.

په دې ډول په یوه اوږده موده کې له افغانانو او افغانستان سره د پاکستان پرلپسې خیانتونو او جفاګانو د افغانانو په زړونو کې د پاکستان پر ضد د نفرت تخم په خپله د پاکستان سیاسیونو او نظامیانو وکاره چې پایلې به یې د ډېر اوږد وخت لپاره ډېرې منفي وي.

*****

له ایران او پاکستان څخه د افغان کډوالو دلهایزه شړنه، په یوه ناسور زخم اوښتي دي، نړیوال هم هغسې چې ښایي نه مرسته کوي، نه منځګړیتوب کوي او نه هم په زغرده ایران او پاکستان ته څه وایي. په ایران او پاکستان کې د افغانونو وهلټکول، سپکول زنداني کول او راشړل په یوه عادي کار بدل شوي دي. د یوه نوي رپوټ له مخې ویل کېږي چې په تېر میلادي کال کې یوازې په پاکستان کې ۳۰زره افغانان بندیان شوي دي. د تاند په یوه رپوټ کې د دې ستونزې په باب داسې راغلي دي:

«تاند (یکشنبه، د جدي ۱۰ مه) د کډوالۍ نړۍوالې ادارې یا (ای‌اوام) او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ یا (یواناچسي‌ار) پر پاکستان د افغان کډوالو د بندي کولو پر پراخې لړۍ نیوکې کړې.

دغو دواړو ادارو د ۲۰۲۳ کال په ګډ راپور کې ویلي چې په دغه کال کې په پاکستان کې څه باندې ۳۰زره کډوال نیول شوي دي.

د دغه بنسټ د راپور له مخې، ډېرى افغانان په بلوچستان ایالت کې نیول شوي دي.

د طالبانو تر واک لاندې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ویاند عبدالمطلب حقاني وایي چې پاکستان ظاهراً افغان کډوال د قانوني اسنادو د نه لرلو په پلمه نیسي، خو په نیول شویو کې قانوني اسناد لرونکي هم شامل دي.

د کډوالۍ د نړۍوالې ادارې او د پناه غوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ دغه راز ویلي چې تر اوسه له پاکستانه ۴۸۳ زره کډوال بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي.
دا خبرونه په داسې مهال دي چې د طالبانو واکمن رژیم تر اوسه پاکستان سره یو ځل هم د کډوالو د موضوع په اړه خبرې نه دي کړي.

د سیاسي او نړیوالو چارو کارپوه غوث جانباز له دې امله پر طالب رژیم نیوکې لري او وایي چې دغه رژیم په تشو خبرو د پاکستان د دې کړنو مخالفت ښیي، خو عملاً یې د حل لارې په توګه هیڅ کومه هڅه نه ده کړې.

طالب چارواکي بیا وایي چې سلګونه افغان بندیان یې د پاکستان له زندانونو خوشې کړي او پاکستان نه یې د کډوالو په موضوع د خبرو غوښتنه کړې ده.»

په هرډول چې وي اوس خو افغانانو له داسې یوې ستونزې سره لاسګرېوان دي چې له هره اړخه یې چې ګورې، تاوان یې افغانانو ته

رسېږي او دوی دا تاوان د وهلو ټکولو او لا زنداني کېدلو په بيه پرځان باندې مني او د اواز جګولو بله هېڅ لاره هم نه لري، پرته له دې چې په لنډيو يا نورو سندرو او شعرونو کې خپل غږ جګ کړي.

*****

څه ناخوالي او بدمرغۍ چې زموږ خلکو او وطن ته ورپېښې دي، دا زموږ د ناپوهۍ، بېسوادۍ او لکه د ګاډۍ اس په پټو سترګو د روانېدلو نتيجه ده. موږ ځان نه‌بدلوو او دا پوښتنه نه‌کوو چې ولې داسې يو او ولې د نورو له خوا داسې کارول کېږو؟ همدې ستونزو ته زموږ د وطن يو په خبره پوه قلموال داسې اشارې کړې دي:

«درويشت کاله پخوا عرب ترهګرو امريکايي الوتکې د نيويارک و پينتاګون پر ودانيو وروغورځولې، خو امريکا يرغل په افغانستان وکړ.

امريکا ويل: موږ او زموږ شپږ‌پنځوس نور ناټوغړي شريکان دلته د اسامه بن لادن کوربنو او پناه ورکوونکيو له لاسه راغلي يوو.

نو داسې يې شل کاله د افغانستان خلک و کړول، خپل پخواني جهادي – تنظيمي شريکان يې په ډالرو او فسادي ګټو وپړسول او په پای کې يې بېرته هماغه د اسامه کوربانه راوستل او افغانان يې د دويمې هجري پېړۍ متحجر استبداد ته کېنول.

په پاکيستان کې د اکوړه خټک، لاهور او کراچۍ د مدرسو روزلي ځانمرګي په پښتونخوا و بلوڅستان کې وژنې کوي، نګران لومړی وزير ښاغلی انوارالحق خان هره ورځ په افغانستان کې دننه د پوځي عملياتو ګوته ښندي.

انتخابات د پاکیستان ټیکاو نه مومي، په نه کړې ګناه یې منظور پښتین او ماه‌رنګ بلوڅ زنداني کړي دي.

ایران له امریکا او اسرائیلو سره د فلسطین په غزه کې ښکر اړم کړي، خو کله، چې په کرمان کې چاودنې وشي، د کورنیو چارو وزیر یې وایي: له افغانستان سره په پوله به دیوال وهي، چې مچومیاشی هم وروانه وړي.

روسان له ناټو او لویدیځ سره په یوکراین کې خرېپه‌خرې دي، خو پوتین چیغې وهي، چې ویره یې له افغانستان څخه ده او د تاجیک ولسمشر پښې دلته رپي.

چین د امریکا په سیالۍ کې غواړي له ټولې نړۍ د سوداګریزې لارې ملاوستنی (کمربند) راتاو کړي او خپل تولیدات مخامخ هرځای ورسولای شي، خو په ضد یې وژنې، چاودنې، تښتونې او اورلګونې له ګوادر بندره رانیولې په ټوله پښتونخوا، بیا ان تر واخان کوریدور او قراقروم دښتو پورې رواني دي، زمکه په کې د پښتنو او بلوڅو سوزي او د جبهې شا یې افغانستان دی او ایغور ترهګر په بدخشان و وزیرستان کې دېره دي.

د «داعش» نوم له دغو تورو اخیستل شوی: (الدولة الإسلاميّة في العراق والشام) یعنې په عراق او سوریه کې اسلامي دولت! خو سر یې له تورې بوړې راوځي، یا له کونړ یا هم په شمال کې د امو له غاړو. سپین‌ږیري د شینوارو په بمونو کینوي، نوی زېږېدلی ماشوم د خوریانو له منځه دوه ځایه کوي، د کوشنیو ماشومانو کورسونه په دشت‌برچي کې الوځوي او د جهادالنکاح لپاره د ډیورند دواړو غاړو خویندې میندې په جنسي مینځو بدلوي.

پاکیستان و هیندوستان یو د بل په وړاندې چاودنې او غویمنډ په کابل کې کوي، د مومبای تاج‌محل هوټل ترهګر د ډیورند په غاړوپېټ وي، د هیندوستان الوتکه کندهار ته راتښتول کیږي او په بدل کې یې د انصارالمجاهدین ملا مسعود اظهر او څلور تنه نور ترهګر غوښتل کیږي او هیندوستان یې هم ورپرېږدي.

چې د ایران و سعودي و نورو ترمنځ دوښمني لویه شي او د چین د ژېړ ښامار پانګونې ته د ګواښ پېښولو اړتیا پېښه شي، دلته په کورمه، پاړه‌چنار، هنګو او نورو سیمو کې د شیعه – سني جګړه توده شي، دواړه لوري پښتانه او سره تره‌زامن وي یو بل ته لارې ونیسي او لس، لس و شل، شل راوغځوي، خو یو لوری هم نه پوهیږي، چې ولې؟ او د څه لپاره؟

د افغانستان نیمایی نفوس (نجونې او مېرمنې) په افغانستان کې زنداني دي، له ښوونځي، پوهنځي، کار او انساني حقونو بې‌برخې او لرې ساتل شوې، خو د انګلستان های کمیشنره «جېن ماریوټ» له پاکیستاني ملافضل‌الرحمان سره په اسلام آباد کې په دې اړه خبرې کوي، چې له دې نجونو او ښځو سره بالاخره باید څه وشي؟

یوه بله «رینا امیري» په امریکایي امکاناتو ګرځي راګرځي، چې نه پوهېږم د افغان ښځمنو له حقونو څخه کوم ځای او له چا څخه دفاع کوي؟ یو الله ج پرې خبر دی. له بلې مېرمنې «روزا اوتونبایوا» سره ایله دې پایلې ته رسېدلي، چې: خیر افغان نجونې که ښوونځي ته نه‌پرېښول کېږي، نو مدرسې دې ووایي. (که ډوډۍ نشته، کولچې دې وخوري!).

«دا د پټي سر دی، پټی بېرته سورور دی!»

په دغسې يو حالت کې چې افغانان راګير دي او نړيوال استخبارات لکه لېوان له هرې خوا سپينږيري افغانستان ته خوله وراچوي او نور يې هم له ټپونو وينې بهوي، څه کول پهکار دي، شکايت او حکايت هېڅ ګټه نهکوي؛ يوهه ترلاسه کول په کار دي د پوهې د ځراغ په رڼا کې په سياسي هوښيارئ سره له دې حالت نه ځان ايستل په کار دي، کهنه ټول عمر به همداسې ټپي - ټپي يو او څو نور نسلونه به مو هم قرباني وي.

*****

له پاکستان څخه د افغانانو د راشړلو په برخه کې د پاکستاني امنيتي ځواکونو ظلم او ناروا ميډيا د ټولې نړی ترخلکو پورې ورساوه او له هېڅچا نه دا ظلم پټ نه دی، خو ملا فضلالرحمن د يوه کرايي ملا په رول کې په سپينسترګی سره ويلي دي چې بنايي له افغانانو سره د ايستلو پرمهال يوه سلنه چلن به ناوړه وه. د تاند په يوه رپوټ کې په دې باب داسې راغلي دي:

تاند (يکشنبه، د جدې ۲۴ مه) د پاکستان د جميعت علمای اسلام ګوند مشر ملا فضل الرحمن چې افغانستان ته په يوه سفر راغلی و، له ملي تلويزون سره د مرکې پر مهال ادعا کړې چې له افغان کډوالو سره د دوی د ايستو پر مهال به د پاکستان يو فيصد چلند ناوړه وي.

نوموړي دا خبره د هغې پوښتنې په ځواب کې وکړه، چې ورځخه د ايستل کيدونکو افغان کډوالو د شتمنيو د ضبط او ناوړه چلند په اړه وه.

هغه ادعا وکړه، چې هېواد يې ځلوېښت کاله د افغان کډوالو ښه مېلمه پالنه کړې او د دوی رخصتول هم بايد له ښو خاطرو سره وي.

فضل الرحمن د دې ترڅنګ، له افغان کډوالو سره د پاکستاني ځواکونو د ناوړه چلند د راپوروونو توجیه هم وکړه او ویې ویل، چې په دې برخه کې به د دوی ځواکونه او استخبارات ځینې راپوروونه ولري.

دغه پاکستاني سیاستوال په افغانستان کې د طالبانو له واکمن رژیم څخه خوښي وښوده او له نړیوالو یې د په رسمیت پېژندلو غوښتنه وکړه، خو د پاکستان له لوري یې نه په رسمیت پېژندل د خپل هېواد د «مصالحو» په نظر کې نیول یاد کړل.

فضل الرحمن له طالب چارواکو څخه د ده د ښې مېلمنه پالنې مننه وکړه او ویې ویل، چې خورا درناوی یې ورته کړی.

هغه له نورو جزیاتو پرته ټینګار وکړ، چې د طالبانو او پاکستان ترمنځ د ستونزو د حل هڅې یې پیل کړي او د ښو پایلو تمه لري.»

ملافضل‌الرحمن ته د کرایي‌توب دنده له پلاره ورپاتې ده او دی یې اوس په امانتدارۍ سره خپل زوی ته ورزده کوي او یو وخت به یې په بشپړه توګه ورسپاري. دا هغه درې نسلونه دي چې په خپلو فتواوو سره یې زموږ شپږ نسلونه او ټول وطن راتباه کړی دی او که هوښیار نه شو، نور به مو هم د خپلو فتواوو په اور وسېځي.

ښاغلي قاضي لودین د ملافضل‌الرحمن په باب په یوه مقاله کې داسې لیکي دي:

«مرحوم مفتی صاحب محمود و پسرش مولانا صاحب فضل الرحمن - وپسر مولانا صاحب فضل الرحمن اسعد محمود - چنان بر مرکب تکفیر به پیش تاخته اند که در یک کلام زنده و مردهٔ مردم مسلمان افغانستان را تکفیر کرده اند وعلیه امت واحد و مسلمان افغانستان فتواها ی جهاد

را دادند و دو ميلون شهيد - دو ميلو معلول و ميلون ها مهاجر – و کشور ما را به مخروبه تبديل کردند.

که متاسفانه به فتوا آخير مولانا صاحب فضل الرحمن به اولياء امور کشور ما مسدود شدن مکاتب دختران را نيز کار شرعى واسلامى تلقى کرده اند به اسناد وشواهد و گفتار هاى مولانا صاحب در چينل هاى يوتيوب مراجعه فرمايد . اين خانواده روحانى ومذهبى جز مجادله ومخاصمت چيزى ديگرى از خود به امت مسلمان به جا نه گذاشته اند - ايشان کوچکترين آمادگى در جهت تعديل وتنقيص آرا و نظريات خويشرا در مورد بربادى افغانستان ندارند بلکه هميشه ميخواهند تا اولياء امور کشور ما هم رهبران جهادى وهم رهبران طالبى از اينها پيروى نمايند . که پيروى هم نموده اند...»

اوس حقايق نه پټېږي، خو زموږ په هېواد کې اوس هم داسې کسان پيدا کېږي چې له ښکاره حقايقو سره، سره بيا هم د دروغجنو او دوښمنو مولاناګانو فتواوې مني او خپل خلک د بربادۍ کندې ته ورټېلوهي.

*****

زموږ له دوو ګاونډيو هېوادونو (ايران ـ پاکستان) څخه د کډوالو د راشړلو، زورولو او ترفشار لاندې نيولو کيسه روانه ده او نوروه هم پېچلې شوې ده.

ستونزه دا ده چې پاکستاني سياسيون او نظاميان د افغانستان او پاکستان تر منځ د روانو ناندريو خبره د عامو خلکو د زورولو، سوداګريزو کاروانونو بندولو، له ناروغانو نه د ويزې او پاسپورټ غوښتلو په وسيله، مقابل لوري يعنې طالبانو ته وايي او پوه کوي يې چې د دوی سناريو ومني.

پاکستان ته د فضل الرحمن له ستنېدو سره سم، د تورخم په دروازه کې هرڅه په ټپه ولاړ دي. د تاند يوه رپوټ کې دې موضوع ته داسې اشاره شوې ده:

«تاند (چارشنبه، د جدي ۲۷ مه) د پاکستان او کابل رژيم له اړيکو ځينو با خبرو سرچينو ويلي، چې اسلام اباد ته د ملا فضل الرحمن سفر، په ځانګړي ډول د تحريک طالبان پاکستان پر ضد بنې پايلې نه لرلې.

د دغو سرچينو له قوله، پاکستان له دې امله اوس د کابل پر طالب رژيم د فشار زياتولو په هڅه کې دی.

د طالبانو او پاکستان د اړيکو څارونکی ژورنالېست او شنونکی سميع يوسفزی په دې اړه وايي: «

د طالبانو د مشر شيخ هبت الله لخوا د فضل الرحمن په لاس د ټي ټي پي په اړه د طالبانو سخت ځواب نه وروسته نن څلورمه ورځ ده پاکستان افغانانو ته ويزو ورکول او تجارت په ټپه درولې . پاکستان پدې فکر کوي چې د افغانستان سره تجارتي ، ديپلوماتيک او د خلکو تګ راتګ روابط د ټی ټي پی نه د طالبانو د ملاتړ لامله په ټپه ودروي .»

بل لور ته، کابل کې باخبره سرچينو تاند ته ويلي چې د طالبانو رژيم له اسلام اباد څخه خپل سفير سردار احمد شکېب د ځينو مشورو لپاره ور غوښتی او طالب مشران له پاکستان سره د اړيکو پر څرنګوالي خبرې اترې لري.

د طالبانو د رژيم رسمي سرچينو په دې اړه څه نه دي ويلي.

د طالبانو له بيا واک ته رسېدو سره، د دوی د رژيم او پاکستان ترمنځ بيا- بيا اړيکې ترينګلې شوې دي.

که څه هم، دغو اړيکو ته ځينې څارونکي د شک په سترګه ګوري، خو يو شمېر نور بيا باور لري چې د طالبانو په ليکو کې د پاکستان له پراخ نفوذ سره- سره اوس دواړه لوري په عمومي ډول ښې اړيکې نه لري او افغانان له دغه وضعيت څخه زيانمن شوي دي.

طالب چارواکي د پاکستان په ګډون ټولو سيمه ييزو او نورو هېوادونو سره د ښو اړيکو ټينګار کوي، خو څارونکي باور لري چې دوی له دغه هېواد سره د مخکينيو مرموزو اړيکو، د ملي مشروعيت نه لرلو او ناکامې ديپلوماسۍ له امله د پاکستان او نورو هېوادونو پر وړاندې تش لاسي دي.»

په دغسې حالاتو کې د مجبورو خلکو ستونزې هېڅوک په پام کې نه‌نيسي، خلک څه وکړي، له چا څخه چا ته شکايت وکړي؟

# د لنډيو پر تېر باندې د کډوالی انځور

## د لنډيو متن

**الف:**

**اوبه دانه نه‌ده تمامه**
**د سياست او ګټې پار دی، مورې شړينه**

**اخر شوې‌پاتې پاکستانه**
**ناپوه بچي دې په مورې کډې باروينه**

**اخر ورانېږې تورپنجابه**
**خوارمهاجر ماشوم ښبرې درته کوينه**

**او که زما په دوعا کېږي**
**مسافريار دې خدای په‌ځای کړي په کورونه**

**ارمان مې ته يې، زما وطنه**
**بې‌غير له تا نه خو ښوک ځای نه‌راکوينه**

**انصاف په يوګاوند کې نه‌شته**
**په ناخاپې ډول يې راکړل ځوابونه**

امید مې شته وطن به جوړشي
چې دلې ـ دلې اولادونه یې راځینه

انسانیت پرې نن شرمیږي
پاکستاني پولیس چې کوم ظلم کوینه

اوس خو ناځاپه کډې بارشوې
ځان ته ماېو لوګی کوه، سترګې دې خورینه

اوس له دونیا نه ګوښه ګرځو
چې د نیستی راته رانه‌کړي پېغورونه

ایرانه خدای دې سزا درکړي
موږ ته مو جوړکړل د غمونو انبارونه

ایران لوټمار په لار کې ناست دی
هم دې لوټي او هم دې اور باندې سېځینه

ایران دې ټول د اور خوراک شي
په کوم قُصور یې زه د مرګ خولې ته ورکړمه

ایران د خیر پرغونډی ناست دی
نـیـزه‌بـازي پـر افـغـانـانـو زده‌کویـنـه

ایران منکر دی حال نه وایي
موږ سره‌ی ډېرې جفاګانې کړېدینه

ایرانه هرڅه دې تباه شه
پرموږ دې وکړل د یزید پلید چمونه

ايران د زړه په رنځ اخته کړې
چې نور روان وي تنها دوی ټکرې خورينه

اسمايي غره خپه نه شې
سلام مې واخله زه درتلای نه شم مئينه

احتياط کوه په لاس ورنه‌شې
د ايـرانـي وهـل هـډونـه مـاتـويـنـه

اختره موږ کره رانشې
گاونډ شړلي يو، په خوږ کې ژوند کوونه

اوښکې مې شپه او ورځ بهيږي
د ايراني زندان کې پروت يم مړ به شمه

اختر کې هم جانان رانغی
هغه تهران زندان کې شپې سبا کوينه

ايرانه څه کړې، څه دې وکړل
اسمان ته جگ شول د پرديسو فريادونه

ايران يې ټول راته دوزخ کړ
سپاهيان ولاړ دي ورسره دي ټوپکونه

ايران تهران نوم راته ماخله
زموږ پرخلکو هلته شوي دي ظلمونه

ارزښت دروندوالی خپل وطن کې
پردي وطن کې دې بيا نه وي ارزښتونه

ارمان، ارمان خپله وطنه
کبر به نه کړم نور دې خاورې ښکلومه

افغان خو تل دی غولېدلی
ګاوندې شیطان دی ورته ږدي نوي دامونه

اوس راوتلی یم له کوره
د ګرځندوی په شانې ګورم وطنونه

اپخوانی لارې شوې بندې
له خطرو نه لارې ډکې مربه‌شینه

اخر به وران شي پاکستانه
د کابل جان نجونې ښېرا درته کوینه

اخر مې ځای پر خپل وطن دی
که هره خوا پروطنو وګرځېدمه

اخر به لاړشم خپل وطن ته
نور خو به‌ناورم د پنجاب تور پېغورونه

ایران شو پاتې زه ترې لاړم
خوشحال په دې یم چې اوس خپل وطن کې یمه

ابودانه نه ده تمامه
ګاوندې انصاف نه پېژني، ژر مې شړینه

ابودانه هسې بانه ده
د ایراني زړه راته ډک دی ما شړینه

الله دې تا هم مهاجر کړي
په شلوکالو څوک درنه‌کړي اسنادونه

اول دې وې چې ګاونډ ورور دی
چې کار دې وشو اوس شړل او پېغورونه

اوس مې شړې، ورروسته به ګورې
ځان به اباد کړم، بيا به ته کوې عذرونه

اوس بايد ټول سره يوځای شو
نفاق مو څو نسلونه بيا بربادوينه

اخر به وران اسلام‌اباد شي
د پوډريانو په څبر پربکړې چې کوينه

اور مې له خپلې لمن واخيست
که بدل نه شم تل بليږي به اورونه

اوس خو دوستي نه، دوښمني شوه
تـا خپـل کـرلـي پـاکسـتـانـه دا خـارونــه

ارام خوښي د نورو خلکو
زموږ دې خلاص شي هجرتونه او ظلمونه

ايران له هراړخ منافق دی
چې لاس يې بند شي، اسرائيل هم ورور کوينه

ايرانه څه، لاس دې ازاد دی
اوس خلک پوه دي، زه دې څه پروا لرمه

ايران خو داسې چارې کاندي
ځان سلامت کړي زه يې غل د جهان کړمه

اسلاماباد دې خدای برباد کړي
مونږ سره هرکله يې کړي دي چلونه

ايرانه ډېرزامن دې ومره
په وير يې واړې، ګوندې مونږه دې هېرشونه

ايران کم نه دی پاکستان نه
لوټ او تالان خو دي د دواړو عادتونه

ارمان کوم، خو وخت لرمه
اوس هم وخت شته دی د وطن پرلوري ځمه

اوس خو راغلې ده ګالو بې
بله لار نه شته خپل وطن ته به ورځونه

افغانان ګرده ليوني دي
پردي يې باسي، دوئ زارۍ ورته کوينه

ايران دې خدای د اور لمبه کړي
چې کړوي زمونږ ځوانان په ستمونه

د اخوند هر بچی ظالم دی
افغان کډوال مو په اوبو کې غرقوينه

اوس چې هرڅه کوي، کوي دې
زمونږ لاس تش دی، خدای يې حتماً غرقوينه

افغانان بيا دومره مجبور شول
په نيمه بيه خرڅوي کور سامانونه

اوس پکې ته خوشحاله اوسه
ما پېښور نه کډه بار کړه ترې نه ځمه

اسمانه ګرز وهه رالوېږه
پرما قيامت دی چې پر ټولو قيامت شينه

اوس په‌کی ته خوشحاله اوسه
له پـېـښور مې کډه بارکړه ورنه ځمه

اوس چې هرڅه کوې کوه يې
د تا وطن ده، زه به ډکې سترګې ځمه

ايستل يې يو غم، لوټ يې بل غم
پر موږ يې راوستل جوړه ظالم ويرونه

اوښکې دې مه بهوه ياره
هجرت دې ختم کړه، خندا خپله راځينه

افغانستان دې ژر اباد شي
چې خلک خلاص شي د ګاونډ له احتياجونه

اور مې له خپلې لمن واخيست
که هوښيار نه شم نو بلېږي به وي اورونه

اول يې کور کې اور رابل کړ
د هجرت کور کې يې هم بل کړل سره اورونه

اخوند پنجاب نه تمه نهشته
د بل په تمه چې وم ناست اوس مې شرېنه

افغانه یو ویر خو دې نه دی
زه به دې کوم یو غم ته اوښکې تویومه

ب:

بارانه هېڅ مهراوروېږه
کډوال پرلار دي، بېرته خپل وطن ته ځینه

بمبارد به وکړې پاکستانه
لږ یې د پایلو په باب وکوه فکرونه

بېګاه مې داسې خوب لیدلی
چې کډې بار دي، موږه ټول وطن ته ځونه

بخت به مې هله بېدار بولم
چې له احتیاج د ایراني نه راخلاص شمه

برباد تباه شئ ګاونډیانو
موږ سادهګانو ته مو ایښې دېر دامونه

بیلتون ریښتیا هم زورور دی
چې افغانان یې په مُلکو ویشلې دینه

بې‌اوره وسوځې ستې شې
پنجابه زرځلې دې موږ سېځلې‌یونه

باران د کاڼو به پرې اوري
ايران زموږ وطن ته سپک کتلي دينه

بدن مې ټول تغمې ـ تغمې دی
زه ايرانيانو په ډنډو وهلی يمه

بدن مې ټول پرهر ـ پرهر دی
زه ايرانيانو په چړو وهلی يمه

بهر له مُلکه ستونزې ډېرې
زحمت به گالې پهکې نهشته ارامونه

بله لار چا ته ده مالومه
د ايران لارې ډېرې سختې، مړ به شمه

باد د کابل له لوري راغی
په کار مې نه دي د پنجاب تاوده بادونه

بيا به په دې وطن رانهشم
هرڅه لوټيږي، پهکې نهشته عزتونه

بله لار نه شته ځو وطن ته
بنه ده چې خلاص شي پيغورونه زحمتونه

بيرته راستون شوم خپل وطن ته
ارام مې نه موند په پرديو وطنونه

باور مې نه شي چې به معاف شم
په خپلو لاسو مې سبځلي مکتبونه

بار خو مې خپله پر اوږو ووړ
خبره دا ده چې خراب يې وو نيتونه

بل کال به ګورو چې څه کېږي
خواري کوو، برى راځي په زحمتونه

ببرته مې خپل وطن ته بوزې
چې مې د سترګي زړه پوره شي ارمانونه

بې‌وفا ته شوې ګاونډیه
پېغور ظالمه دونيا موږ له راکوينه

ببرته راتګ دې مبارک شه
نور خو به نه وي د پرديو پېغورونه

بچيانو خپل‌وطن ته راشئ
پردى وطن د خلکو قدر کموينه

بې‌واکه ژوند څه په کار نه دى
په نوم ژوندون وي، څوک حساب نه پرې کوينه

بيا به پردو مُلکو ته نه ځم
پر هغه تللي وار څوځل پښېمانه يمه

بيا د ايران پرلارو نه‌ځم
که مې مرګى دلته په کور کې ميلمه شينه

بيا به دې خداى راته احتياج کړي
نن خو مې باسي او هېڅ نه کوې رحمونه

بل څه خو زموږ له لاسه نه شي
درد رسېدلي په ژړا بنېږي کوينه

بيا د سختۍ ځپې خپرې شوې
ګاونډ مې نه مني ته ګوره انصافونه

بلې ته وخېژئ عالمه
تماشه وکړئ، موږه کډې باروونه

بار مې تړلی دی روان يم
لوری مې ورک دی کومې خوا ته روان شمه

بدن مې سره لمر سوځولی
دننه زړه مې هجرتو وسوځاونه

بدن مې تور شو، سوی سکور شو
پاکستاني پوليس مې هرپل زوروينه

بل ته په تمه ژوندون مه‌کړه
کار ته اړم شه خپله جوړ کړه جنتونه

بېړۍ دې ډوبه شه پنجابه
زما دې وسېځل د ټول عمر خوبونه

## پ:

پنجاب هم مار دی، هم کوکار دی
خپله ورانۍ کړي، تور پر موږ پورې کوينه

پنجابه زړه مې درنه تور شو
اوس چې قبله هم شې، مخ نه دراړومه

پردي وطن ته مهاجر شوم
دلته مزدور شوم، جوړوم د چا کورونه

پردي وطن کې مزدور مه‌شي
وطن ته راشه په ارام وکړه کارونه

پنجاب پنځه ګوتې په خوله کړې
د پښتنو بلوڅو خوري روا حقونه

پُل‌صراط به ورته نیسم
تورمشرف به ورنه لاندې غورځومه

تهران د خیر کارونه نه‌کړې
چې افغان وګوري لانجه ورجوړوینه

تهرانه مرګ دې درلیمه شي
چې افغانانو ته نور جوړ نه‌کړې غمونه

توردکن موږه هم راتور کړو
په اور دې وسوځې چې موږه ترې خلاص شوونه

پنجاب دوکه کا، بلخه نه‌کا
چې پرهرڅه باندې پښه ږدي او تا شړینه

پنجابه ستا په شرارت کې
هرڅه خراب شول اوس یې بېرته جوړونه

په وطن وچه مړۍ ښه ده
نه په پردي وطن کې غوښې پولاوونه

پنجابه کور دې مولا وران کړه
چې ورانوې د مهاجرو روغ کورونه

په ګاونډي مې باور نه شي
تر اسراييلو بد چلند راسره کړينه

پوليسان واړه دوزخيان دي
چې لوټوي د مهاجرو کاروانونه

په هوا والوزه جانانه
ټول بندرونه مليشه نيولي دينه

پنجاب تهران دواړه کفار دي
چې په لاس‌ورشې، ټول ژوندون به وي رنځونه

پنجاب قاضي، پوځ يې مفتي شو
چې د ځان‌مرګ فتوی پرموږه اړوينه

پنجابک اور راباندې بل کړ
د بدمرغۍ اور کې راګير يو، وريت به شونه

پنجاب ملا خپل رالېږلی
د مدرسې په نامه خلک غولوينه

پنجابه کور دې خدای دړنګ کړي
چې دې راړنګې کړې کوډلې او کورونه

په مخه‌بنه باندې نه ارزي
همداسې بنايي، بې‌رخصته درنه ځونه

پاکستاني ظالم ته ګوره
چې چېرې ګرز شي، بيا په ما يې اړوينه

پنجابه زړه دې پرق وچوه
چې درکې وچوي هره ورځ سلزر بمونه

پاکستان نوی بازار جوړ کړ
چېرته چې بم چوي دوی افغان تورنوينه

پاکستان څو رنګ قلنګ اخلي
مهاجر لوټ کړي او تور هم پرې‌لګوينه

پرکومه‌لار وطن ته تېرشم
پرهرسرحد راته پوليس ودرېدنه

په زارۍ ځان خلاصوی نه‌شې
يا دې شکوي، يا درنه غواړي پاسپورتونه

پنجابه کور دې خدای دروران که
د مهاجرو ورانوې ودان کورونه

په تاويزونو چاره نه‌شي
جانانه کډې باروه چې کور ته ځونه

پرديو داسې خواب راکړ
لکه پرمړي چې څوک خاورې اړوينه

پاکستان کلک يم راګير کړی
اوس چې هرڅه ځان خلاصوم نه مې پرېږدينه

پرما دې وکړل ايرانيه
پر تا دې بل شي له هرخوا نه سره اوورونه

پردي وطن کې بيا رنځور شوم
پردي وطن کې به مې څوک دوا کوينه

پردي په هېڅ نه رضا کېږي
نه په خوارۍ ـ مزدورۍ او نه رشوتونه

په داسې جنګ خو دې اور بل شي
توره به زه کړم، عيش به نور خلک کوينه

پر ما به هغه ورځ اختر وي
سوله وي ټينګه، وطنوال بېرته راځينه

پردی وطن دی، لاس مې بند دی
يمه حيرانه له چا مرسته وغواړمه

په وطن نيمه ډوډۍ ښه وي
نه په ايران کې کبابونه پلوونه

په مُزدورۍ کې يې بوډا شوم
پردی وطن دی، اوس مې هم ازاروينه

پوهه درخپله کړه جانانه
چې ناپوهي سړی جګړې ته هڅوينه

په پرديسۍ کې ژوندون داسې
چې کله کار وي، سپکاوی او زندانونه

پربېږده ايران کې مې بندي کړي
که بېرته درشم په دُرو به مې وهينه

پرزړه دي غټه تيګه کېږده
پردی وطن دی، دلته نهشته کومکونه

په خپل وطن کې پاچايي وه
په بل وطن کې د مزدورو مزدور يمه

په ايران تېر شوې، که تېر نهشوې
فارسيان ظالم دي، زموږ ځوانان په اور سېځينه

په دې شړلو به ښاد نه شې
پاکستانيه دومره مه کوه ظلمونه

پرهر سرحد چې اوس تېرېږي
وهل، وژل او ورسره دې ډېر رزکونه

پاکستان وې يو مکتب رنګ کړئ
موږه وروسېځل بېشمېره مکتبونه

پرکومه لار لندن ته لاړ شم
ګاونډ ظالم دی، ما له لار نه راکوينه

پل صراط نه تېرېدل دي
څوک چې ايران له لارې وکړي سفرونه

پنجاب تهران نن وشړلم
ګناه مې خپله چې وطن مې پرېښنودنه

پاکستاني پولیس ته وایه
د مهاجر مظلوم دې ناخلي ازارونه

پرمونږ یې دېرې لوبې کړې
اوس مو شړي، خو موږه نه کوو عذرونه

په تاویزو او عذرو نه شي
موږ خو وطن ته، ته کوه ورته عذرونه

په خپل وطن کې ژوندون غواړم
په بل وطن کې مې پهکار نه دي تختونه

پردي وطن ته دې زړه ښه کړ
حالات ګډوډ دي چې اسناد به ځنګه شینه

پرما یې ټول جهان خبر کړ
په چل مې غواړي، په چل ببرته مې شړینه

پاچایي تخت مې په کار نه دی
چې خپل وطن وای د پردو نه وای حکمونه

په مرګ خو مرو پاتې به نهشو
پر زړه به یوسو د هجرت سوي داغونه

پرمسافرو مې زړه سوځي
پردي وطن کې د هرچا وړي منتونه

په ژړا هغه خلک ژاړي
چې غلامۍته سادهګۍ نه غاړه ږدینه

پاس په هوا تېرشه جانانه
لارې کوځې له ملیشهوو ډکې دینه

پاکستاني مشران يې غواړي
چې پرکابل باندې بیا بل شي سره اوروونه

په زیارتو په دُعا نه شي
متې رابډوهئ وطن اباد‌ونه

پر زړه به غټه تیګه کېږدم
له کډوالۍ نه به يې ورو ـ ورو صبرومه

پرزړه مې زرمن ګیلې بار دي
پنجاب لګیا دی نور غمونه ټوکوینه

په دا یوه خبر خوشحال یم
سبا راون یم خپل مې خلک او کوروونه

پردو د تللو راته ووې
خوشحال په دې یم چې مې خپل مُلک ته شړینه

پرېږده چې سرووینو کې رنګ شم
ټوپک د بل و، پراږو ما ګرځاونه

پښېماني دې ګټه نهکړي
په نادانۍ دې اړولي تاوانونه

په بل وطن کراری نه شته
که ارامي وي نو دلې په وطنونه

په پټه خوله به دوعا وکړم
غږ مې نهٔباسم رقیبان به خبرشینه

پربېږده پردیس په بلځای مړشم
نه وو مالوم راته د خپل وطن قدرونه

پربېږده د سپیو د خوراک شم
چې خپل وطن مې ورانوه دا یې اجرونه

پر کنډوالو بنه ده چې پېښ شوم
خپله مې کړي، خدای یې راکړل اوس اجرونه

پخوا ترکیه وه، لږ خو بنه وه
اوس په ترکیه کې هم وهل، هم زندانونه

په خپله خاوره کې ځای راکړئ
هجرت وهلی مځکه ځای نه راکوینه

په تورخم مه راځه جانانه
ملیشه ډېر دي پرهرخوا پیرې کوینه

په بل وطن کې دې ځای نه شته
نور څه خو پربېږده، په پیسو اخلې قبرونه

پام کوئ بیا ملیشه راغی
یا بله خوا شئ یا اوچت کړئ قدمونه

په خبر پوه شوم ګاندجانه؟
سپکاوی مه کړه، په خپل سر به روان شمه

پرمورړه څه بلاوې راغلې
پردو مُلکو کې تېروو بنکلې وختونه

پوهه راخپله کړئ ځوانانو
سيال خو به سيال شو، له احتياج نه به خلاص شونه

پاکستاني سره پام وکړئ
زمونږ پر مُلک يې غوړولې دي جالونه

پر مونږ دې کړي، پر تا وشه
کله چې ژاړې، په خندا درسره ځمه

په مليشې چې برابر شوې
يا دې شکوې يا درنه غواړې اسنادونه

پر سړک مه درېږه ياره
مليشه راغى اوس دې بيا عذابوينه

په علم هرڅه ابادېږي
له مونږ پردی دی، راپه برخه هجرتونه

پنجاب سکه ورور د شيطان دی
له افغانانو نه يې ډک کړل زندانونه

پنجاب سکه ورور د شيطان دی
پر افغانانو يې جاري کړلو ظلمونه

پنجابه ظلم دې نوربس کړه
د مهاجرو به درپسې شي ازارونه

په پردي ښار ګوزاره سخته
سړه توده د خپل وطن مزه کوينه

پر زړه مې سل داغونه بار دی
پردي وطن کې هسې داړې جينګومه

په بل وطن کې واک د بل وي
هرڅه په سوال دي، هسې ورځې تېرومه

په پرديسی کې مې زړه شين و
چې بېرته راغلمه وباسمه شکرونه

پرېږده چې تول وطن ته راشي
لږ به سختي وي، بيا به نه وي کړېلېچونه

په هريو پل کې مو ښېګڼې
هجرت پېغور بيا راته مخمخته کوينه

پرځان اخته به شي ايرانه
چې دې زموږ کډوال ته واچول اوړونه

په سره غرمه کې مزدوري کړم
پردی وطن دی، خود به ګالم کړاوونه

پوهه فن خپل کړه انديواله
بې پوهې ژوند کې دې اوړده وي تل لاسونه

پردى وطن دى، خداى دې خيرکړي
جهان ګونګى شو، چا ته نه‌وايي حالونه

پروطن تورې وريځې راغلې
خداې خو دې خير کړي، د ګاونډ نه وي چلونه

په منځ کې وچوې، دوه‌پلې شې
ايرانه تول عمر دې کړي پساتونه

پنجاب غماز دى، غمازي کړي
چې غمازي کړي، خداى دې ورکړي دوزخونه

پاکستان خپل کمېشن غواړي
شرمېږي نه، په دلالي ګټې کوينه

پرپاکستان څوک مېئن نه‌دي
خپل کور کې اور بل دى، هډونه سوځوينه

پاکستان ډېر ظلمونه وکړل
د خپلو پښو وو، د جهان فقير يې کړونه

پاکستان زړه کې منافق دى
په خوله يې وايي، په عمل کړي نورکارونه

پنجابه دومره زياتى مه‌کړه
وطن زما دى، ته پرې ماچوه خطونه

پوليسه دومره صبروکړه
چې مې راتول کړم داڅو لوښي ترتکونه

پردي مُلکونه، دوزخونه
چې يې پهکار نه وي، نو ببرته دې شړينه

پاکستاني نه دې خدای خلاص کړه
زه درتلای نه شم بس دوعا درته کومه

پاکستان کُفر نه بدتر دی
چې د مجبورو خلکو هرڅه لوټوينه

پاکستان پاک نه دی ککړ دی
اسلام يې دروغ، خبرې دروغ، دروغ يې کارونه

پنجابه څه نخرې دې وکړې
چې دې بېکور بېاور کړل ډېر - ډېر عالمونه

په وطنوالو مې زړهسوځي
چې هرخوا ځي ورته راځګ د ستونزو غرونه

پنجاب تهران په يوه خوله دي
دوی ملا تړلې چې کډوال بيرته شړينه

پرېږده چې درست کډوال ستانه کړي
په يوه وار به مو خدای خلاص کړي احتياجونه

په هرقدم کې پلټل دي
د پاکستان مليشه هرڅه لوټوينه

په هربدلون پسې بدلون دی
اوس که تياره ده، بيا به بل شي څراغونه

پرسمې لارې ترې رادرومه
د مليشه غوړونه ناورې دليلونه

په خپلو پښو ولاړ به ښه وي
بل ته اړ مه‌شه که پردی، که خپل دې وينه

پر افغان بدې ورځې راغلې
ګاونډ دوښمن شو، نړی خپل کوې کارونه

پام کوۍ بيا مهاجر نه شئ
په کډوالۍ کې د چا نه شته عزتونه

پر زړونو غتې تيرې نه‌ړدو
د پنجابې کړو ته په کار دې ضد کارونه

پرزړه دې دېر داغونه راکړل
تهرانه ستا جفا به چا ته يادومه

پرما دې ځوانه ځوانې اور کړه
پر تا دې اور شي ايرانيه ټول عمرونه

پرټولو بدو به پښېمان شئ
تهران پنجابه دومره مه کوۍ ظلمونه

په مهاجر به څه تېرېږي
کور يې شو ړنګ او مليشه يې لوټوينه

پام چې زارۍ ورته ونکړې
هغوی پيسې غواړې زارۍ ته نه ګورينه

په سترګو ړوند دې ايرانی شي
زموږ ځوانان په اور اوبو کې قتلوينه

پر افغانانو څه تبرېږي
نړۍ يې ګوري، غږ نه‌باسي، غلي دينه

په توره شپه يې کور راوران کړ
په سپين سهار يې وې چې کړه حرکتونه

په سپېده‌داغ يې کور راوران کړ
کور دې يې وران شي، چې يې ړنګ کړل زموږ کورونه

پر سپېره ډاګ شپه او تياره ده
لوږه يخني ده، ماشومان چيغې وهينه

پر موږ غمونه عالمونه
نور کړي عيشونه موږ غمو ته پيدا يونه

پرسرک ډک موټر ولاړ دي
په‌کې سپاره دي مهاجر، کورو ته ځينه

په بل وطن کې دا عادت دی
خندا خوښي دې لوټوي، درکړي ويرونه

پاکستان، پاک نه دی مردار دی
ټوله اسيا کې يې خپاره شولو بويونه

په بل وطن مې پېرزو نه يي
خدای دې د کور په ځنګ کې درکړي دولتونه

پر تورو غرو راشه وطن ته
دا نورې لارې پنجابي نيولې دينه

پاکستانی قانون دې ستا وي
زۀ به درپربږدمه کرلي يادګارونه

پر مادې وکړل، پر تا وشه
پر تا چې وشي، تماشې به دې کومه

په بل وطن کې قدر نه‌شته
زموږ خوارې هسې عبثو کې شمېرينه

پردي وطن کې واک د بل وي
واک چې د بل وي، نو سکروټې بادوينه

پردو وي ځه، زه هم روان شوم
هلته مې پاتې شول د هرڅه يادګارونه

په خپل وطن کې شهزاده وم
د پنجابي مزدوری، تورپنجابي کړمه

په خپل وطن کې مې واک خپل و
پردي وطن کې اوس پندونه چلومه

پردی مُلک خپل نه دی پردی دی
نيکمرغ هغه ده چې خپل وطن کې وينه

پر ديورند باندې مو شپه شوه
ځومره اوږده شوه، سبا خپل وطن ته ځوونه

پاکستاني سرکار له لاسه
پرسره اور ناست یو د وطن ارمان کوونه

پر خپل وطن مې کبر کړی
پردي وطن لکه د مالګې ویلې کړمه

پردی وطن، پردی کوخې دي
د بیلتون شپې دي، په سلګو یې تېرومه

پردی وطن، پردی غرونه
د پردیسی وخت په خوارۍ کې تېرومه

پنجاب چې هرڅه وایي، زړه یې
د دوی خولګۍ به تورې خاورې بندوینه

پنجاب ایران دواړه یهود دي
د ظلم اور یې را کباب کړل زموږ زړونه

پردی وطن، پردی کوخې دي
د بیلتون شپې دي، په سلګو یې تېرومه

پاکستان پاک نه دی، ککړ دی
زموږ پرهرڅه یې تېزاب شیندلي دینه

پر موږ دې وکړل پاکستانه
پر تا دې وشي ډېر ترخه ـ ترخه چمونه

په پردي کور ګوزاره نه شي
بهتره دا ده چې اباد کړو خپل کورونه

پردی وطن، پردی قانون دی
خواره نیستي ده، ټول وجود مې سوځوینه

پردي، پردي دي، خپل به نه شي
که یې خدمت ته ودرېږي څو نسلونه

په مازدیګر یې وشړلم
په نیمه شپه کې په تورخم ودرېدمه

پنجاب ـ تهران د اور مرۍ شه
چې واکداران یې د شړل حکم کوینه

په خپل وطن خوشحاله اوسئ
پردي وطن کې د چا نه شته عزتونه

پردی غنم مې په کار نه دي
خپلو اوربشو ته کینم ژوند به کومه

پنجاب تهران دې خدای تباه کړي
دوی رالېږلي زموږ مُلک ته فسادونه

پاکستانیانو لو ګډ کړی
اسنادوالا بې سند دواړه جېل ته ځینه

پردي وطن کې خطرونه
کور ته به لاړ شو ګوندې نه وي خطرونه

پرموږ د ظلم باران جوړ دی
هلته به خلاص شو چې خپل کور او وطن وینه

پاکستاني اسلام دوکه ده
نامسلمان دي د اسلام نوم بدوینه

ت:

تهران هم مار دی هم ښامار دی
چې زور پرې راشي عاجزي غوره کوینه

تاوان به وکړې پاکستانه
په بې‌رحمی د کدوال ماخله ازارونه

تهرانه ډېرظلم دې وکړ
چې هرڅه کړې، هغه کې نغښتې وې چلونه

ترسپینې واورې تکې سپینې
ځان پټوه چې نن‌سبا وطن ته ځونه

تهرانه زور دې خدای اوبه کړه
چې افغانان شي لړ بې‌غم او درنه ځینه

ته پرې د کاڼو باران وکړې
چې د تهران غرور نور ډېر‌ووړې شینه

ته د خوښی په تال کې زانګه
زه به د وران وطن پرحال ژړا کومه

ته راته وایې وطن پرېږده
وطن خو نه پرېږدم چې زړه به مې وچوینه

ته زما نه شوې، ملا ټګ دی
په شویستو باندې مې ځان وپړساونه

تهران هرڅه راتباه کړي
الله دې دوی له غمه نه خالي‌کوینه

ترکان هوښیار دي غلي ناست دي
کډوال چې راشي ورته نیسي کمینونه

ترخولې مې تورې وینې لاړې
چې ایراني راکړل پر ډېرو ګوزارونه

تورخم دې بند، تورخم دې خلاص وي
پاکستان ښیي رنګارنګ، تورسپین فلمونه

تجربو وښوده څوځلې
ورګډوي خاورې ایرې په درملونه

تښتېدل ښه له داسې خلکو
چې د عزت سرمایه بالکُل نه لرینه

تن مې زهیر شو له غمونو
امید یې شته دی چې به روغ په وطن شمه

تهران دې ړنګ په راکټو شي
زموږه مُلک ته یې لېږل میزایلونه

توره پنجابه مخ دې تور شه
ډېر مې وران کړي، اوس مکتب نه‌ورانومه

ته ايراني نه ځان راخلاص که
د وطن ستونزې به يوځای اوارونه

ته د ايران ظلمو ته ګوره
يا سوځول کړي يا اوبو ته غورځوينه

توبه، توبه قيامت به راشي
چې اوس ايران هم، د اسلام مشري کوينه

تورهتياره يې خپره کړې
د خوشحالۍ هم په کې نهلګي څرکونه

تهرانه څه کاني دې وکړې
ځان سلامت او زه دې تور په تهمت کړمه

تهرانه ستا لانجو نه تنګ يو
ته يې بېشرمه، مور دې مره له شرمه کړونه

توره پنجابه نور هم تور شې
خدای مهربان دی، په هرپل دې شرموينه

تردې ساده به چېرې نه وي
د نورو ګټو ته چې وينـــې تويوينه

ته خو به وايې چې هېرېږي
زما به هېر نهشي ستا تول کړي ظلمونه

تهرانه زړه مې په ښبرا دی
دربانديې جوړ شه د راکټو بارانونه

تورخمه زړه دې ځومره ډک دی
ظالم سرکار دی اولوسونه بېلوينه

تورخمه بيا کډې دربار شوې
پازاب يې نه‌کړې ستړي ـ ستړي قدمونه

تورخم بولدک په ژړا وايي
نه وو ليدلي کله موږ دومره ظلمونه

تانده ځوانۍ کې مهاجر شوم
شونډو مې وچ پټري نيولي مړ به شمه

ته هم زموږ په خبر حيران شې
چې دې حيران کړل مهاجر په سرحدونه

توره ټوپک دې يو خوا کېږده
وطن ته راشه ما ته راوړه کتابونه

تکيه په بل پورې ښه نه وي
چې دې وطن او واک وي خپل، کوه خوبونه

تر دې به بله سخته نه وي
چې مسلمان دې نړوي ختين کورونه

## ټ:

تول دې په اور کې لولپه شي
د ايـران ظلـم پـرمـوږ اور ولـګاونـه

ټول وطنونه خوښ خوشحال دي
د غمو لارې زموږ وطن ته تللې دینه

ټول کلۍکور دې ملنګان شه
اخونده ټول عمر دې دروغ ویلي دینه

ټوله نړۍ ورته حیرانه
زموږ د هجرت کیسې رنځونه او داغونه

ټول پاکستان راته سور اور شو
د تېښتې لارې راته ښییه مړ به شمه

ټوپک د بل جګړه د بل ده
وینه زما ژوندون زما بربادوینه

ټپي زړګی مې نور شړېږي
پاکستاني دوښمن پرې ږدي نوي داغونه

ټګ ګاونډه بیا ښه ټګي وکړه
اول د ورور اوس د دوښمن خطاب کوینه

ټول سیاسیونه ورته اړم دي
چې مهاجر یې ورته پرېږدي وطنونه

ټګي دې وکړه ګاونډیه !
ستا دې ټګي وي زموږ دې صبر پر خدای وینه

ث:

ثواب د هغو دې نصيب شي
د مهاجر د زړه چې ناخلي ازارونه

ج:

جان محمدخانه مخدې تور شه
لګيا يې ليکې ځانته تور ـ تور تاريخونه

جګړې ته مه‌خوشاله کېږې
جنګ هرڅه سوځي، بيا به ځې په هجرتونه

جُرم خو ما نه شوی نه و
پاکستاني پوليس راوتړل تورونه

جانان دې بېرته راروان دی
پردي وطن کې خو نور نه‌شته عزتونه

جانان دې نه‌ځي له وطنه
د شکنې په ځای پلو به ورکومه

جانانه خپل وطن ته راشه
که ته رانغلې ګوره ځان زندی کومه

جُرمانه لوټ خو يې عادت دی
لوی ظلم دا دی چې کوډلې ورانوينه

جګړې د خلکو د خندا کړم
چې هرخوا مخه‌کړم، څوک ځای نه‌راکوینه

جلاوطن کې عمر تېر شو
تللي عمرونه کله بېرته نه راځینه

جانانه بېرته کورته راشه
د تا په نشت له خلکو اورم پېغورونه

جهان دروغ ګڼله خلکو
داسې ښکاربږي تا رېښتیا له مُلک شړینه

جګړه د بل له‌پاره نه کړم
ژوند مې خراب، ګټه یې بل ته رسومه

جنګ دې په کور کې ورمیلمه شي
بیا به یې ګورو تهران کوم پلو ته ځینه

جیب یې خالي اسناد یې نه شته
پاکستانی پولیس یې هرخوا کشوینه

## چ:

چې زمرد یې پیداوار دی
موږ په هغه وطن کې لوږې تېرونه

چې ظلم کړې، غم دې میلمه شي
ویر ته نږدې یې، هرکلی به دې کوینه

چې خپل وطن، خپل مې عاید وي
د پاکستان ظالم به څه پروا لرمه

چې دی همماردی، همکوکار دی
پنجاب یې وژني او ژړا هم پرې کوینه

چې پالیسي یې شوه د ظلم
پاکستان پاتې شو له موږه ځئ چې ځونه

چې ای‌اس‌ای راغی عالمه
زموږ پرمُلک باندې یې جال وغوړاونه

چې تاکرلي، ته بې ربېي
د دوښمنۍ حساب به هرسړی کوینه

چې د یزید او شمر جنگ وي
دغسې جنگ ته ساده‌گان به غاړه ږدینه

چې ښنگ ځواني شوه، مزدوري شوه
عرب ظالم دی مزدوري نه راکوینه

چې ای‌اس‌ای دې مُلک ته راغی
د شیطانۍ خبرې هرچا ته کوینه

چې سرې تنگ شي، نو په جنگ شي
پنجاب تهران یو په تنگ کړي، جنگ کوونه

چې له تورخمه سبا اوړم
لاس خو مې تش دی په وطن زړه ښه کومه

چې څه کرئ، هغه به رېبئ
څه مو چې کړي، ژر به واخلئ درمندونه

چې ډلهایز شړل شروع شول
مندې شوې، غږ شو چې مورږ تول وطن ته ځونه

چې شپه رالنډه شي، نو ښه شي
چې بل سهار مې خپل وطن ته رسومه

چا کډه بار کړله روان دي
د چا کېږدۍ اوس په تورخم ولاړې دينه

چې افغانان يې ازار کړي
پنجاب تهران باندې دې راشي افتونه

چې پاکستان او ايران وکړل
ډېر ـ ډېر نسلونه بې په بدو يادوينه

چې څو جهان وي، يو افغان وي
د ګـاونـډيــو نــاځــوانـي بــه يــادويـنــه

چې نه د جنګ يو، نه د ننګ ی
له ايراني ګاونډ نه څه ګيله کوونه

چې نه د زدکړو نه د کار يو
خود به ګالو د خپل پرديو پېغورونه

چې کډوالۍ ته خوشحال نه شي
خوشحالي نه وي، سراسر پرابلمونه

چې څه کرې، هغه به رېبې
درته به بل شي له وير ډک د اور فصلونه

چې د سفر په‌نيت تيار شوو
هلته به لاړشوو چې نور نه‌وي پېغورونه

چې څه کوې، پنجابه وېکړه
خلک پوه‌شوي، موږ دې څه پروا لرونه

چې هېر يې نه شي پور مې غواړم
اوس دې تازه تېپ باندې مالګې دوړوينه

چې خدايتعالی چا ته په قار شي
پر مهاجر غريب شروع کاندي ظلمونه

## ح:

حال مې تردې نه بدتر بنه دی
ما په پردي پورې زړګی تړلی‌ونه

حالاتو وسوو، جنګ ايرې کړو
اوس ګاونډيان مو له غلبيل نه تېروينه

حالات به نور څه راته پيښ کړي
پنجاب تېپي بنامار، خوله هرخوا اچوينه

حالات تردې حده خراب شول
د مهاجر پوښتنه هېڅوک نه‌کوينه

## خ:

خدایه زموږ بدل ترې واخلې
موږ وو بېوسه، خپل روزګار مو چلاونه

خامنهٔ بلِلاس دې وچ شه
چې فیصلې دې تول عالم تباه‌کوینه

خدایه خیرونه راته پیښ کړې
پولیس رانه‌شي چې لانجه به جوړه شینه

خاونده دا سوال مې قبول کړې
وربانډې رادېشي زما غونډې حالونه

خدای به دې بیا راته احتیاج کړي
د پنجاب زویه مخ دې تور و، تور به‌شینه

خدای به دې بیا لاس راته اوږد کړي
پـاکستـانـیـه درپـه‌یاد کـړه احـتـیـاجـونـه

خدای به دې پرمخې غوزار کړي
تـا تـه د کلي مـاشـومـان ښـېـرې کـویـنـه

خبرې ډېرې، سر یې یو دی
چې پاکستان به مو دوست نه شي په کلونه

خدای دې سفر راته په‌خیر کړي
چې په خیریت له ملیشوو نه خلاص شونه

خپلو بچو توتې ـ توتې کړم
سم غولبدلي، په ګاونډ مې خرڅوينه

خدای دې ويرونه نور درپېښ کړي
چې دې پرما له ظلمه لنډشي غبرګ لاسونه

خلک وطن ته خپل هرڅه وړي
زما يې چور کړل، زه جامو سره ورځمه

خلک تول پاتې په وطن کې
زه يم روان او بل وطن ته ترېنه ځمه

خدای به مې خپل وطن ته بوزي
چې نور وانه‌ورم د پردي وطن حکمونه

خپله ډوډۍ شلغم مې خوښ دي
خوراک مې نه وای د پنجاب دال، پلوونه

خلکو له ما نه عبرت واخلئ
ما په ايران کې ډېر وهل خوړلي‌دينه

خدای دې وطن کې سوراور بل که
چې درمالوم شي د کډوال مجبوريتونه

خدايه ايران کړې شنه لوخړه
چې ځوانان ورشي په نشو يې روږدي کړينه

خيال کې ترهرې پولې تېر شم
چې ټکان چې وخورم د ايران زندان کې يمه

خواري يوازې د افغان ده
وجه يې دا ده چې پردی له تعليمونه

خلک به وايي مسلمان دی
ايراني ايښي دي په لاره کې دامونه

خوښي د بل په وطن نه‌شته
که ارام غواړې خپل دې ښار او وطنونه

خدای دې جزا درته درنه کړي
چې له کډوالو سره کړې داسې ظلمونه

خدای مې دې خپل وطن اباد کړي
نور مې توبه ده بيا ايران ته نه ورځمه

خدای خو دې تا هم بې‌وطن کړي
چې درپه زړه شي دا زموږ مجبوريتونه

خوشې عبث عمر مې تېر کړ
درس مې شو پاتې اوس وطن ته مې شرينه

خاونده دا به دې رضا وي
چې د ځوانۍ وخت کډوالۍ کې تېررومه

خدای مې دې درولي وطنه
دا څه ژوندون دی، په پيغور يې تېرونه

خوله مې خندا ته نه جوړېږي
د وطن وير پر مخ ځيږې راکوينه

خدای مې دې درولي وطنه
دا څه ژوندون دی چې بې تا ږدو قدمونه

خدایه وطن له جګړې خلاص کړې
چې خلک خلاص شي له هجرت او احتیاجونه

خبر شوه هله ګډوډه
د لوټ تالان چې ورته وشولو امرونه

خدای دې ظالم ته سزاورکړي
د مجبور کډې په زېړي مازدیګر ځینه

خدایه ته داسې ځوک راپېښ کړې
چې بې‌کشکرېپه مو وطن ته واړوینه

خوښي نیکي نه بې‌نصیب یې
چې افغانان دې په ښېرو کې یادوینه

خولې ته به سوړ اسویلی راشي
چې ملیشه مې تر تورخمه اړوینه

خود به مې رنګ زېړ وي عالمه
چې ایرانی مې په کنځلو راشړینه

خدای دې زما کړه، زما وطنه
چې د ګاونډ ظلم و احتیاج نه راخلاص شمه

خلک به وایي مسلمان دی
مسلمان ایښي دي زما پرزړه داغونه

خدای به مې بیا وطن ته بوزي
ایرانه ستا دغه بد نیت مې زوروینه

خدای دې ظالمو کې ایسار کړه
چې نه اسناد وي، نه پیسې او نه رحمونه

خاونده دا ګناه مې معاف کړه
بیا به ګاونډ وطن ته نه کړم سفرونه

خاونده ما خو داسې نه وې
چې مسافر شمه ګاونډ به مې شړینه

خپل وطن خپل دی، شُکر باسه
پردي وطن کې له هر خوا مجبوریتونه

خدایه ته هغو ته خیر پېښ کړې
چې ډېر مجبور دي، بېرته خپل وطن ته ځینه

خپل وطن خپل، پردی د بل وي
راځه چې خپل وطن ته ځو، خوشحال به شوونه

خدایه دیورند په سېلاب یوسې
چې روژه‌ماتی د کابل په اذان شینه

خپله روزي له مور نه غواړي
دیوالیتوب لــه مـهاجر پـوره کـوینـه

خپله مې کړې، ګنهکار یم
ورته حیران یم اوس بې څنګه جوړومه

خدایه ته وینې چې دوې څه کړي
پنجاب تهران تکراروي کافر چمونه

خلکو به وې چې وروولي ده
اوس يې د برید له کرښې دې خوا اړوینه

خپله دې خاوره خپل دې واک دی
راځه چې پرېږدو د پردې وطن عیشونه

خدایه دا یوسوال مو قبول کړه
جنت وطن ته مو راپرېنږدې غمونه

خدای به مو خپل وطن ته بوزي
زموږه کډې پر بادړ ولاړې دینه

خدای دې بېکوره مهاجر کړه
دربانډې رادېشي زموږ په څېر وختونه

خپله مې کړي، ملامت یم
وطن مې وران کړ اوس د نورو احتیاج یمه

خپل کلی کور مې سره تبی شو
د بل په کور کې هم راجوړ شول توفانونه

خپل کار په خپله کوه یاره
پر بل که بار شوې، بیا دې ایسته غورځوینه

## څ:

څله له نورو نه ګیله کړو
خپله مو وران کړل ابادۍ او بنستونه

څوک به پرخپل وطن میئن وي
څوک به د بل لهپاره ژوند قربانوینه

څه چې کوي هغه سم نه دي
ناسم کارونه دې پرزړه ږدي سره داغونه

څنګه دې خوار کړو لویه خدایه
چې ګاونډیان مو د اختیار تمه لرینه

څوک به یې حالاحوال معلوم کړي
چې مې اشنا پنجاب کې څه احوال لرینه

څه ومه، څه شوم لویه خدایه
چې اوس پنجاب تهران ته زېړرنګ ودرېدمه

څنګه ویده شوې بېغمباشه
د برید پرکربنه دې پراته دي خویندې وررونه

## ځ:

ځواب یې راکړ چې ځهوزه
نه د اسلام، نه د ګاونډ لحاظ کوینه

ځان دې هوښيار کړه، پام دې نيسه
د ای‌اس‌ای دام کې چې بند نه شې مېيئنه

ځان چې په پوهه سمبال نه کړې
چې هريو مُلک ته ځې نو وي به کړاوونه

ځان سترې خپل وطن کې ښه دی
نه په پردي وطن کې سترې اندامونه

ځينې نازک لکه ګلاب وي
خو پرديسی ورنه فولاد جوړ کړی‌وينه

ځان ته په خپله داډ په کار دی
مدام به څوک داډه کوي ناهيلي زړونه

ځوانان ايران ته کار ته لاړ شي
يا عملي شي، يا يې اور کې سوځوينه

ځان غولوم چې وطن هېر کړم
چې راپه ياد يې کړمه زړه مې درزوينه

د:

دا بدماشي نه ده نو څه ده
چې شته‌مني مې څوک په زوره خپله کړينه

د کوربنو د ظلم اور نه
کور ته روان شول د کډوالو کاروانونه

د غُرورجام به دې نسکورشي
توره پنجابه دومره مه کوه ظلمونه

د شکايت ځای پيدا نه‌شو
ګاونډ ظالم دی موږه چا ته عرضي شوونه

د چا يې څه چې موږ پرې څه کړو
کونډې زموږ، اوبه زموږ، خپل مو بندونه

د پټولو وخت تېرشوی
برالا وايم چې پنجاب په نښه کړمه

د ايراني ياري ونه‌کړې
يا څه چې وايي هغه کړه، يا دې رټينه

دوستي‌تې هو ويلی نه شم
زموږ کروندو کې يې شيندلي باروتونه

د نوي نسل حال به څه وي
زموږ مغزو کې يې خښ‌کړي دي ماينونه

د مسافرو کډې راغلې
زما د يار کډه وروستی ده، رابه‌شينه

د پنجابي مزدوري پرېږده
خواره دې مورشه چې دې هلته بيا لېږينه

د ايراني مزدوري سخته
يوکال مې وکړه، رنګ مې ځای ته نه راځينه

د پنجابي لاس کې ليپټاپ دی
زما لاسونو کې پراته دي ځنځيرونه

د پنجابي ياري به نه کړې
چې زور پرې راشي، نو يوازې دې پرېږدينه

د چا په کار کې مو کار نه‌شته
ګاونډ دې زموږ چارو کې نه وهي لاسونه

د پنجاب سترګې دې ړندې شي
ماشومان ښځې په تياره کې راشړينه

د جهالت نښې همدا دي
افغان د بل په لمسون خپل ورور قتلوينه

د ايران ظلم به نسکور شي
چې افغانان له کاره باسي او شړينه

د ګاونډيانو دې لاس ځلاص وي
ځواب يې راکړ، نور يې څه پروا لرونه

د ګاوند دې ظلم ته ګوره
پرون يې ورور راته ويل، نن مې شړينه

داسې خو کله انسان نه کړي
چې د کډوالو خولې مړې رالوټوينه

د پنجاب ظلم سودايی کړم
خلک پر ما د ليوني ګمان کوينه

د پیر کمال به دې کمال شی
چې مهاجر له ملیشوو وژغورینه

د مهاجر خواره نصیبه
چې چا ته مخ کړې، هغه تګ راوخېږینه

د بل وطن په مَیرو ورکه
وطن ته راشه ځواني بېرته نه راځینه

د شینکافر ګاونډ له لاسه
ګټې خو لاړې، راروان دي تاوانونه

دوښمن مې لاس وپېښې ترلي
نه ورنه تلای شم، نه مې خوا کې خپل پرېږدینه

دوښمن کمین کې په چل ناست وي
په غوږه ژبه يې شببه کې غولوینه

د بربادۍ ګرنګ ته رسو
اوس هم وختي ده که لږ ځان راپه‌سد کړونه

د ناکردو حساب يې نه شته
چې چېرې بد وو، هغه ټول يې کړي دینه

د ایراني ظالم له لاسه
ژوندون مې تریخ دی، خپل لاس‌مزد نه راکوینه

د پنجابي ظالم له لاسه
کډه‌مې بارشوه، په تیاره کې روان یمه

دوښمنه وسوځې ایرې شې
کومه غیبي سیلی دې ورک کا له مُلکونه

د لوټ پوځونه دې را مرش کړل
نور توان نه لرو، موږ هم له مُلکه ځونه

د ای‌اس‌ای استازي ګرځي
افغانان یوتربل په جنګ اخته کوینه

د ګاونډ زړه کلک دی تر تیګې
پر افغانانو لکه تل کوي ظلمونه

د بربادی پلان جوړېږي
له بې‌عقلی نه ورته خام مواد راوړمه

د افغان کډې بېرته بار شوې
تر بار درندې ستونزې به چېرته چلوینه

د کار د سولې باران وشه
چې پروطن باندې مې راشي بهارونه

د افغان هیلې نه غوړېږي
د افغان هیلې بیا بړلی وهلې دینه

د مسافرو لویه خدایه
چې دا شړل وي، موږ به کوم پلو ته ځونه

د دسایسو وستاکاره
د تباهی بار به دا ستا په غاړه وینه

د یارراتګ ته انتظار یم
جانان مې خپل وطن ته کله راولینه

د سرپناه غمه مې وکړئ
یخ لګېدلی ماشومان چیغې وهینه

د سرپناه او لوږې ویره
ویرې اخیستی، همدا اوس ځان مړ ګڼمه

د پاکستان خاورې نه وزم
دلته سپکېږم په وطن کې مې قدرونه

د وطن پېغلې مزدورې کا
تر دې نه مړ ښه یم چې اورم پېغورونه

د وطن ترخې مې خوراک وای
خوراک مې نه وای د پردي وطن ګلونه

د کډوالۍ غم به مې ورک شي
که د وطن د تګ اواز مې واورېدنه

د هجرت اور مې بدن وسو
که څوک ځان سبځي، زما خوا ته دې راځینه

د سفر زور راته مالوم شو
ایران مې وژني، تُرک مې بیا دیپورټ کوینه

د «ردمرز» خط یې راکړی
لکه کډوال دېوال ته شپې سباکومه

د چا به پلار ورته ټينګ نه شي
دومـره ظلمونـه اتـلان راخملوينـه

د پېغور وړ يو موږ خاونده
چې مو باور پرخپل دوښمن باندې کاونه

د پوهې شپول به ترې چاپېر کړم
چې ځوانان وروزي په سمه خپل نسلونه

دوی په نامه مسلمانان دي
دا بدمرغي شوه چې ايران ته زه راتلمه

د پنجاب ظلم به ترڅو وي
خوار مهاجر ته يې جوړ کړي دوزخونه

د پنجابي تورمخ دې تور شي
چې په ناکړې ګناه خلک زوروينه

د پردي مُلک اختر به څه وي
اختر هغه دی چې واپس وطن ته ځوونه

د کډوالۍ عمر خو تريخ وي
ورسره مل که شي په لاره کې ظلمونه

د سفر سوچ له سر وباسم
يورپ ته تلی نه‌شم ايران مې نه پرېږدينه

د پرديسۍ حال مې مه‌پوښته
پردی وطن، پردی قانون، پردي وختونه

دسیسې ډېرې ظلم ډېر دی
پردي وطن کې به ځان څنګه خلاصوینه

دا وروستی چانس دی غلط نه شي
کـه ورانــول ابــادول دي، خــپـل دې دیـنـه

د ځان عزت که چېرې غواړې
د پاکستان پرلوري مه‌کړې سفرونه

دا خو ترسختو شوله سخته
هره شېبه دې زوروي، بیا دې شړینه

د ځان عزت که چېرې غواړې
نو د ایران له لارې مه‌کړې سفرونه

دریغه چې زه لکه مارغه وای
له سرحدو نـه بـه ببـغـمـه تـېرېـدمـه

دا لنګوټې دې درزندی شي
آخونده خلک غولوې، کوې ظلمونه

دا مورې په‌خپله پرځان کړي
له ناپوهۍ نه مو پرځان ایښي داغونه

د بل له‌پاره جګړه مه‌کړه
د دوی پکې ګټې، د تا وینې تویوینه

د ځان عزت که چېرې غواړې
نو د ایران پر لوري مه کړې سفرونه

دا په ځير ـ ځير چې درته پام کړم
تا کې مې چل او درغلۍ ليدلې دينه

دا خو انصاف نه دی ګاونډه
اشغال مې بولې، کاروې بد ـ بد نومونه

دا به د کوم وطن انصاف وي
چې هم مې وژنې، هم کوې شکايتونه

د تاريخ کوم ځای کې ليکلي
هم مې ورور بولې، هم کوې دښنه کارونه

دا خو افغان دی چې لاټينګ دی
دومــره ظــلــمونــه اتــلان اوبــه کـويـنـه

د هجرت نوم هسې بدنام دی
ايران دوښمن دی پرديسي بانه کوينه

د وطن پانې مې خوراک وای
نه د پردي وطن پولاو او پېغورونه

د مرستې تمه ترې ونه‌کړې
د ګاونډي هدف پيسې دي، لوټ کوينه

د دې ظلمو پايلې به ګورې
خلک يې ګوري، او بيا ليکي تاريخونه

د رسېدو تمه مې نه شته
ايران ترلي تولې لارې سرحدونه

د ایرانیانو دا عادت دی
چې ترشړلړ مخکې خلک لوټوینه

د دوغارون پولې ته راشه
ایران نن څومره مهاجر شړلي دینه

د کونړ سین اوبه راتاو کړئ
بیا به یې ګورې د پنجاب چیغې عذورنه

د اوبو غوړېپ هم وریرېنږدې
اوبه له تیلو برابر مالچه دې وینه

د تا وطن مې پهکار نه دی
خپل ملامت یم چې کولو مې کبرونه

د خپل وطن په ارزښت پوه شئ
په بل وطن کې نه ارزښت شته نه قدرونه

د خپل وطن په قدر پوه شئ
ورک بل وطن کړې چې هرڅه دې په سوال وینه

د برید ترکرښې درسره یم
له کرښې اخوا دې په خدای سپرم میینه

د کړاوونو بارانونه
نر همهغه دی چې په دوو ځان خلاصوینه

د مشرف په خبر به مرشې
چې د کډوالو مو اخیستي ازارونه

د ضياالحق په شان به دود شي
چې د کابل د سوځيدو ګورې خوبونه

د پرديسانو زړه نرى وي
د وطن نوم چې يادوي ژړا ورځينه

د خداى د پاره بهر پربېږده
په خپل وطن کې به پيدا شي څه کارونه

د زړه داغونه به ښکاره کړم
هغه داغونه چې ايران راکړي دينه

د مهاجرو کاروان راغى
زه به پوښتم ورنه چې نور کله راځينه

د مجبوريت ورځې ترخې دي
ګاونډه راديږشي پرتا مجبوريتونه

د سپکاوي ژبه کړه بنده
دغه دى راغلم خپله کډه بارومه

د پنجابي ښامار له خولې نه
هوښيار هغه دى چې ځان ژر ترې خلاصوينه

د پردي مُلک خواري وي سخته
پرمونږ يې تېر کړل د ښاروو په شان وختونه

د جګړې فکر چا درکړى؟
لکه دا ګاونډ اخته کوي دې په جنګونه

د پاکستان استاد انګریز دی
چې د انګریز چمونه کړي، لري دامونه

دغه حالت به پرموړ تېر شي
هېر به مو نه شي د نامردو ځوابونه

د پاکستان اسلام ته ګوره
د ناروغانو لارې بندې وبه‌مرينه

د اخوندانو قُم دې ړنګ شي
يا يې کړل روږدي يا يې وسول په اورونه

د سپين‌بولدک څنډې ته راشه
وروستی دیدن دی، زه وطن ته درنه ځمه

د مليشه ظالم له‌لاسه
په وير اخته يم رانه هېر دي ستا يادونه

دا لوټ‌تالان د مليشوو
له ما نه هېر کړل خاطرات او ټول يادونه

د خپل پوليس ننداره وکړه
يو مې شکوي، بيا سپکوي او بيا شړينه

د وران وطن خبرډې واخله
چې ښوونځي مو سوځول، دا يې حالونه

داسې ظلمونه خو څوک نه کړي
ډېر دې بې‌کوره کړل ازار درته کوينه

د مهاجرو دې خدای مل شي
چې هرخوا مخ کړي، گډووډ يې وي کاروانه

د تيټو سترگو ژوند دې ورک شي
وطن ته ځم هرڅه به وي، خپل مې واکونه

دا دی روان يمه وطن ته
که نور څه نه وو، مزدوري خو به کومه

د پنجابيانو زور اوبه شه
چې پر افغان باندې کوي رنگ ـ رنگ ظلمونه

د ظلم جام به مو نسکور شي
پر افغانانو باندې مه کوئ ظلمونه

د کابل باد، د جنت باد دی
د پاکستان له تناره کابل ته ځمه

دوه گاونډيان مو شنه ماران دي
زمونږ کډوال چې سپکوي، وهي نيشونه

د ايران ظلم بې‌مثال دی
هرځای راگوره، داسې نه‌شته مثالونه

د هجرت بار مې ملا په درد کړه
د ايراني د پېغور بار به څنگه ورمه

د مزدورۍ قول مې کړی
د جاسوسۍ چې راته وايي، زړه مې چوينه

د ژوند مسير به مو لړسم شي
د پنجابي له دامه روغ که ووتونه

د فتنو مور پنجاب تهران کې
بله لار نه شته ځان په تېښته خلاصومه

د وطن غمه نور مې پرېږده
اوس مهاجر يم راله‌غاړې نور غمونه

د سپکېدو څه پاتې نه دي
دوی لا لګيا دي په شرمو، مو شرموينه

د ګډوالۍ غم راله‌غاړې
ته چېرې لاړې پر ميدان ولاړه يمه

د کډوال شپه پر مېږتون ده
سبا يې تګ دی، د وطن په لوري ځينه

د ژوندون بار اسانه وړای شم
د هجرت پيټی خو مې ملا راماتوينه

د پاکي تمه ورنه مه کړه
ککړستان دی، پاکستان يې يادوينه

دا وار که خپل وطن ته لاړم
بيا مې توبه ده پاکستان ته نه راځمه

د راکټو باران دې وشي
چې د تهران هرمانۍ کنډواله شينه

د ګاونډیانو یاري مه‌کړئ
موږ ته رالېږي بربادي او ډېربمونه

دا ګاونډیان دوکانداران دي
چې لاس يې بر شي، په اسلام سودا کوینه

د پنجاب تورمخ دې خدای تور کړي
چې د دوستۍ موټر کې استوي بمونه

د ظلم اور یم کباب کړی
پنجاب دې وسوځی، وجود دې کباب شینه

دغه بچیان مې چې راټول شي
کډې مو باردي، موږ په خپله درنه ځونه

د ګاونډ هرکار د زړه داغ دی
شړل یې زړه باندې راجوړ کړل نورداغونه

د مهاجرو دې خدای مل شي
هم يې وباسي هم يې تش کاندي جیبونه

د وطن غېږه، د مور غېږ ده
چې د مور غېږې ته ورځو څه مو غمونه

د کډوالۍ زور رامالوم دی
جګړې ته نه وایم او ځان ورنه ساتمه

د برید ترکرښې به پټ ناوړم
ایرانی بیا ډزې کوي، ټپي به شمه

د جنګ وبا دې درمیلمه شي
توره پنجابه زه ښېرې درته کومه

د پاکستان ظلم چې ګوري
لار ورنه ورکه د وطن ارمان کوینه

د غره لمن کې رڼا ښکاري
بېکور کډوال دی، هلته شپې سبا کوینه

د ګاونډیانو ظلم دا دی
د مهاجر پرسر میچنې ګرځوینه

د ګاونډیانو غبرګ ظلمونه
یو مو شړي او بل مو هرڅه لوټوینه

دغه دی خپل وطن ته راغلو
لړه سختي زغمو، د خپل واک خو به شونه

د ظلم نوی دود جاري دی
هم دې شړي هم جُرمانې درنه شکوینه

دا یوه لاره ده راپاتې
که غریبي وي که ساړه وطن ته ځمه

د اسلام هسې نوم دی پاتې
ترحم نه شته د انګریز کوي خویون

د بېوطن حال رامالوم دی
که اسناد وي که نه وي ډار ورسره وینه

د خپل وطن په قدر پوه شئ
پردی وطن پر زړه لمبې دربلوينه

د غريبۍ بار به هم يوسم
له خپل وطنه مې دې څوک نهٔ بېلوينه

د نمرود حکم جاري شوی
خلک روان دي وړی نس وهي مزلونه

د هجرت اور يم سوځولی
د وطن باد راباندې لګي، روغ به شمه

د ايراني پوليس له لاسه
پرتوولو دېو مې تغمې ـ تغمې خاپونه

د لېږد رالېږد په بدساعت کې
لارې دي ورکې لاس تر زنې ناسته يمه

د ببرته تګ ناره شوه ګډه
سا مې بنديږي، د خوښۍ احساس کومه

د پردي ملک ژوندونه ناخوښ وي
خوښي به هلته وي چې ببرته کډه شوونه

د ايراني اخوند له لاسه
د زړه پر سر مې سل پولی ولاړې دينه

د څو کلو خواري مې لاړه
پوليس چې غله شي، بيا به چا ته کړو عرضونه

د بل میدان ګټل څه کړمه
د سیاست مېچ مې چې بایلود، ماته شومه

د بل چا مات ګټل به څه کړو
اوس خو مات موږ یو چې له مُلک نه مو شړینه

د ایران هرځای ته چې لاړ شې
یا به دې سوځي، یا اوبو ته غورځوینه

د مهاجر راتلل خوښي ده
ستونزې به وي، خو خلاص به شو له کړاوونه

د پنجابي قاضي تصمیم دی
بس د کډوال په نوم دې هم له مُلک شړینه

د مهاجر دوښمنه غرق شې
چې نور همځولي دې پوښتني ته درځینه

د هجرت بار لکه د غره دی
پر چا دې ورنه شي درانه ـ درانه ویرونه

د هجر شپې د لړم زهر
ښه ده چې وموچیچي، ښنه مو واړوینه

د ملا مه منیه خلکو
ملا غلط دی، مازې خلک زوروینه

د پردیسی داسې ژړا ده

لکه پرتورو غرو چې اوري بارانونه

د ناکردو لړۍ اوږده ده
ايران له خپل ادرسه ډېر بد کړي دينه

د هجرت عمر د کړاو دی
سهار ماښام کې وي دردونه کړاوونه

د بل پر مټ ژوندون ښه نه وي
راځه چې لاړ شو خپل وطن خپل مو واکونه

د جهل ور دې وي تړلی
چې ترې بې‌غمه شو تول عمر ډېر کلونه

د پنجاب کور دې خدای ويجاړ کړي
چې ورانوي د مهاجرو خام کورونه

د ژوندون هرپل ښوونځی دی
په بل وطن کې به پردي وي مکتبونه

د خلکو مخه شوه خپل کور ته
که خدای غوښتل نو به اباد شي وطنونه

د پاکستان ايران لاس يو دی
دوی په يوه خوله افغانان شړلي دينه

ډ:

ډډې مې ډکې له داغو دي
پنجاب تهران تر تولو ډېر ايښي داغونه

ډېر ژر به ړنګ شي پاکستانه
تا کې ازار شول بېګناه ډېر عالمونه

ډکې لارۍ وطن ته راغلې
پهکې سپاره دي مهاجر د دوئ بارونه

ډېروخت شو خوب مې تبنتېدلی
پردی وطن دی ځان مې بد احساسومه

ذ:

ذلیل مې مه ګڼه پنجابه
درنه روان یم، بیا به ونهکړم عذرونه

ذکر کوه او ظلم مه کړه
ذکر اوظلم دواړه خدای نه قبلوینه

ر:

رب دې زما په شان کډوال کړه
درته معلوم شي چې پر موږ څه روان‌دینه

راځئ چې مرستې ته یې ورشو
ښه ورته ځیرشئ چې ګډوال راغلي‌دینه

راځه وطن ته راروان شه
نور زغمی نه شي د پردیو دا ظلمونه

رنګ ته مې ګوره چې تور شوی
هجرت کې اور د ایراني سېځلی یمه

رنګ مې هغه شپېه راتور شو
چې پنجابي تولو ته وې، مور مو شړونه

رامعلومېږي په بایلات یم
کورګی مې وران، بانک کې کنګل شول دولتونه

راپسي مهخانده پنجابه
پر تا بهم راشي دغه ورځې دا حالونه

رب مې دې خپل وطن رانبه کړي
ځو به راګورم کارپسې نور وطنونه

راځه چې خپل وطن ته لاړ شو
پردی وطن دی، ځوک مو کله خپلوینه

راشه زما له زړه خبرشه
چې ایراني راسره کړي څه چمونه

رنګ به یې ورځ تربلې تورشي
د ایراني ظالم مزدور چې سری شینه

رسک دې په قدم کې شتهدی
که د ایران پرلارې وکړې سفرونه

رامعلومېږي هرځه لاړل
ګاوند پردی دی هېڅ صرفه هم نه کوینه

رامعلومېږي، نيول کېږو
چې کوم سرحد دی په کې نهشته څراغونه

راځئ د پلار وطن راخپل کړو
تل ترتل نه وي بل وطن پردي کټونه

رنګ به مې ولې تکتور نه وي
د کابل پېغلې په تورخم کې بندې دينه

ږ:

ږنګ به شئ خوارو زار به پربوزئ
د مهاجرو خوارو ماخلئ ازارونه

ز:

زما د بختستورى ښکاره شو
اواز يې راغی چې ټول ګډ وطن ته ځوونه

زمونږ د کډوالو دې خدای ملشي
دا مليشه ترينه په چل وهي جيبونه

زماجانان له رنګه سپين دی
پاکستاني سره مزدور دی تور به شينه

زما جانان تر کوچو پوست دی
له ايراني سره نوکر دی، ځيږ به شينه

زما په ژوند دې خدای راجوړ که
زخمي وطنه تل دعا درته کومه

زما لا ګوته توره نه وه
د پاکستان رنځونو تورپنجابي کړمه

زه دې ډاله کې وسپځلم
د تناره د سر برغولی شې ایرانه

زړه مې سوری، وینې ترې څاڅي
پنجاب له قهره پرزړګي ویشتلی یمه

زموږه بخت به کوټه نه وي
کوټه مغزو سره هرڅوک تېکرې خورینه

زه اوس هغه پخوانی نه یم
زما زور ـ زر، ټول پنجابي لوټلي دینه

زموږ پر خلکو دې اور بل کړ
پنجابه تا ته به ښه نه شي داچلونه

زموږ په بل وطن کې څه وو
نامردو کلي‌کور کې بل کړل سره‌اورونه

زویکه خپل‌وطن ته راشه
پردی وطن د خلکو قدر کموینه

زه په خوارۍ کې سوی‌سکور شوم
تهران ته ګوره اوس مې کلي نه شړینه

زړه‌چاود هجرت سره تړلي
ځکه وطن ته ډلې، ډلې ځوانان ځینه

زموږ ځواني دې راتباه کړه
د تهران دود باندې برباد شول عالمونه

زړونه‌ی ترکاڼو نه هم کلک دي
پـر ایـرانیـانـو د کافـر ګـمـان راځینـه

زه خپله پټ ګرځمه یاره
ته راته وایي چې اسناد به ځنګه شینه

زما د زړه سلا رانغله
پر ایران نه‌ځم، چې په اور به مې سېځینه

زلمکی زوی ایران بندي کړ
لوږه او تنده په زندان کې تېروینه

زموږ له هیڅچا ګیله نه‌شته
جِهاد مو کړی، اوس یې ګورو ثمرونه

زموږه لاس تورسپي ښتلی
ویزه پاسپورت سره مې هم بنديکوینه

زما جانان ترګل نازک دی
له پنجابي سره نوکر دی تور به شینه

زما جانان مایه کشال دی
بل کار یې نه شته مایې وړي مایې راوړینه

زمونږ کلیوال تول لیوني شول
د خارج شوق پرې لګېدلی اور ته ځینه

زما لالی تر کوچو سپین دی
له ایراني سره نوکر دی تور به شینه

زما ځواني دې راترخه کړه
نیستي دې وسوځي ځوانۍ کې یې زوړ کړمه

زمونږ وروستۍ فیصله دا ده
ګوزاره نهشي اوس جوړه کابل ته ځونه

زه ګانې نهغواړم دلداره
ته بېرته راشه زه دې غواړم دیدنونه

زه داده نه یم اندیواله
که بیا هجرت کړې، ډېر خطر دی او رزکونه

زمونږ وطن خو یې ترې ډک کړ
پاکستاني جاسوسان بلځای نه لېږینه

زما جانان ترکوچو سپین دی
له پنجابي سره نوکر دی تور به شینه

زما جانان ترکوچو سپین دی
له ایراني سره نوکر دی تور به شینه

زما ګاونډ د دوښمن یار دی
ما ته تور مار دی چیچل کاندي په نېشونه

زه درنه لاړمه وطن ته
زما همځولي راپسې دي رابه‌شینه

زړګی مې هله په درزا شو
پر خپله خاوره مې چې کېښوول قدمونه

زړګی مې مات وینې ترې څاڅي
ما په پردي وطن لیدلي بدحالونه

زړګی دې صبر کړه له نورو
ترڅو به غواړې ته د نورو کمکونه

زه په ورتګ کې ځنډنی شوم
چې د ناروغ وطن حالت به څنګه وینه

زموږ قسمت د سالنګ غر دی
پر نورو لمر دئ، پرموږ واورې ورونه

زموږ سلام دې وي پرهغو
چې په سرحد کې له کډوال مرسته کوینه

زړه مې هماغسې غمجن دی
پردی وطن دی سپکاوی او لوټ کوینه

زما کوډله یې کړه ړنګه
څو چې ژوندی یمه بنبرا ورته کومه

زموږه کډې درنه لاړې
راپسې ژاړي ستا د کلي چنارونه

زړه مې د غم قصه‌خانه ده
د پېښنور ډمې دوګړې پکې وهينه

زړه به مو ولې نه خوږېږي
له موږ نه غرونه، غرونه خلک تللي دينه

زما خو رنګ داسې تور نه و
له ايراني سره مزدور وم، تکتور شومه

زما په زړه تناکې وشوې
له خپل محل مې د کډوال په نوم شړينه

زه‌وته چې لاس سره ورنه کړو
راتوکېدلې ستونزې څوک اواروينه

زما که خپل وطن ارام وای
زه به پردي وطن ته ولې اړ کېدمه

زموږ که خلک لږ څه پوه وای
په بل وطن کې به مو نه ورل منتونه

ږ:

ږيره دې خېته باندې توی شه
چې ستا فتوی له خلکو لارې ورکوينه

ژ:

ژوند کې يې غم ليدلی نه و
په پرديسی کې هره ورځ کوي غمونه

ژوند دې په خپل وطن کې خوږ شه
پېرزو مې نشي په تا دومره کړاوونه

س:

سترګې مې تاپسي ړندې شوې
ګرانه وطنه ته مې کور، ته مدفنونه

سر ته به غتّه تيګه کېږدم
پردی وطن دی، پهکې نهشته بالښتونه

سبا روان يم او حيران يم
هرځه مې پاتې دي، له زړه ژړا کومه

سر به بالښت باندې کېنږدم
اول به خپل وطن ځم، بيا خوب کومه

سپينې مانۍ دې کنډوالې شه
زموږ هرځه يې لولپه کړل، ايرې شومه

سترګې وطن لور ته کږې دي
نصيب مې ګوره ترې نه هېڅوک نه راځينه

سپېره به پاتې پاکستان شي
مسافر کډې باروي وطن ته ځينه

سیاستوال که چا رضا کړل
د دوی پولیس خو په پیسو خوله پټوینه

سپوږمۍ منت راباندې مه‌ږده
یار مې تیارو کې د سرحد لارې وهینه

سږنۍکال څه ډول کال دی
مهاجر باسي خدای دې پېښ کاندي خیرونه

سږنۍ کال مې مخ پرځوږ دی
وطن ته ځمه ګوندې سم شي ټول کارونه

سپوږمۍ پر تورو غرو راخېژه
چې د وطن په یاد زه تا ته وژاړمه

سترګې ږندې، پېښې مو شه شلې
چې مو کډوال په نیمو شپو شړلي دینه

سلزر کورونه یې وررنګ کړل
کډوال مجبور دي د وطن پرلوري ځینه

سهو مې وکړه ورته راغلم
د پنجابي چلول به بار پر اوږو وړمه

## ش:

شونډې یې وچې رنګ یې تور دی
احوال راغلی نور دې دلته نه‌پرېږدینه

شونډې مې وچې رنګ مې زېړ دی
احـوال راغلی چې سبـا تــه مــو شـړینـه

شپه‌ورځ مور ـ پلار سترګې پرلارې
زني د بــل چـــا مـــزدوران دي، رابشـیـنـه

شپه ورځ نه ګوري او لوټل کړي
پنجاب تهران سره یو کړي دي لاسونه

شړل، لوټل چې یې راپیل کړل
د زړه پرسر یې راته کېښودل داغونه

شُکُر وباسئ ترې راوزئ
دا مو پرده چې ببرته خپل وطن ته شوونه

شکر هغه ساعت بیا راغی
چې د وطن پر بیرغ وشیندم ګلونه

شونډې مې وچې، وچې کبړې
د کډوالۍ ژوند کې مخ چا ته واړومه

شکایت چا ته وکړو خدایه
د پاکستان ملیشې لار کې لوټ کوینه

شونډې مې ربړدې وارخطا یم
پاکستانی پولیس می کار ته نه پرېږدینه

شونډې دې وچې رنګ دې زېړ دی
راته ښکارېږي چې هرڅه لوټ شوي دینه

شونډې مې وچې بدن وچ دی
مهاجرت دی سترګې چا ته واړومه

ښ:

ښه شو چې بيا وطن ته راغلې
له ايراني پېغور دې ځان بې‌غمه کنه

ښه ده چې خپل‌وطن ته راغلم
په پاکستان کې مې خوړلي کوتکونه

ښه دې غوږ خلاص کړه ايرانيه
که په لاس راغلې، ترګړنګ دې ورځومه

ښه ده چې دغسې راوشول
چې ستا په تمه ګرځېدم وغولېدمه

ښه ده چې تا لرمه خدايه
زړه ته نېږدې خلکو يوازې پرېښودمه

ښه ده چې بيا وطن ته راغلم
د ايراني له «اشغال» خدای بېغمه کړمه

ښه ده چې خپل وطن ته راغلم
پردي وطن کې به پوليسو کشکودمه

## ص:

صبر کاسه مې شوه نسکوره
ګاونډېه لږصبر کوه دغه‌دی ځمه

## ض:

ضرر کډوال ته ورسيږي
تهران پنجاب دونيا ته وايي دوی مو ورونه

## ط:

طالع ته نه ګورمه کار کړم
که کار ونه‌کړم بربادی پر لوري ځمه

## ظ:

ظلم دې نور زغملی نه شم
توره پنجابه نورې کډې باروومه

ظلم پرهرچا باندې شوی
خو پرافغان باندې راځي جوړه ظلمونه

ظلم دې پټ نه دی ښکار شو
لکه بې‌کور کډوال پرداګ دې پرېښودمه

ظلم په هرځای کې ښه نه دی
د ايران ظلم اورنی دی خلک مرينه

ظلم دې وکړ پنجابيه
اخر به جګ شي د مظلومو اوازونه

ظالمه داسې خو څوک نه کړي
چې دې شړلي، خوړ کې شپې سبا کوينه

ع:

عام خلک ښه دي، ښه دې اوسي
د پاکستان ټولواکداران ټګ شوي‌دينه

عمر چې تېر شي، هرڅه هېر شي
هېر به مو نه شي د ايران کړي ظلمونه

عمر مو ټول سرګرداني ده
څه ناپوهي ده، ګاونډيان مو زغلوينه

غ:

غمونه ډير پر تا اوړده شول
هبواده جوړ شې، چې خوشحال دې ووينمه

غله دي ډاکوان دي، خلکه ګورئ
پـاکستاني پـولـيس جيبـونــه لـوټـويـنـــه

غم به له چا سره شريک کړې
چې شاوخوا کې دې پردي وي عالمونه

**ف:**

فرمان دې خپل دفتر کې کېږده
په نيمه پوه شوم ژر مې کډه بارومه

فکر کوم نه رايادېږي
چې د اشنا ديدن مې کله کړى وونه

فکر مې نور هم خرابېږي
چې له ايستلو سره خلک سپکوينه

فتوى دې جيب کې بېرته کښېږده
اوس خلک پوه دي، ته بېدين فتوى بېدينه

**ق:**

قسمت ته مهوايه سپېره دى
کبر مې کړى چې وطن ته احتياج شومه

قدر مو خپله د ځان کم کړ
کور مو خپل وران کړ، اوس پردو ته احتياج شوونه

## ک:

کونړ مې خپل، اوبه مې خپلې
د چا يې څه چې جوړومه پرې بندونه

که په وطن کې حساب راشي
فسادلړلي خېټور به چېرته ځينه

کډوال ماجر و، کوچ يې وکړ
زه پنجابۍ يې تش په دښته پرېښنودمه

کوم پاړوګر به پيدا نهشي
بل ښامار نه دی، موږ ګاونډ چيچلي يونه

کډوال کې نهشته موسکۍ شونډې
ټول عمر کار او احتياج کې تېروينه

کافر مسلم يې مالوم نه دی
پنجاب د ورځې بچې هرڅهشی کوينه

که حقيقت راباندې وايې
د چا ګناه نه، موږه خپل ملامت يونه

که داخل بل وطن ته لاړې
پام دې وي نيسي دې او ببرته دې شړينه

کار کې پيدا او کار کې لوی شوم
د ايراني کار کې وراسته مې شول هډونه

کډواله کبر مه‌کړه راشه
په خپل وطن کې به دې خپل وي اختيارونه

که مرسته کړې، په ژوند يې وکړه
چې بلې نه کړې ډيوې ما ته پرقبرونه

کډوال دې خپل وطن ته راشي
خدای به مو خلاص کړي د ټول عمر احتياتونه

که مو اوبه کړلې راخپلې
د پاکستان د چيغو وابه‌ورئ غږونه

کوم غيبي زور دې درپسې راشي
ظالم ايرانه تا راکړي دي ويرونه

کابل ژوندی دی، کابل خوځي
پر رقيبانو باندې بل دي سره اورونه

کاکړه خدای دې دوزخي کړه
چې پرکډوالو دې بل کړي دي اورونه

کړه‌وړه يې ټول دي د کفارو
د خلکو مخکې د اسلام کوي اکتونه

که کډوالۍ نه راخلاص نه شو
د «مهاجر»، «اشغال» پيغور به ښڼګه شينه

کډوال به راشي خپل وطن ته
پنجابی تور دی او تورمخ به پاتېشينه

که تول لاهور زما په نوم شي
په خپل وطن پسې به وکړم فريادونه

که څوک مې بند په زولنو کړي
ژر به ځان خلاص او برابر وطن ته ځمه

که مهاجر يې يا کډوال يې
ستونزې ګالې بيا دې هم لوړ دې همتونه

که سل کلونه بل ځای تېر کړې
د وطن ياد دې بيا هم زړه ازاروينه

که تول ايران زما په نوم شي
وربه يې نه‌کړم د وطن په خړ ډاګونه

کډوالو ژر راشئ وطن ته
ترڅو به اورئ د پرديو پېغورونه

کاروانه ډېر مې درته وکړل
اوس خو مې پرېږده سبا خپل وطن ته ځمه

که دا ايران جنت، جنت شي
په‌کار مې نه دی دا جنت په منتونه

کسات مې پاتې دی پنجابه
ستا په هرکار کې ډېرپراته دي پساتونه

کرکه له کرکې پيدا کېږي
کرکه دې وکړه، بيا به درشي ځوابونه

**کډوال خو ډلې - ډلې باسئ**
**اخر به جګ شي د ډک زړه جګ اوازونه**

**کاکړ، ککړ شو امر یې وکړ**
**خوار مهاجر نور څه کړی شي، بې صبرونه**

**کډوالي ستونزه مجبوریت دی**
**په هر قدم کې د وطن ارمان درځینه**

**که سل او زر کلونه تېر شي**
**هېر به مې نه شي د هجرت مجبوریتونه**

**که مرور یې باک یې نه‌شته**
**د بېلتانه ناره دې زړه سوری کوینه**

**کاکړ، کاکړ نه دی ککړ دی**
**چې یې په لنډ مهال راجوړ کړل ډېر غمونه**

**کاکړ، کاکړ نه دی ککړ دی**
**چې یې په لنډ مهال ککړ کړل وطنونه**

**کډوالي ویر سره تل مل وي**
**چې څوک کډوال شي تمام عمر ویر کوینه**

**کورونه وران مال یې تالا شو**
**د اسلامي ورولۍ دغه وي حالونه**

**کډې دې یــوســي خفه نه یم**
**په شا دې نه ګوري چې زړه مې پسې چوینه**

که خلک ببرته بيا رانه شي
نـو پـوره کـېږي د پليدو ارمانونه

که مو لاسونه سره ورکړل
نو د پردي وطن احتياج نه به خلاص شونه

کوڅه کې خړې خاورې باد شوې
د مسافرو کډې بار شوې ترې نه ځينه

کډې مې تورو غرو ته لاړې
نور رانه پاتې شول پردي ـ پردي ملکونه

## ګ:

ګوزاره نه کېده وطن کې
حالات خراب شول، د ګاونډ احتياج دې کړمه

ګاونډ وطن راته تالا کړ
لکه رناوړخ کې چې لوټ شي کاروانونه

ګاونډ ظالم دى، ظلم کاندي
زموږ د مجبورو خلکو اخلي ازارونه

ګاونډ قصاب، حلالول کړي
بيا مو بدن په انګارو کبابوينه

ګيلې به چا نه سړى وکړي
موږ ته پردي دي، دوى ته موږ هم پردي به يونه

ګوزران نه شي په ايران كې
اشغال مو بولي راكوي ډېر پېغورونه

ګاونډ كډوال له مُلكه باسي
چې كله راشي، دوی به چېرې اړوينه

ګوره ښېرې به درته وكړي
له مـهـاجـرو سره مه‌كوه ظلـمـونــه

ګناه زما وه كه د ده وه
كه ګناه زما وي، بيا نو زه وغولېدمه

ګوزاره نه‌شي راځه كور ته
اورېدای نه‌شم نور د خلكو پېغورونه

ګاونډ په پای كې وې چې وزئ
كه هرڅه وايو، څوک مو ناوري دليلونه

ګاونډ مو نوی دود جاري كړ
يا جُرماني دی يا ناحقه زندانونه

ګډه مې نن سبا بارېږي
سودا يې مه كړه درروان يمه وطنه

ګناه مو خپله د بل نه ده
وطن مو وران كړ اوس احتياج د بل چا يونه

ګاونډه ژبه به دې پرې كړم
كه دې زما د وطن بد ياد كړيوينه

ګاونډه خدای دې ليونی که
هر مضر کار موږ ته له تاسو نه راځينه

ګيلې له هېچا پهکار نه دي
ګيلې له ځانه چې مو کړي بدکارونه

ګاونډ په هېڅ نه رضا کېږي
په تېنګار وايي همدااوس به دې شړمه

ګلان په خپل وطن کرل شي
ما په پردي وطن کرلي وچ به شينه

ګوره هجرت کې خوښي نه شته
وچه ډوډۍ دې وي، خو خپل وطن دې وينه

ګوزران سخت شولو ايران کې
شړل، شړل دي اوس به خپل وطن ته ځونه

ګاونډيان نه دي، کافران دي
نه دې زارۍ مني، نه عذر قرانونه

ګوزاره خپل وطن کې ښه ده
بل ځای که شاه هم يې، لري به پېغورونه

## ل:

له پردي باغه مو وباسي
خپل باغ کې موږ ته دي جوړشوي دوزخونه

لرې کې مرم، نږدې سوځېږم
افغانستانه زغم د دواړو نه لرمه

له تورپنجاب نه مې زړه تور دی
ټول عمر چل کې وي، کوي تور ـ تور کارونه

له تورپنجابه مې زړه‌تور دی
هم سوی‌سکور دی، هم مې نه‌مني عذرونه

له څو اړخونو دې تباه کړو
تهرانه تاسو به هم بایلۍ عظمتونه

له ما نه پاتې شوې کابله
که څانګې بوټې دې لونګ شي څه‌بې کرمه

له زړه به وینې راجدا شي
که دې د تور پنجاب اسلام ولید میئنه

له سفر بېرته راشه یاره
ټول خوشحالي کړې، زموږ کور کې دې ویرونه

له کډوالۍ بېرته راستون شوم
عمر مې تېر شو سر کې سپین ولګېدنه

له ګاونډیانو ګیله نه‌شي
عزت مو نه کړې دوی جلا کولتور لرینه

له ساده‌ګۍ نه مې ځان خلاص کړ
نور به د بل له‌پاره نه‌کوم جنګونه

له خپل وطنه خو دې ورک کړم
پرتا به راشي بيا همدغسې ساتونه

له ډاره غږ کولای نه‌شم
د برید پرکړښنه کلک ټوخي نيولی يمه

له پرديسۍ سره خواري وي
مزدوري وکړې او درنه‌کړي ستا مزدونه

لرې نږدې کې دې زه نه يم
ډېر ډاډه نه يم په پرديو وطنونه

له لېوالتيا دې داسې ښکاري
لکه چې پلار دې جنګ ټيکه وهلي وينه

لارې يې ټولې کړلې بندې
که وخت يې راغی دوی به ګوري عذابونه

لکه چې بيا ديدن ونه‌شي
که ويزه وي که نه‌وي، نور مې نه پرېږدينه

له کور وتل راته ګران شوي
لارې کوڅې له مليشوو ډکې دينه

له ګاونډيانو ګيله نه شته
د کار شيان مو له يومخ سبځلي دينه

له تسلی نه يې موږ تېر يو
موږ ته دې نه ټومبي له شا هزار تېغونه

له يوې سوړې چيچل کېږو
موږه ناپوه يو بيا همالته لاس وهونه

لکه زما داسې کډوال شې
چې دربنکاره شي د کډوال مجبوريتونه

لارې بيا ډکې، ډکې راغلې
له مجبوريت نه پاس کډوال پرې سپاره دينه

لارې کډوالو نه شوې ډکې
مليشه اوس هم د رشوت کړي سترګکونه

له پاکستانه مې توبه ده
نه مسلمان دي، نه يې سم دي چلندونه

له چنګيزي ظلم نه بد دی
مهاجر ګير کړي په تش لاس يې راشړينه

ليونتوب تور وي او که سپين وي
تېپي بنامار غونډې هر خوا خوله اچوينه

لاس مو تر تيږې لاندې راغی
چې مو په سخته ورځ له خپل مُلک نه شړينه

لوړې پوړی ته ځان ورجګ کړه
په ناپوهی کې درلهغاړې احتياجونه

لاليه مخکې شه لار ګوره
زما ليدلې لارې ټولې بندې دينه

ليونی زړه مې وطن غواړی
لکه د للمې غنم غواړي بارانونه

له کور بهر وتلی نه شم
پنجاب ظالم دی مخامخ مې جېل ته وړينه

له ډاره غږ کولای نه شي
که چا څه ووې، بيا يې ځای وي زندانونه

لار رانه ورکه ده حيران يم
زه په سوران يم، دی مې جيب رالټوينه

له بل وطن نه کور ته راشه
دلته هرڅه شته، نور به نه وي احتياجونه

م:

مسافری نه پهخيرراغلې
نور به بېغم يې د پردو له ستمونه

مسافر ته شوې، خواره زه شوم
تا په پردي وطن کې څه ليدلي دينه

مسلماني ګاونډ کې نهشته
د اور په منځ کې يې يوازې پرېښنودمه

مورې تبنکی دې هېر نهښي
ډډې مې شنې دي، ايراني وهلی يمه

مورې د جوړښت پلان رنګ کړی
ټپي وطن به مو زخمي وفات کوینه

مهاجر سرووینو کې رنګ شي
چې پنجابی یې په ډنډو باندې وهینه

ملیشه نه دي ښاماران دي
چې یوځل راشي پرهرڅه حمله کوینه

مورجانې ستا وې دوعاګانې
چې له سرحد نه په خیریت راواوښتمه

مهاجر ځي نه‌راستنېږي
ورسره شوېدي بې‌شمېره ډېر ظلمونه

مرګی خو حق دی او راځي به
د غُربت مرګ نه دې خدای هرڅوک وساتینه

مورې د غُربت په اور کې سوځو
تهران پنجاب راته سکروټې پوکوینه

مازدیګر دا ناره شوه ګډه:
پنجاب په‌قار دی مهاجر ببرته شړینه

ملیشه باز غوندې تاوېږي
چې لاس یې برشي برالا هم لوټ کوینه

ما ویل چې ټول عمر خوښي ده
هجرت مې ټول وجود ته راوستل غمونه

موږه اختر نه لرو ياره
نه خپلوطن او نه پردي کې ځای لرونه

موږ ترينه خپل وطن ته راغلو
نوروطنوال په موږ پسې دي رابشينه

ما ته کشمير هم په کار نه دی
زما پهکار دي د کابل سپېره ډاګونه

مازديګر هروطن کې خوند کړي
د خپل وطن د مازديګر ببل دي خوندونه

مسافري ځانکندن يودي
په خپل وطن کې وي خوښي او ارامونه

ما په اخلاص ورته کار وکړ
دا پنجابی مې اوس له کلي نه شړينه

موږ او اختر سره پردي يو
کور کې دوډۍ، ماشوم ته نهشته مکتبونه

مسافرۍ مې زړګی شين کړ
بيا د ايران چې سرباری شي پرې ظلمونه

مسافر ته شوې، خواره زه شوم
خواره دې موږ شه چې سفر ته دې لېږينه

مسافرۍ خوږلی راغلي
قربان، قربان دې ترزړو جامو نه شمه

مسافري به هرڅوک مات کړي
بيا د ايران مسافري مل له ظلمونه

مسافري مې زړه نرۍ کړ
بدن مې ويلې شو وچډکې پاتې‌يمه

مسلماني ايران کې نه شته
يا به شيعه يې يا دې دار ته خېژوينه

مسافر بيا وطن ته راغلل
د پاکستان به بيا خوله جينګه پاتې‌شينه

مسافر دېر دی کړېدلی
نه يې ادرس شته، نه کوم کار نه امېدونه

ما درته وې پر دې لار مه‌ځه
ايران دې نيسي، په‌کې شته‌دې دېر رزکونه

موږه ساده جِهاد مو وکړ
له يوې مخې مو سبځل خپل مکتبونه

مسافر خاورو وخوړ خدايه
ماشوم په تمه، پلار به نن‌سبه راځينه

موږ غلامۍ ته نه ويلي
په نه ويل د تورشيطان شوو تربرونه

ميډيا پوه کړم چې ځه‌وزه
که مې دوی باسي سپکاوی ورسره‌وينه

ما نصيحت و ورته کړی
اوس چې ځوانان په سفر ځي ارمان راځينه

مځکه اسمان راباندې يو دي
پلار مې نارغ دی، بېويزې مې نه پرېږدينه

ما ته ترخپله ځانه ګرانه
افغانستانه ژړوي مې ستا يادونه

مسافري ده، خواشيني ده
خدايه پرلوړو غرو مې وکړې نصيبونه

مسافرۍ کې خوښي نه شته
نه به دې ځای وي، نه به کار نه اسنادونه

مورې څه ازار وهلي نه يو
چې د ګاوند درګاه کې تيټ کړو خپل سرونه

مورې يې پردې دونيا نيني کړو
ورپه نصيب دې شي دا سوځند دوزخونه

مليشه وې چې ژر به وزې
خلکو ليلام کړل د کور مال او کمپلونه

مليشه راغی پيسې غواړي
نه منعه کېږي او نه اوري دليلونه

مفتيانو بيا فتواوې ورکړې
چې افغانان دې همدا اوس وطن ته ځينه

ما سره غم په نيمه واخله
مهاجرت پيټی اوږې راخموينه

ملامتي ده رالهغاړې
دا مو حق نه دی چې اوس کړو شکايتونه

موږ خپله کړي، خپل يې ګورو
پرېږده چې راکړې د بېکورو پېغورونه

موږه په تمه د سبا شو
سبا لپاره ګاونډ چل جوړ کړی وينه

موږ د ليلام پر مېز پراته يو
څوک به مو پېري، بيا به کوم پلو ته ځوونه

موږ د پښتو په مخه راغلو
تا پنجابي کړه، له وطن دې ويستمه

ما وې چې توکې دي عالمه
د جانان کډه په ريښتيا بېرته راځينه

مرسته زړهسوی خلکو هېر کړی
ښه خو به دا وي پرچا ونه ترلو زړونه

مليشه نه، خرورې سپي دي
هرڅه لوټي، د لارې خرڅ نه ورپرېږدينه

## ن:

ناپوهی خیر ته کښېنولم
په ګدايي کې مې تباه شول ځونسلونه

نه‌جوړېدونکيه سرطانه
وپاکستانه موړ دې هم ليوني کړونه

نور دې تورونه زغمی نه شم
بهتره دا ده چې وطن ته کډه شوونه

نور ناروا زغملی نه شو
په توره شپه کې يو روان او درنه ځونه

نه مو دا خپل وطن روزي شو
نه مو پردي مُلک کې ارام ته ځوک پرېږدينه

نور سفر نه کوم دارېږم
د ايران لارو کې د مرګ شته خطرونه

نه ښځې ګوري نه ماشوم ته
چې په مخ ورشي، زندانو ته يې لېږينه

نن خو دې وکړل، هېر دې نه‌شي
ناځوان ګاونډه بيا به نه کوې عذرونه

نظامي زور دې تا برباد کړي
اسلاماباده چې دې کړي دي ظلمونه

نن زما وار، سبا به ستا وي
پنجابه وکړه بيا اخله خپل فصلونه

نړۍ په بد ډول پوه شوې
چې نوم مې اوري، د ترهګر کړي ګمانونه

ناپوه بدمرغه يم جانانه
اوږه زما ده ټوپک نور پرې باروينه

نن خوار مفلس وطن ته راغلم
ستونزې به ګالم، ځان احتياج نه خلاصومه

نور خو مې هېڅشی په‌کار نه دي
ما ته د خپل وطن لاربنيه چې ورځمه

نور به بهر ته زړه ښه نه‌کړم
چې د ګاونډ مې دا ظلمونه په ياد وينه

نن هماغه کانه راوشوه
زه مسافر ايران مې بېرته راشړينه

نورې د هيچا کډې نه ځي
دا يو افغان دی کډې ښکته پورته وړينه

نه به انځر د ورځې ګل شی
نه به افغان زړګی له غمه خالي شينه

نوی راغلی بل وطن نه
وربانډې شوې ناروا او ستمونه

ڼ:

نرۍ به ګوري، موږ به ښنه شو
د ګاونـډيـانـو جـفـا تـل د زړه داغـونـه

و:

ودېويشتم، په ياد يې ساته
چې لاس مې برشي، بيا به درکړم ځوابونه

وطنه هڅې خو مې وکړې
د رغېدو په هيله زه هم زهيرشومه

وطن دې ما وران کړی نهدی
خوشې پرما باندې ته مهږده تُهمتونه

وطنه تا پسې کرېږم
پردي وطن کې د چا نهشته عزتونه

وخت به شی تير تاريخ به پاتې
د ګاونډي نادودې کله هيرونه

ودې ځپلو پنجابيه
چې دا مې ياد وي، نور دې مُلک ته نه راځونه

وخودېکړل، چې هېر دې نهشي
پنجابه حد نه دې وتلي دي ظلمونه

وهل دې پربـړده پنجابيه
د مسافرو کډې باردې درنـه‌ځينه

وطن او يار دواړه خواږه دي
اوس ترخه شوي د ځوانانو کړي قتلونه

وطن د ښکلوګلو باغ دی
ما کبرجنې ورته شاکړه، ترينه ځمه

وطنه ستا مينې کافر کړم
قبله په بله سجده ستا په لور کومه

وطن کې يار دی او هرڅه دي
بخت مې خوار شوی په کې نه‌شته نصيبونه

وطن ته ستا لـه‌پاره راغلم
چې ستا د حسن دوران تېر نـه‌شی ميئنه

وخت يې راغلی ناچاري ده
اوس خدای راوستې چې منت د ګاونډ وړونه

وار خطا نه کړې د زړه‌سره
تر بارډر وړاندې درته زه ولاړه يمه

وخت د ځوانی مې نيمه‌خوا شو
يار ايراني سره بندي دی، نه راځينه

ولې به زه شکايت نه کړم
ځواني همدا ده په هجرت يې تېرومه

وطن پردیو راته وران کړ
په ناپوهۍ پر نورو مهکړۍ باوروونه

وطن ته ځم دا مې وعده ده
بیا به یاد نه کړم د پردیو جنتونه

وطن ته ځم، وطن کې اوسم
بیا به ونهوزم که څه ډېر وي زحمتونه

وطن مې هرهورځ يادېږي
بېوطنۍ مې ځب، ځب کړي دي هډونه

ونه زړه، ګلان یې ځوان دي
زموږ وطن هم زوړ تاریخ، ځوان یې غمونه

وس مې په هېچا نه رسېږي
ظلم پرځان باندې کوم، بدرنګه شومه

وخت د ځوانۍ هجرت کې تېر شو
له دردو ډک شوم، اوس به کړوپ وطن ته ځمه

وطن ارام جګړه شي ختمه
بیا د پردیو د کار څه پروا لرمه

وطنه غم دې دومره زوړ کړم
لکه زړه لته سوري مې اندامونه

وخت به یې راشي لرې نه ده
چې بېوطن شي، دوی محتاج نورو ته شینه

ولسه خدای دې را پر ځای کړه
چې د پنجاب له احتیاجه راخلاص شونه

وطن دې خپل و، ورته لاړې
خوار پېښور دې لکه مور ژړا کوینه

وطن چې کله را په یاد شي
سرپه زنګون شمه په چیغو وژاړمه

وطنه زیری مې درباندې
چې مسافر بچیان دې غېږې ته راځینه

وطن ته تګ به لږستونزمن وي
ستونزې به ګالو چې نور نه وي احتیاجونه

وطن ته لاړ شه چې رڼا شي
ترخو به ژاړې په هجرت او تورتمونه

وطن ته تګ لوی امتحان دی
خدای دې اسان کړي دغه سخت امتحانونه

هـ:

هرڅه مې خپل وو، ترینه لاړم
کبر مې کړی، اوس کچکول پرغاړه ورمه

هلکه بیا وطن ته راشه
چې روپۍ نه‌وي، خیر دی زه یې درکومه

همداوس تورسيرلی حلال کړئ
ستاسو خپلوان له پاکستان بېرته راځينه

هجرت د زړه پرسر سوری کړم
په ژوندانه به مې روغ نه شي پرهرونه

هجرت دې قدر رامالوم کړ
چې بېرته درشمه سجدې به درته کړمه

هرچېرې ځم، ووزه غږ اورم
زه د وطن په تمه ګرځم، مړ به شمه

هغه ساعت به کله راشي
چې مهاجر مو تول راوزي له جيلونه

هلته نور نه‌اوسېږم خلکه
چې په اوبو مې ډوبوي، په اور سېځينه

هرڅوک د خپلو ګټو يار دی
يو افغانان دي چې وړيا توري وهينه

همدا مې کړي، دا به ګورم
د بم چولو نه چې نه کرارېدمه

هجر مو زړونه راسوري کړل
دا سوري زړونه به اوس چېرته رغوونه

هره ورځ نوې ستونزې زېږي
د پنجابي مانۍ شه رنګه، ستې يې کړونه

هره ورځ نوی وير توکېږي
پر مورې غمبږي هم سهار هم ماښامونه

هغه ساعت هم دا دی راغی
چې په تورخم کې کډې وړاندېوروسته ځینه

هندوان دغواوو غوښې نه خوري
پاکستانی ګاونډ زموږه غوښې خورينه

هر ايرانی چې لږ غصه شي
بل څه ترې هېر شي، د اشغال کوي غږونه

هسې په رنګ باندې تازه يم
په زړه غمجن د مليشه له لاسه يمه

های مهاجرو تاسې مه‌ځئ
مورې ته به ښوک کوي ادا دېردرانه کارونه

هجرت د خلکو د خندا کړو
ښه خو به دا وي چې نور خپل وطن ته ځونه

هرچېرې لاړ شو کورګی جوړ کړو
ظالم خندا کړي، بولدوزر يې ورانوينه

هرخوا ته ظلم تباهي ده
دوی دې تباه شي، ښوک چې مورې تباه کوينه

هرڅه يې رنګ کور يې تباه شه
چې يې راوراني کړې کوډلې او کورونه

هجرت خو بيا سره جلا کړو
خدای مهربان دی ګونډې وشي ديدنونه

هم بې‌وطن يم هم بې‌کوره
ما خو سبځلي په خپل لاس خپل مکتبونه

هک‌پک حيران شومه عالمه
چې د وطن د تګ اواز مې واورېدنه

هرڅه د خپل وطن مزه کا
په بل وطن کې د چا نه شته دي عزتونه

هلته بولدک باندې راواوړه
دا نورې لارې پنجابي نيولې دينه

هلته بنديز، دلته بنديز دی
لاره مې ورکه ده پر کوم خوا مخه کړمه

هم مې بنکنځي، هم مې وباسي
د اخوند نسل مې له هراړخ زورويـنه

هرچا ته خپل وطن کشمير کړي
پر ما کشمير کړي د کابل سپېره ډاګونه

هجرت غمو وخواړه خلک
د بدمرغيو يې نور نه شته سرحدونه

ی:

یو دې غریب پیدا کړم خدایه
بل دې پردیس‌کړم چې اوس ګالم احتیاجونه

یاره درځه چې ځو وطن ته
چې راته جوړ نه‌شي تردې ډېرپېغورونه

یو مې دونیا نه زړګی تور دی
بل مې پنجاب هرڅه اخیستي، ما شړینه

یارانو ځئ چې کډه بار کړو
ایران شله دی موږ په زور له مُلک شړینه

یو زخم نه دی چې به جوړ شي
ما د ایران دُرې خوړلي مړ به شمه

یوازې خدای به پرې خبر وي
چې په ایران کې پرچا، چا وکړل ظلمونه

یا به یو زه تم کېدای نه‌شم
یا د ایران له ظلمه تښتي عالمونه

یو دې غریب پیدا کړم خدایه
بل د ایران دې راپه برخه کړل ظلمونه

یو مزدورۍ کې سوی‌سکور شوم
بل ایرانی مې زوروی کوي ظلمونه

يو ځلې ټول هرڅه ته نه کړئ
له پاکستانه چې راغلي وي مالونه

يار يې کډوال و، ببرته راغی
ليلا مخ پټ کړ، ويلې نه دې پېژنمه

يار ته مې شپې ورځې شمېرمه
پاکستانيانو بندي کړی، نه راځينه

يو پټ قانون دی په ايران کې
يا يې منه، يا دې په نشت حسابوينه

يارانو دا ښنګه افغان دی
چې د پردو په جاسوسۍ فخرکوينه

يا به قيامت پر ټول جهان وي
يا به يوازې په افغان پسې ورځينه

يوازې مونږ زغم ته پيدا يو
د ټول جهان ظلمونه زمونږ په نصيب دينه

په خلکو خپل وطن ته راشئ
مځکه مو خپله، کور مو خپل، خپل مو واکونه

# د ليکوال ژوندليک



نوښتګر شاعر، ليکوال، ژباړونکی، فولکلورپوه او فرهنګي شخصيت، پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷ زيږدي کال د دسمبر په ۲۳مه نېټه، د کابل چهاردهي د شکرالله خان کلي په يوه روښانه کورنۍ کې سترګې وغړولې. لومړۍ زدکړې يې د کابل په علاءالدين تجربوي ښوونځي او منځنۍ هغه يې په محمود طرزي ليسه کې بشپړې کړې. دولسم ټولګی يې په ميدانښار کې د نرخ په لېسه کې پای ته ورساوه.

استاد بهاند په ۱۳۵۵ لمريز کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي ته بريالی او په ۱۳۵۸ لمريز کې يې دغه پوهنځي پای ته ورساوه. يوه موده د کابل په روښان دارالمعلمين کې استاد و. په ۱۳۶۰ لمريز کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي په علمي کادر کې ومنل شو. استاد بهاند په ۱۳۶۶ لمريز کې د اروابناد استاد کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي تر لارښوونې لاندې خپله ماستري بشپړه کړه.

استاد بهاند په ۱۳۵۶ کال کې شاعرۍ ته مخه کړه، په ازاد – نوي پښتو شعر کې یې بریالۍ تجربې وکړې او په شلمه پېړۍ کې د ازادې پښتو شاعرۍ د دویم پښت له مخکښه شاعرانو څخه دی، چې د ازادې شاعرۍ تر څنګ یې د غزلونو او بوللو په لیکلو دودیز قالبونه هم پاللي دي.

استاد بهاند د شعر لیکلو ترڅنګ په څېړنه، کوچنیانو ادبیاتو، او پوهنتوني درسي کتابونو په کښلو کې یاد نوم دی او د یوه پیاوړي رسنوال په توګه هم پېژندل کیږي.

د استاد بهاند کتابونه، څېړنې، مقالې او رسالې په هېواد کې دننه او بهر د ځینو ادبي جایزو په ورکړه ستایل شوې دي.

استاد هاغه مهال د کوچنیانو د ادبیاتو د تیوري او لیکنې لپاره هڅې کړي، چې په افغانستان کې په دې برخه کې ډېرو کمو لیکوالو کار کاوه.

استاد د شپېتمې لسیزې په اوږدو کې څو کاله د کابل پوهنتون د معتبرې علمي – اکاډمیکې مجلې (اجتماعي علوم) مرستیال و.

همدا راز د راډیو افغانستان د روزنې ادارې د علمي پروګرام «موږ او اوربېدونکي» د لیکوال په توګه د رسنیز کار تجربه هم لري.

استاد آصف بهاند د دافغانستان د لیکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی، په مسکو کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې منشي او د دغې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مسئول پاتې شوی دی.

اروپا ته تر راتللو روسته یې په سویډن کې د مېشتو افغانانو د فرهنګي ټولنې په ګڼو سیمینارونو کې لکچرونه او ویناوې وړاندې کړې دي.

استاد بهاند د مورنۍ ژبې پر ارزښت او په زدکړو کې د مورنۍ ژبې د ونډې په اړه ګڼې ليکنې او ويناوې لري، چې دغې مهمې مسئلې ته له علمي پلوه د پام او هڅو په لومړي کتار کې ولاړ دی.

استاد چې پخپله د کوچنيانو د ادبياتو پنځوونکی و، د مهاجرت د تجربې او پيداګوژيکې پوهنې پر بنسټ په دې ډېر ښه پوهېده، چې کډوال ماشومان څنګه په نوي ژوندچاپېريال کې له فرهنګي ستونزو سره مخ کيږي. د کوربه ژبو د زدکړو ترڅنګ د مورنۍ ژبې او خپل ملي فرهنګ د ساتنې په برخه کې د استاد نظريات، ويناوې او ليکنې ګڼې او مهمې دي. استاد بهاند په دغو موضوعاتو کې د سويډن په ستاکهولم، يوتيبوري او مالمو ښارونو کې لکچرونه او ويناوې لرلې دي.

استاد بهاند د پښتو فولکلور په تېره بيا لنډيو په برخه کې هم ځانګړې مطالعه او په زړه پورې څېړنې لري. په دې برخه کې د هغوی يو اساسي کار د پښتو لنډيو د راټولولو په څرنګوالي، ربړو او ستونزو څېړنه ده. که په راټلونکي کې ځوانان په دې برخه کې څېړنه و راټولونه کوي، د استاد بهاند دغه ليکنه د يوه لارښود په توګه ورپه کاريږي.

استاد بهاند د افغان – جرمن پر ليکه رسنۍ له فعالو ليکوالو او چلوونکيو څخه دی، چې د دغې مشهورې او مهمې پرليکه رسنۍ لويه برخه ترتيب و تنظيم و خپراوی له کلونو راهيسې پرمخ وړي. استاد د افغانستان په لوی قاموس (قاموس کبير افغانستان) کې هم ځانګړې پامور ونډه لري، چې د دغه افغاني مهم پرليکه پوهنغونډ لويه برخه يې د زيار ثمر دی.

استاد آصف بهاند د خپل فرهنګي خلاق ژوند په اوږدو کې لاندې علمي – ادبي اثار پنځولي دي:

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخیيل مسأ له (د پوهندويۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دويم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (کستـتـنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، درېيم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبياتو د لرغونې دورې منظوم متون، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبياتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو څانګې درسي کتاب (کستـتـنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دویمه درجه مطبوعاتي جایزه یې ګټلې ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا خپره شوی ده،

۱۳ ـ لارورکي لارویان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې خپور کړی دی او دویم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندویې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وړه ښاپیرۍ او نه (۹) نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ثبتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ــ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ــ د باران سیوری (د شعرونو ټولگه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې ده،

۱۹ ــ د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولگه)، د ۲۰۱۹ کال په فبرورۍ میاشت کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۰ ــ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۹ کال په می میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۲۱ ــ د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه (د مقالو ټولگه) د ۲۰۱۹ م کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۲ ــ د ډنمارکي فرهنگ څو غوره ببلگې (د ډنمارک او ډنمارکیانو په باب د مقالو ټولګه)، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جنورۍ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۳ ــ یو ځل مې د لاس ورغوی وگوره! (شعري ټولگه)، د ۲۰۲۰ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۴ ــ ژوندي یادونه، لومړی ټوک،د ۲۰۲۰ م کال په اپریل میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۵ ــ د تللو یادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۲۶ ـ راشه! چې سترګې مې له مځکې نه راټولې کړمه، (څلورمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۷ ـ بښځګلې، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ کال په نومبر میاشت کې په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۸ ـ مورې مننه چې ویده دې کړمه (پنځمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۱ کال په مارچ میاشت کې په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۹ ـ مورنۍ ژبه، تعلیمي نصاب او څو نورې مقالې، دا کتاب د ۲۰۲۱ کال اپریل میاشت کې په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۳۰ ـ یو څراغ (د استاد شریف بهاند ژوند، علمي ـ فرهنګي هڅې او مړینه)، دا اثر د ۲۰۲۱ ام کال د جولای پر ۱۷ مه نېټه د استاد شریف بهاند د لسم تلین د درناوي په پار انلاین شوی دی.

۳۱ ـ د نوي نسل روزنه او زموږ دریځ، دا کتاب د ۲۰۲۱ ام کال په جون میاشت کې، په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۳۲ ـ کوروناییي لنډۍ (د کوروناییي لنډیو لومړنۍ ټولګه)، مقدمه، توضیحات او راټولونه: آصف بهاند، دا کتاب د ۲۰۲۲ کال په جولای میاشت کې په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۳۳ ـ د تللو یادونه، دویم ټوک، د ۲۰۲۲ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۳۴ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي ځونامي، د ۲۰۲۲ م کال په اپریل میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۵ ـ ژوندي یادونه، دویم ټوک، د ۲۰۲۳ م کال په فبرورۍ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۶ ـ ښـځـګـلـې، دویم ټوک د ۲۰۲۳ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۷ ـ د نجونو د تعلیم مخنیوي تاریخي مسؤلیت چا ته ورله غاړې دی؟ د ۲۰۲۳ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۸ ـ د لنډیو پرتېر باندې د کډوالۍ انځور (د لندیو ټولګه)، همدا اثر.

چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:

ـ د شعرونو دوې ټولګې،

ـ او درې عنوانه څېړنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال په ډنمارک کې ژوند کوي او په منظمه توګه د فرهنګي هڅو په لړ کې په څېړنه، لیکنه او شعر پنځونه بوخت دی.

څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال